# د شنو گټو قاضي

## پوليسي ناول

ليکوال: رحيم الله بشارت

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی څپرکی:**

## اتینــا په شیـګل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکۍ څارنــواله اتینا د شیگل  ولسوالۍ دختـینې کلا پـه یـوې خــونې کـې د یــوزاړه مـېزترشاکــښـېناســته . پـه خــونې  یـې یـو ځغـلنده نظـــر تـېـر کړ، د ېـوالونو تــه یـې وکــتل چې ځـای، ځـای تــر ې لــېو( کـاګل) رانړېدلی و، برگـو تـه یـې مخ پـورته کـړ.دنښــترلوی بش ته یـې لـه یــوه سره تـربل ســره وکـتل لـه سوربـخنـو ویښــتویــې تــور زړوکــی وښـوېیـداودبرگـوپـه شمـېرلـویــې پیــل وکړ.اتیــنا مــې ټــولګــیوالــه وه، اوکـه پټه یـې نـه کـړم ډېـره را باندې گرانه وه. چې کلـه بـه مــې هــم ورله عکــسونه اخیــستل یـو ځـل بـه مې ورتـه ویــل پـورتـه وگـــوره، وبـه یــې خندل، لېونیـه! بیاخـودمـړې غـوندې ښـکارم" خـو مـا بـه تـل پـدې رضا کـولـه چې پـه لـسو انځورونوکې یـو اځـې پـه یـوه کې پـورته وگــوره .او چې کـله بـه تصـویـرونه راغــلل همـدغــه تصـویـر تــه بــه یـــې پـــه ځـیر،ځیروکـتل بـیابـه راتـه شـوخـه غـونـدې مسکۍ شـوه وبـه یې ویل "درته وایم چې سر سـام یـې پـه سـد نـه یـې خــو نـه یــې منې پــدې کې نـو ستا څـه خوښېږي؟"او ما هم ورته هیڅکله دوه ځله یودلیل نه و ویلی . کـله بـه مـې ورتــه ویـل غـونـډه ،منډه زنـه دې خـونـدکـوي . کــله بــه مــې ورتـه ویـل چې وگـوره داسې ښکارې لکه په خواړه خو ب ویـده-

کله بـه مې ورتــه ویـل چې کـومه ښځه لوړه پـوزه لـري تـجربـه داده چې همـداسـې یـې ښـایسـت ښـه ځــلـېږي.پـدې بـه راتــه داهــم موســکۍ شـوه،دحـیاسـره بـه یـې سپـینو اننـگو تـه راټـول شـول او ځـان بـه یـې غلی کـړ.رښـتـیا هـم چې دښځو مخ ته له لاندې نه پورته ورگورې ډېرې ښکلې ښکاري.دنارینووگناهگارفکرونه راپاروي.اویا به داوي چې مونږ په لویه کې ښځوته مخامخ ورگورواودانسان زړه له تکراري شیانو مړېږي. نوی والی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي او د لاندې نه ښځوته کتل به يو ډول نوی والی وي. پدې هکله دبرياليي په خبره کې هم يو څه وزن شته چې خدای وهلي ويل ښځې خدای جوړې کړې داسې دي ، ښايست يې هغه وخت منګولې لګوي چې هغه پرته وي ، ته يې پښوته ناست يې او وړی،وړی ورګورې.

نن چې يې هم پورته وکتل هغه ټول خيالونه او انځورونه مې يو په يو په ذهن کې لکه د فلم پرده راواوښتل.دهغې هم فکرشود غټو،غټوبڼورو زرزو سترګوپه کونج کې يې راته وکتل . مسکی شوه ، پدې کې د شيګل ځارنوال يوه دوسيه راوړه او دهغې مخې ته يې کېښوده.

"صيب ! داتاسو وګورئ ، داددغې قضيې دوسيه ده" د شيګل ځارنوال د لوړ قد،مناسب اندام غنم رنګی سړی و. پکول يې د تندي تر نيمې راکوزکړی و. لويې ږيرې يې د لوی بدن سره عجب ډول کاوه .

اتينا ترې وپوښتل له څوکسانو موپوښتنې کړي ؟

ځارنوال په ډاډ،اوپه ارام وويل "له پنځوو"

اتينا ددوسيې د يوه بيان په لوستلو پيل وکړ.

اتينا کرد توکمه ترکۍ وه .او همدغه د ترکيې اوعراق کردان دي چې په ټوله نړۍ کې يې دښايست کيسې خپرې دي. زه چې دمجاهدينو د حکومت په پيل کې د خالص ملا په سپارښتنه چې هغه وخت يې دپوهنې وزارت په پچه ختلی و، په "چانس" د ترکيې داستنبول پوهنتون ته لاړم . اتينا مې (Desk fellow)يامېزوالـه شوه يوه مېزته ورسره کښېناستم اوچې په هماغې لومړۍ ورځ مې وليده خدای را باندې دومره ګرانه کړه چې له پوهنتون نه تروتلو پورې مې ورته دومره پښتوور زده کړه لکه ماته چې زده وه . له پوهنتون څخه وروسته مو په يوه شرکت کې کارکاوه .اتينا د قضايي چارو مشره او زه يې مرستيال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووم.شپږکاله په پوهنتون کې سره يوځای وواوښلورکاله په شرکت کې، پدغولسوکلونوکې نژدې دوستان پاتې شو.اوددغې دوستۍ په برکت هغې دپښتواو پښتنو سره دومره مينه پيداکړه چې دڅو،څوساعتونو په اوږدومې دپښتوادب اوکلتورپه لوستلوليده اوزه پرې له ورايه پوهېدم چې په پښتوکې يې په ماپښه راړولې ده. دوه مياشتې مخکې هغې په استنبول کې خپله دنده پرېښوده اودخپل فوځ سره يې تړون وکړ چې دحقوقي اوقضايي چارودسلاکارې په توګه ورسره افغانستان ته راشي.موخه يې داوه چې پښتانه ووينې، هغه خلك ووينې چې دهغوی ژبه يې له هغوی نه هم ښه زده ده. د پښتنو سيمه ، دودونه او دستورونه ووينې. ځکه چې پښتويې زده ده خو له ما اودوه نورو انجينرانو پرته چې هغوی هم همدغه پوهنتون ته دزده کړو دپاره راغلي وواودلته يې له ترکيو جينکوسره ودونه کړي وو. نور هيڅوك نه پېژندل. د ژبې د ښې زده کړې لپاره هم د هغې ژبې دويونکو دژوند او دودونو نه خبرېدل ضروري دي، ځکه چې د ژبو ډېره زېرمه کلتوري ريښې لري او که له کلتور او دود نه څوك خبرنه وي د هغو کليمو په مانابه سم ډول نشي پوهېدای. ما هغې ته د خپلو دودونو په هکله خبرې کړې وې يانې چې ودونه څه ډول کوو. ډېروختونه داسې وي چې جينۍ مو په سترګونه وي ليدلې ، يواځې موراويا دکورېلې مشرې ښځې ليدلې وي اوهغې يې هم راته دومره صيپتونه کړي وي چې په فکر کې بيا ښاپېرۍ راولو، او په ګل درو او ګل کڅونو کې ورسره پټ،پټوني کوو. ان تردې چې له کوژدن وروسته هم خپله کوژمنه يانشو ليدای او يايې د ځينو سيمو خلك په ښکاره نشي ليدای . خو د شپې ورسره غاړه غړۍ وي او بيا ترې په چربانګ د غل غوندې تښتي ، پدې کې رانه اتينا پو ښتنه کړې وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تښتي نو ولې؟" ماورته ويلي وو چې که د جينۍ پلاراو ورونه يې ووينې نو خپه کېږي او کېدای شي لا وه يې ډبوي. هغې له لږ فکروروسته وويل: "تاماته ويلي ووچې ستا سو کورونه دومره ډېرې کوټې نه لري چې هرهلك او هره جينۍ په بېله ،بېله کوټه کې ويده شي نو خامخا به جينۍ يادموراو پلاراو يا د نورو خويندو ورونو سره په يو ه کوټه کې ويدېږي.او که جينۍ په نورو شپو دورونو او پلار تر سترگو لاندې وي او په دغه شپه ترې ورکه شي. نوولې هغوی نه پوهېږي چې د خپل کوژمن په غېږکې به پرته وي ځکه چې هغوي خو به هم د خپلو ښځو غېږو ته دغه شان په پټه ورغلي وي ،له هغه وخته به تجربه لري"

ماورته وخندل:

- دومره پسې نو سر هم نه گرځوي

هغې داچاره يو ډول ريا غوندې گڼله چې که په سترگويې ووينۍ خولَوَږ،اوکوتك راخلئ او که عقل مو درته ووايي سترگې پرې پټوئ.اوما بياحيا گڼله يواځې دواده او کوژدن دود،نه و چې اتينا ته عجيب او په زړه پورې و. جرگې ، مرکې،دهغو پرېکړې ،ترې ،نرخونه، اخترونه، زېري ورکول او ډېر داسې څه وو چې هغه يې مجبوره کړه له خپل وسله وال فوځ سره د قضايي اوحقوقي سلاکارې په ډول افغانستان ته راشي او دلته بيا د يوې قضيې پلټنه په غاړه واخلي. قضيه د مرگونو وه.دوه سوداگر چاوژلي وو.او مرگونه هم د بر شيگل په پاس سر، سمه لام کې شوي وو .

رښتياپدې دنياکې داسې ډېرې کمې خبرې شته چې ټاکلې کره اونه بدلېدونکې وي څرنگه چې کاينات دتغيراوبدلون په حال کې دي همدغسې ددې نړۍ هرڅه په بدلېږي او يابدلېدی شي.او بيا زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښوونکي سلطان کسين خبره دقضيې دڅېړلوپه وخت کله هم دافکرمه کوئ چې په کوم ځای کې مړی موندل شوی وژنه به هم همدغلته نژدې شوې وي مړی دمجرم دتاراوټیلګرام دپیغام کاغذدی.ډېر مجرمان دمړوپه مټ خپل پیغامونه رسوي. نوتل دمړودپیداکېدوځای.دوژل کېدوځای،په هغودخورو څادرونو او ټوټو،او دمړو لاسونو ،پښو او دهغوی دپرېوتو ډول ته په کلکه ګورئ او فکرکوئ کېدای شي پدغو ټولو کې مجرمان تاسوته پیغامونه درکول غواړي او دغه پیغامونه ستاسو سره مر سته کوي چې هغوی ته مو ورسوي. نو د سلطان کسين لارښوونو ته په کتوداخبره به سمه نه وي که سړی وواېي چې قتلونه په سمه لام کې شوي وو. ځکه چې یواځې مړي په سمه لام کې موندل شوي و او لا په سمه لام کې هم نه دخوړکلي او سمه لام تر منځ دبنګېرې دکمرلاندې په یوه سمڅ کې موندل شوي وو. کیسه تر عامو خلکو داسې رسېدلې وه چې یو ې ښځې بزې ساتلې. بزې دکلي نه په لر غوندې واټن کې پراته تنګي کې څرېدې د تنګي په مینځ کې دوچ خوړ په بڼه دباراني او بو د بهېدولاروه، بزې چې خوړته ورسېدې په یو ځای راغوندې شوې لکه له ځانه چې شپول جوړوي. ښځه چې ورورسېده وې لیدل چې یوتوربوټ یو، خړپکول،څادراووینې پرتې دي.

ویوهېده چې دلته وژنه شوې، لاړه او کلی یې له کیسې خبرکړ.دکلي خلك چې راغلل د پکول او بوټ له ځای نه یې منډ واخیست . چې د خوړ اوګټو د نورو منډونو غو ندې ګران منډ هم نه و، ځکه چې ښکاره سړی پوهېده چې له دې ځایه څوك راښکل شوي دي منډ تر یوې سمڅې ورسېد، چې خلك سمڅې ته ورننوتل دوه مړي چې شین څادر پرې خورو ولیدل.دمړو د پټولو هڅه شوې وه ، په سمڅه کې شګې وې او په شګوکې نژدې پټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل شوي و. خو د څادرو پيڅکې او د جامو ځينې برخې يې بهر پاتې وې .
مړي نه خراب شوي و او نه شخ شوي .
ځينو خلکو فکر کاوه چې دوی همداتېره شپه وژل شوي ځکه ندي خراب شوي خو ځينو نورو بيا فکر کاوه چې دوی که هرڅوك وي او هر چاوژلـي وي خـو شـهيدان دی او د شهادت له برکته نه دي خراب شوي. ددوی د ليل داوو چې انسان دروح له وتلونه وروسته ببخي په څو دقيقو کې شخ ،پخ شي اودوی که تېره شپه هم وژل شوي وي تر او سه پرې له دولس ساعتونو ډېروخت تېر شوی اوکه په حقه شهيدان نه وای پـکارداوه چـې اوس داسـې تـازه نـه وای. مـړي پـه جنازو کې تر کلي راوړل شو. کليوالو وکـتل يو همدلته په کلي کې چاوپېژنده چې نسيم نـو مـېـده په ده کې دتبرگی اوپه ټـوپـك د ويـشـتلونښې وې و او عـمـر يـې تر شلو کلونو لږ څه پورته و.
بـل د پـنـځه دېـر شـــو په شــاوخــواکې ښـکارېـده، تـوره بـونـډی ږيـره او ښايسته ويښتان يې لرل . سـترگې يې پټې وې خو بيا تر ې هم ښکارېده چې څومره غټې ، غټې به وې.دده دسر له ټپونو څرگندېده چې د شا له خوانه د تبرگي په څټی وهل شوی او بيا وروسته يو گوزار د همغه تبر په تېرو وهل شوی او بيا ويشتل شوی دی ،کليوالو دواړه مړي له څو ساعته پلې لارې وهلو وروسته د شيگل ترولسوالی راورسول.دلته دوهم مړی هم وپېژندل شو چې د لاور دی او په باجوړ کې او سېږي .
دغو وژنو ته ځينو خلکو دسياسي مرگونو په ډول کتل او اتينا پدې گومارل شوې وه چې دهمدې خبرې پخلی وکړي چې مرگونه سياسي دي که جنايي؟ ځکه چې دغه سيمه د کونړ د پياوړي جهادي قومندان کشمير خان سيمه وه. هغه د اتحادي فوځونو له سترگو پټ و. او که دغه مرگونه په سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول تر سره شوي وي، نو بیا اتحادي فوځونوغوښتل چې پدې سیمه کې لوی عملیات تر سره کړي اوددې سیمې عملیات ډېر اسانه نه و. سمه لام نژدې پنځه ساعته له سړکه پلې لاره لري او لاره ټوله په غرو، رغو اوتنگوناوونوکې ده او که امریکایان پدغو غرنیو سیمو کې مزل کوي او تر سمه لامه دهغوی په وینا د چڼ او پاکولوعملیات تر سره کوي نو پدې ډېر خرڅ کېږي ، لوی پلان غواړي او د ډېرو اتحادي فوځونو مرگ ژوبله پکې رامینځته کېدای شي، نو د همدې لپاره لومړی د قضیې څېړل پکار وو.
چې معلوم شي وژنې سیاسي اړخ لري که جنایي. او اتینا چې پدې کار گومارل کېده .نیك مرغي به وه که بد مرغي خو زه هم له ترکیې نه په رخصتۍ کورته راغلی وم. اتینا مې د برېښنا لیك له لارې دخپل راتگ نه خبرکړې وه،کله چې ورته دغه څېړنه وسپارل شوه راپسې ډېره کلکه وه چې ورسره ملگری شم. ماهم چې دکونړ نوم واورېد ورسره ومې منله، ماویل یو خو به دخپل پلار وطن ووینم ځکه چې پلار مې همدغلته په کونړ کې دشیگل نه پورې په ببلۍکې پېداشوی و. خاپوړې یې کړې وې زلمی شوی واوبیادکندز دشت ارچي ته کډه شو. اتینا اوس د تر کیې یو ه فوځۍ وه او ما نشو کولی د هغې سره فوځي دنده تر سره کړم نو ماته یې دسلاکار په ډول په( Contract)لنډ مهاله کار راکړ ما هم ورسره ومانه،کابل ته او بیاله هغه ځایه کونړ ته لاړم.
له پخوانه مې یو عادت دا وو چې هرڅه مې زړهېرول په کابل کې چې به مې یوه شپه وکړه هیڅ به مې فکر نه کاوه چې په ننگر هار او پېښور کې به همغه شان گرمي وي لکه پرون یا ابله ورځ چې وه . او همدغه فکر مې د استنبول په شکلي ښارکې د افغانستان په هکله هم کړی و. ماویل درې کاله وشول چې د ډالرو بهیر د کابل په لور ورمات دی، اوس به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استنبول غونډې ښکلی ښوی وي . خو چې د شيګل ولسوالۍ ته ننوتم ايله مې عقل سرته راغی چې ډالر څه چې يوه افغانۍ هم پکې نده لګول شوې. د چا شخصي کور يې پدې نامه ولسوالي کړی چې د مجاهدينو امريت پکې و او دولت ته په ميراث پاتې شو.خو پدې چا فکر ندی کړی چې مجاهدينو له کومه کړ. ځکه يې پکې امريت جوړکړی و چې د يوه داسې چا کورو چې د خلقي ټاپه پرې لګېدلې وه. ولې خلقيان په نورو ولايتونو کې نه وو. هلته هم ورسره همدغه چلند کېږي. ماته رښتيا هم دا هر څه عجيب ښکارېدل .ولې مونږه له نووپېښو او نوو حالاتو سره نوی چلند او نوی فکرنه زده کوو؟ ولې سياسي نظرونه ترمذهبه غزوو او په مذهب کې هم تر هغه بريده چې د بل لوري وينه او مينه دواړه راته حلال شي.ولې مذهب دسياست تابع کوو؟

داسې نشي کېدای چې که د نورو دسياسي نظامونو خپلولو ته اړتيالرو نو د خپل مذهب، فکر او کلتور سره يې لومړی برابر کړو، بياترې کارواخلو؟ مادغه فکرونه کول او اتينادمجرمانو دبيانونو په لوستلو بوخته وه، زر، زر يې پاڼې اړولې نه پوهېږم څه يې وليدل خو په بيړه يې له دوسيې سر راپورته کړاو څارنوال ته يې وويل:

-"داکسان چې تاسو يې بيانونه دلته ليکلي څه شول؟"

- "هغوی موپرېښودي دي"

- "پوهېږم پرېښودي مودي خو ولې... ؟ "

-"تحقيقات مو ترې وکړل خو د وړاندې تګ لپاره يې لار رانه کړه"

سترګې يې د څارنول په سترګوکې ورکړې

- "نوره څنګه لاره غواړې ؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملخی دې که څه بلا دا وايي چې دسوداګرو اوسمه لام والو ترمنځ سودا زماپه خوله او زماپه کورکې شوې وه. نېټه مې ورسره ټاکلې وه زه له سوداګرونه دژمنې سره سم مخکې ټاکلي ځای ته چې سمه لام دی ورسېدم.خو چې لاړم هلته راته د هغو خلکو چې سودا ورسره شوې وه نيت ښه ښکاره نشو زه ترې بيرته را روان شوم او په لاره کې سره وړاندې وروسته شو. زه چې شينګرګل ته راغلم خبرشوم چې سوداګر په ماپسې ټاکلي ځای ته تللي دي. خو ماڅه کولی شول خبره مې په تقدير وسپارله او کورته ترې راغلم" پوښتنه داده چې ملخي ته دده ديوخپلوان او دوست دژوند ارزښت همدومره و؟ولې ددغوکليو او سيمې ولسي خلک يې نشو خبرولی؟ ولې پوليسو ته يې خبر نشو ورکولی؟

دی پدې پوهېده چې که دی پسې لاړشي هغوی له مرګه ژغورلی شي ځکه چې تبرګی يې خسر دی،ګنډېری يې اوښی او هغه بل شريک باڼی يې ساندو(باجه) داسی برېښي چې ده ته هيڅ د مرګ ګواښ هم نه و. ځکه چې که وژنه په پيسو کېده نو پيسې د ملخي سره نه وې د وژل شوو سوداګرو سره وې. دېرې وژنې يواځې پدې کېږي چې وژل شوي کس يا وژونکی د نورو په وژلو ليدلی وي او ياترې خبروي، ددې لپاره چې قاتل نه غو اړي ثبوت پرېږدي دغه کس وژني، اوچې دی يې دده په وينا له نيت نه خبرو،ماناله پلانه يې خبر و نو که قاتل دی خپل ملګری اوپه قتل کې شريک نه ګڼلی نو پکاروه چې وژلی يې وای او ثبوت يې له منځه وړی وای . اوکه دده خبرېدلو ورته مانا نه لرله اووېره يې ترې نه کېدله نوبيا هم بايد يوه وېره ورسره وای او هغه داچې دی غواړي وژل شوي کسان وژغوري اودا دګنډېری دوی چې دوژنې شک پرې کېږي دپلان شنډېدل وو. نو هغوی له پکاروو چې ملخی يې تر هغو پورې چې سوداګر ور رسېږي ځان سره


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلى واى. ولې د ميرى په نوم كس چې تاسو دشك په بنسټ پوښتلى دى ددوى سره روانېده او له څه مزل نه پس ترې بېرته راستنېده ،داټولې پوښتنې ځواب غواړي.

څارنوال وويل"ته چې څه فكركوې،زه هم همدغه فكركوم،خوستونزه دسمه لام والو مجرمانوراوستل دي"

اتيناترې وپوښتل"څه فكركوې چې قضيه جنايي ده كه سياسي؟"

-"ددواړو شونتياوې شته"

-"نو زماپه قضيه كې د ښكېلو ټولو خواوو د تېر ژوند ريكارډ پكار دى"

دايې وويل خپلوسوربخنو زلفو ته يې يو څنډ وركړاوله كوټې ووته . په برنډه كې يې راته وويل" ټكوره! باجوړ ته به ځو"

له څو ثانيو وروسته مې ځواب وركړ خپل موټر او عسكر رخصت كړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم څپرکی:

# بـاجـوړتـه تګ

دکونړ او باجوړ تر منځ کوم برید اوپوله نشته دهر قوم نیم د غره یوې خواته او پاتې نیم یې بلې خواته پراته دي.
او همدا لامل دی چې تر منځ یې راښکل شوې کر ښې خپل ارزښت له لاسه ورکړی. چې دچا کله او له کومې لارې خوښه شي اوړي را اوړي. د پلو لاروتر څنګ د ناوه پاس ، غاښي او شایي سړکونه هم شته چې هره ورځ پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سلگونو خلك تگ راتگ کوي. خو دا ټولې اسانتيا وې دسيمه ييزو خلکو دپاره دي.
اتينا په استنبول کې ښه وه ، د هر چا نظروراوښت او هلته پدغسې چا دسرې رنگ سازيږي . خو په کونړ کې هغه اتينا نه وه چې لکه د استنبول غوندې مې له گوتې نيولې واى ، په خندا، خندا مې ورسره خبرې کولاى.
نورو راته کتلاى او اوبه ، اوبه کېداى ، مافکر کاوه چې اتينا ته مې د پښتنو دودونو اوفکرونو په هکله هر څه ويلي خو دلته يوه شوم چې کېداى شي ډېرې خبرې پاتې وي او په هغوډېرو کې يوه دا چې پښتانه پسې ښځه ور روانه وي نظر يې له دوه گزو اخوا کارنه کوي ، او بيا چې يې لا ښځه خپله هم نه وي. ددې خو هيڅ تصور نشته چې د ايجاب او قبول پرته دې څوك د چاخور لور د ځان سره وگرځوي.
اتينا راته ويلي وو چې باجوړ ته به ځي او ما پېژنده چې دوخت ډېر قدر کوي چې د ژوند يوه ثانيه يې هم بې گټې تېرېږي داسې پسې خپه وي لکه د کنجوس نه چې مېلمه ډوډۍ وخوري. په پوهنتون کې اتينا له ډېرکارماکاوه. د ماسټرۍ د کتابونو روغ، روغ چپټرونه (څپرکي) مې ورله په لنډو کليمو ليکل، کله چې به يې د ليکچر وار و ديونيم، دوه ساعتونو اوږده ليکچرونه مې ورله برابرول . په کورنودندوکې به مې ورسره مرسته کوله. خوهغې هم وخت نه خراباوه.
پښتويې زده کوله د پښتو اولسي ادبيات يې کتل او زما د پښتو گډې ،وډې ليکنې يې له وړو،وړو کاغذونو ټولولې او په تر تيب يې ليکلې . د مارشل ارټ کلب ته تلله اوزه يې هم ورسره په زوره بيولم.
د پښتو سره يې مينه وه او که رښتيا ووايم مادهغې د پښتو سره مينه د خپل ځان سره مينه گڼله او په زړه کې به مې کرل رېبل چې که ماته گرانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده زه پرې هم ګران يم. پدې کې راته هيڅ شك نشته چې پرې ګران يم خو لاترننه پدې نه يم پوهېدلی چې څنګه پرې ګران يم . مونږ ديو بل په غېږ کې خوبونه هم کړي خو يواځې په اورګاډي کې . دخوښۍ په وخت مو يو بل په مخ، مخ ښه کلك، کلك چيچلي هم دي ورپسې مو رنګونه هم تښتېدلي يو بل ته مو تل ويلي چې يوه شېبه ستانه پرته ژوند نشم کولی. خو پدغې پسې غلي شوي يو او پدې هم پوهېدو چې په مونږ کې د يوه هم دانده خوښه چې د خبرو لړدې وشلېږي خو بياهم بلې خبرې ته تللي يو او فکر کوم دازمونږ ددواړوڅه معجزه وه چې نژدې دلسوکلونو يوځای اوښتو،را اوښتو وروسته موهم دوستي ،دوستي پاتې شوه په مينه بدله نه شوه . نه مادبل چاپه لور وکتل نه هغې .نه ماواده وکړنه هغې . خوپه خپلوکې مو هم دزړه غلاڅرګنده نه کړه

چې د باجوړ نوم يې راته واخيست نېغه مې د شيګل له ولسوالۍ نه مخامخ دکربوړۍ کلي ته د خپل دوست بريالي کورته بوتله . کربوړۍ دشيګل ولسوالۍ ته مخامخ دسيندنه پاس دخوړ ترڅنګ په شنو پټيواومستو لښتيو کې راګېر ورکوټی غوندې کلی دی چې کورونه يې له ډېرونژدې کېدو او تنګېدونه يو په بل کې ورننوتي دي ،لدې امله د يو کورمېلمه د ټولو مېلمه وي او خوښۍ اودردونه خو هسې هم زمونږ د ټولو کلو سره ګډوي . بريالی خبرو چې ورځو.اوفکرکوم خوا اوشا کورونه يې هم ښه په سخاوت خبرکړ ي وو ځکه چې مونږ ورغلو کوريې له ښځو او نجونوډك و .داتينا ښه راغلاست ته راپاڅېدې، هغه اوتره غوندې شوه په ترکۍ ژبه يې وويل " داکوردی ؟" ماورته وويل هو! خو هغه کورچې فکرکوي ډېردروندمېلمه يې راغلی او پدې ډول يې راتګ لمانځي .داتينا سره ببخي د اتصور نه و چې يو وخت به په خپل کار پسې ځي .يو ځای ته به يواځې ددمې دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورستنېږي او هلته به ورته خلك دومره خوشحالېږي چې ددې په احترام به دېرش ځلوېښت ښځې راټولې وي . په استنبول کې خو لکه د نورو لويوښارونو غوندې ځوك خپل دېوال شريك ګاونډي هم نه پېژني او نه ځوك دژوند له منډې او زغله دومره وخت پيداکولی شي چې په يو وخت د يو چا لپاره په دومره ګڼ شمېرکې راټول شي. ټوکې اوخنداوې دې وکړي، يو بل دې ونازوي. اتينا مې د ښځو په حرم کې پرېښوده اوزه او بريالی ترې کوټې ته لاړو . مونږ غلې،غلې له يو بله دحال ،احوال پوښته کوله خو بهر ښې په درز کې ، خنداګانې ، او ټوکې ټکالې روانې وې. اتينا له هغوی پوښتنې کولې او هغوی له اتينا.يوې ښځې فکر کړی و چې ګوندې زه د اتينامېږه يم. ورته يې وويل له بدوسترګودې لرې وي ښه جوړه خومو برابرده . اتينا ورته وخندل.

"چپ شه چې وايې نه وري، خو خدای دې وکړي چې سره جوړه شو" هغې ورته وويل ښه دادې مېړه نه دی؟

ورته په خنداشوه "سل مړونه دې ترې قربان شي" خو خدای ته سوال وکړئ چې "ايسته مې داګل دوربل ګل شي"

يوې وويل "ته او س زما په مخکې ووايه چې زه داګل دوربل ګل جوړوم نوره ترې خلاصه"

- "نوريې راباندې ځنګه وايې؟"

يوې جينۍ ورته وويل خورې اوس به ستاسو په مذهب شوی وي. دلته خوکه مونږ چاته د سترګو په کونج کې هم وروکتل په والله که مو بيا پرېږدې ،يابه موپه مړوندسرېږدي او يابه دلحدله تيږې سروهي.

اتينا له خوشحالۍ يوټوپ کړ، آ ځومره ښه .... که تاسو د چاسره واده کول غواړئ نوهغه انکار نشي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاځواب ورکړ يواځې غړ وکړه .
ددوی خبرې خوړې وې او که په ما خوړې لګېدې خو ډېر په غوروړته ما او بريالي غوړ نيولی و. او په غوړ ، غوړکې دې فکر وړی وم چې ګاډی او ساتونکي مې ترې رخصت کړه او س به يې څنګه په ځان پسې ګرځوم او هغه هم بيا په کونړکې،مونږ هم عجيبه خو يونه لرو. ښځې له پټيونه مالونو ته واښه راوړي . له لرو،لروغرونونه لرګي راوړي. په پټيوکې کارونه کوي ان تردې چې مورمې ويل "پخواښځوماسته هم له کورنه بهردوبالې په غاړه شاربل"که ښځې مو يواځې وي اويادنوروښځوسره ملګرې وګرځي خيردی. خوکه مونږورسره يو اوله کورنه بهر راپسې روانه وي پرې شرمېږو. فکرکوو چې څوك به يې پښو ته ګوري که لاسونوته اوبيازه که له کونړه لرې پيداشوی اولوی شوی وم خوبيا هم دخپل نژدې ملګري اودوست بريالي کورته وخت ناوخته راتلم نوله همدې امله په شيګل کې خال،خال پيژندوی وم اوس يو نيم سړي پېژندلم او که نن يې له يوې بهرنۍ ښځې سره څنګ په څنګ ليدلم نو خامخا يې د سترګو په کونج کې راکتل او يوه،نيمه تبصره يې چې زمونږ دخلکو دود ده راپسې کوله. همدغه فکرونه وو چې په ذهن کې مې په اتې وو .
يوځل داتينا د ګاډي او ساتونکو په لېږلو خپه شوم خو په بيا فکرخوشحاله شوم ځکه چې دامريکايانو اوسوله ساتوځواکونو په فوځې ګاډوکې ګرځېدل مې هم نه خوښېدل.
دهغوی ژباړونکي به رايادېدل سرونه به يې ټيټ نيولي و او دوسمالونه به يې په سراچولي و.
بيابه مې ويل چې څله مې ورسره منله چې درسره ځم ،سلاکار به دې يم، که سلا کار نه شم يوځه مرسته خو به درسره وکړم،لارښود خو به دې يم. ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به مې غوسه راغله چې خلك دكار سره سم د كار دځای پوښتنه كوي او تاته يې وويل "چې په كونړ كې يوه قضيه څېړي،داپوښتنه دې ونه كړه چې دكونړ په كومو ځايونوكې" قضيې خوپه دفتر كې دننه د بيانونو او ثبوتونو په لوستلو هم څېړل كېږي. او لكه د لېوني غوندې په گرځېدو اومالوماتو راټولولو هم څېړل كېږي.نوره دې پكې پوښتنه ونكړه ،ورسره ودې منله، دادې ونه ويل چې قضيه چرته څېړې؟ دكونړ په كوم ځای كې يې څېړې؟.بيامې ځانته خنداراغله او دخندا سره مې خپله ځانته ځواب وركړ چې "ولې خپل ماغزه خورې په بل چادې پېرزوكېده چې ورسره وگرځې؟ رخصتي خودې هسې بانه وه دلته خو راغلی هم ددې دپاره يې، ولې ژمنه دې ورسره نه وه كړې چې ستاد رسېدو نه وروسته به په لسوورځوكې دننه دننه ځان دررسوم؟ او لږ ترلږه په كونړ كې خو به دې ښه گرځوم چې زمونږ د خلكو له دودونو رواجونو ژوند او فكر نه خبره شې؟ ددې سره مې بريالي ته مخ واړوو .

- بریالیه! مونږ به ځو.

- شپه نه پاتې كېږئ ؟

-نه نشو پاتې كېدای انډيواله مې د وخت ډېرقدركوي. او شپه دلته تېرول به پرې ونشم منلی هغه رانه پوښتنه وكړه "انډېواله دې پدې قضيه كې ولې دومره ډېره لېوالتيا ښيي"؟

ماورته وويل "ته يې هم په لېوالتيا پوه شوې؟" ولې نه لږه شېبه وړاندې چې بهر وتلی وم راته يې وويل سمه لام ته به له دې ځايه څومره پلې لاره وي؟ ماترې پوښتنه وكړه چې ته "سمه لام ته هم ځې؟" راته يې وويل" كه اړتياشي خامخابه ځو"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماویل نه پوهېږم خو د پخوانه یې ماجرا خو ښه ده او چې څه ووایي سرته یې رسوي.

بریالي راته وویل:

- نو لکه چې ستاغوندې ده، خو خیال کوئ چې هلته تلل له خطره خالي نه دي.

ومې ویل "هیله خدای ته خومونږ له موټر پکاردی"

"نوراځئ چې ځوموټربهرولاړدی" د بریالي مور چې رخصتولم، څه خبره یې په خوله کې راجوړه کړه خو په خندایې واړوله په تندي یې ښکل کړم، اوترې روان شوم. چې دکلا گۍ په دروازه وتلم دشانه راپسې کومې جینۍ د شیطانۍ په ډك غږ وویل "چې ومونه شرموې،کونړواله ده، دجینۍ خوښ یې واده یې کړه، بیایې دځان سره گرځوه"

وروغوندې مې له خولې ووتل:

"مونږ ته یې څله وایې هغې ته یې ووایه" لږه شېبه وروسته راپسی اتیناهم راووتله، ښۀ درنه اسماني رنگه څادري یې په سر وه . لکه چې چاچل هم ورښودلی و. د افغانوښځوغوندې یې پورته اړولې وه . یواځې سپین مخ یې ښکارېده او سرې شونډې یې لکه د گل غوندې په مسکاغوړېدلې وې.

دبریالي سره د موټر په وروستي سیټ کې څنگ په څنگ کښېنا ستو، دچغسرای نه لږ پاس ددړواو کېبلونو په یوه پل پورې وتو، تر غاښي پورې اتینا دغره هرې ونې، غنې ته کتل چې د غاښي په پاټك ورواوښتو بیایې هم غره ته وکتل راته وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"خدای دربانديږ ځومره فضل کړی خو تاسويږ دفضل او پېرزوېه نازولونه پوهېږئ،وگوره يو غردی د کونړ خوايږ ځومره شنه ده اودباجوړخوايږ ځومره سپېره . ماورته وويل:

-" څادري ته دي وگوره اوديږ خبرو ته دي، غليږ شه راځه چي ځو" راروانه شوه چي وروسته ميږ ورته وکتل داسيږ نيغه راروانه وه لکه د فاتح آس . لږ ښکته گاډي ولاړوو د يومو ټر سره مو خبره وکړه اوله ځوپاټکونو او نژديږ له يوه ساعت مزل وروسته ډرايور وويل "داد يوسف آباد کمپ دی" اتينا ورته وويل:

"لږ په ورو لاړشه،زه ځای در ښايم" له لږيږ شيبيږ وروسته په يوه کړليچي ورتاوشو اتينا ته لکه چي دغلته چي فکر ورغلی وو چي پښتنيږ ښځيږ دنارينوو په مخکيږ خبريږ نه کوي نووروغونديږ ييږ وخندل زنگون ييږ راله لاس کيږ راونيو، "مانا دلته کوزېږو" له موټرڅخه کوزشو له يوه ماشوم نه موددلاور د کور پوښتنه وکړه هغه راته وويل:

"مخيږ ته ييږ ولاړيئ، همداييږ دروازه ده" اتينا ييږ کورته ننوته اوزه ييږ په حجره کيږ له ورور سره کښېنا ستم . دسمه لام په قضيه کيږ يو وژل شوی کس دلاورؤ، چيږ دمجاهدينويو ځوان قومندان و. او په هکله ييږ خلکو ويل چيږ د يوځانگړي خوی او اخلاقوڅښتن و. کله ييږ هم په تنظيمی جنگونو کيږ برخه نه وه اخيستيږ اوانسان ورته په حقيقي بڼه د انسان ارزښت درلود. په حجره کيږ راته يو ځوان چيږ له بڼيږ پوه ،ځيرك او با احساسه ښکارېده اوويل ييږ چيږ له دلاور سره ډېرگرځېدلی. خبره کوله چيږ "يوه ورځ ورسره يو ځای د بي بي سي خبرونو ته ناست وم داهغه مهال و چيږ په کابل کيږ تنظيمي جنگونه ښه په زور او شور کيږ وو" ده ويل "مادخدای بښلي ميرويس جليل راپور اورېده چيږ ويل ييږ په نني جنگ کيږ دولسي خلکو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګ له دوارٍو خواوونه په لسګونو جنګيالي وژل شوي او ددريمې کارتې سيمې ته هم ډېر زيان او ښتی" ده ويل "ماورته وويل چې جنګيالي دې پسې خدای نورهم مړه کړي خو خپه پدې ولسي خلکو او دوطن په ورانېدو يو. ددې په اورېدو راته دلاور مخ راواړوو او په غو سه يې رانه پوښتنه وکړه چې ولې تا پېداکړي چې داسې په ازاد زړه يې وژنې" ده ويل ماورته ويل " دوی چې نوروژني نو پخپله دې له هغوی مخکې مړه شي " ويل يې هغه راته وويل چې "داسوال کوه چې دوی د خپل ژوند په قدراوارزښت پوه شي او چې څوك د خپل ژوندارزښت وپېژني بياد بل ژوند ته هم ارزښت ورکوي ،نه ځان وژني او نه بل" ددې سره دده په سترګو کې اوښکې راغلې اووې ويل "دلاور د خپل ژوند په ارزښت ښه پوهېده او ځکه خوېې په مېړي هم پښه نه ايښوده ويل يې انسان دې ځان دنورو د مرګ اوژوند واکمن نه ګڼي. که څه وس يې کېږي نو ددې دپاره دې ترې کار واخلي چې د يو انسان له تندي نه د غم نښې لرې کړي او په خندايې کړي" ددلاور دورورسره هم وغږېدم، ښکلی هڅور سړی و . يوخړپکول يې له تندي پاس ايښی و. ويښته يې پکې پورته ورتاوکړي وو، خوچې هر څومره پوښتنې مې ترې کولې همدغه يوه خبره يې کوله چې مونږ دلته يو اوکار په سمه لام کې شوی. زه ترې هيڅ خبرنه يم . هغه که زمونږ سره ښه چلند کاوه نو يواځې له دې امله چې پښتون دی او مونږ يې حجرې ته ورغلي يو نور ورته زمونږ کار څه ارزښت نه درلود او داښه نظر هم وخو هغه وخت به دپو هېدو وړ وای چې دی زمونږ دڅېړنو په هدف پوهېدای چې مونږيواځې پدې پسې ورغلي يو چې دپېښې بڼه مالومه کړو که پېښه جنايي وخېژي نو بيا کېدای شي چې د کونړ ولايت ته هم خپلې څېړنې ورنه کړو ځکه چې هدف دمجرم نيول نه دي يواځې د امالومول دي چې د جرم لامل څه دی. اوکه لامل هرڅه


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي دده خو ورور وژل شوی و. مونږ فکر کاوه چې ده ته داپه زړه پورې وي چې وژونکوته یې سزاورکړل شي،له همدې امله مو ترې دا خبره پټه ساتلې وه چې مونږ یواځې دپېښې انګیزه مالوموو اونه دې ته لېواله وچې مجرمانو ته دې سزاورکړل شي.دا خبره دفکر وړ وه چې ولې نو دی نه غواړي مجرمانو ته سزا ورکړل شي ؟ ولې دمجرمانو په څرګندولو کې مرسته نه کوي؟چې کله مو ترې د جرم جنايي توب او سياسي توب په هکله وپوښتل وې ویل "پدې کې د سیاست څه خبره ده،زما ورور یو تاجرو. او یواځې تجارت یې کاوه .که امریکایانو وژلی وای وژنه به یې سیاسي وه ځکه چې مجاهدو. اودحزب اسلامي سره یې خواخوږي لرله . خو اوس امریکایان ددې نه څه غواړي.

امریکایان دې خپل ریکارډ وګوري. دده په اړوند څه خبره دهغوی ریکارډ کې شته؟" ماورته وویل "ځینې خلك دغسې فکر کوي" وې ویل "امریکایانو له یې د خلکو د فکر څه ،دهغوی خو هسې هم په اسمارکې د اډې تر څنګ خلك یو د بل په پټې کې بمونه ږدي یوبل پرې وژني خودوی یې پوښتنه قدرې هم نه کوي. دوی خو یواځې ځان ساتي او خپلې منګولې ټینګوي. چې په خپل سر یې نه وي راغلې د بل په سر دې اورونه بلیږي" دوی پکې کارنه لري،ملي اردواو ملي پولیس روزل کیږي خو پروسه یې ډېره ورو روانه ده او څومره چې روزل کیږي دهغوی په نیمه ترې ببرته تښتي،لامل یې دادی چې دژوند ډېرې کمې اسانتیاوې ورکول کیږي،ددوی په مقابل کې دملت دهمدغو تنکیو بچیانو دوژنې او سر پرېکونې لپاره دهېواد دښمنان ډېر مصرفونه کوي. دولت هم دهېواد دبیارغاونې کومه لویه اودپام وړ ستراتیژي نه لري. ملت مو یو ډول ویشل شوی غوندې دی له هرڅه زیاته اړتیا ملت جوړونې ته ده اوملت جوړونه او دورانکارو اوهېواد دښمنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسونه هغه وخت لنډېدای شي چې کارونه ډېرشي،انصاف راشي اوخلك په ګېډه ماړه شي. ددلاور ورور لوستی سړی و او ګرځېدلی هم و. يو ځانګړی نړۍ ليديې لاره.عجيبه داوه چې په ورور پسې ډېر خپه ښکارېده.داسې برېښېده چې سينه يې له غمه ډکه ده خو چې دا بيا د اندېښنې وړ وه چې همکاري نو ولې نه کوي. ددلاور يوځوی هم و چې ديارلس کلن و او داسې و چې پلار به يې ورته په رښتيا هم ښې هيلې لرلې.دليك، لوست اوزده کړې سره يې مينه وه او تر ټولو ښه يې دا چې په هر څه يې فکر کاوه. زه ددوی سره په خبرو ووم چې په سټيلايټ د اتينا زنګ راغی . مافکر وکړو لکه چې نور د تللو وخت دی ورته مې وويل "که تلل غواړې نو راووځه" راته يې وويل "داخو دومره خواږه خلك دي، اووخت هم ناوخته دی، شپې ته همدلته نه پاتې کېږو؟ ددلاور مېرمن راته وايي چې مه ځئ" ماورته وويل "سمه ده! خو فکر دې وي چې دهر پښتون په کوروشې همدغومره خواږه او ميلمه پاله دي ته به په کوم،کوم کورکې شپې کوې؟ راته يې وويل "دابه مې د پښتنو په کورکې لومړۍ شپه وي، اوغواړم دالومړۍ شپه همدلته ددې خوږې مېرمنې سره وکړم" له ځان سره مې غلي غوندې وويل "زما خو در پکې هسې هم نصيب نشته څه چې دې خوښه وي هغه کوه، خو رنګ مې هغه وخت وتښتېد کله چې پوه شوم چې ټيليفون مې بند کړی نه دی اوکېدای شي زما دغه وروستۍ جمله يې اوريدلې وي" زړه مې په زوره ، زوره ودرزېد خو بيامې وويل "غم يې مه کوه ښه ده چې وايې وري"

دشپې ډېره برخه مې په سوچونو او فکرونو تېره کړه ددلاور نازولي بچي مې ليدلي وو. يوه ماشومه لور يې وه . چې شپږ کلنه به وه، خو ډېره هوښياره وه، حجرې ته راغله لومړی يې له لرې نه راته کتل، زړه يې نشوکولی، ماهم پرې ځان ناګاره کړ، بياراغله لاس يې راکړ، ښکل مې کړه، بيايې په ډېره


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه په دواړو لاسونو کې زمامخ راونیو، راته یې وویل "زما پلاریې هم وژلی دی، او بیازمونږ کورته هم راغلی و، ماپه ګټه وویشتو" ماورته وویل "څوك؟" وې ویل"هغه سړی" ددغې ماشومې خبرې وې ،دورور غم یې او په عین حال کې نه همکاري ، پدې ټولومې څو،څوځله فکروکړ، دې خبرې ماته یو شك راپیداکړو چې زما وروریو تاجرو، دهغه له سیاست سره څه ، که امر یکایانووژلی وای، وژنه به یې سیاسی وه، ځکه مجاهدو او د حزب اسلامي پخوانی غړی و. شك مې پدې دلیل و چې ددلاور په هکله مالومات داووچې هغه ددولت د ډېرو چارواکو سره اړیکې درلودې . او د سولې د راوستلو دهر ې هڅې فکري ملګری و. اوکېدای شي پدې وژل شوی وي چې ولې په کونړ کې د " جهاد" پرځای سوله او کراري غواړي. بله داچې کېدای شي پدې وژل شوی وي چې دده دډېرو جهادي کړیو دډېروخلکو سره اړیکي و، له رازونو او پټو ځایونو به یې خبرو اوددولت له چارواکو سره داړیکو په بنسټ به پرې دا شك شوی وي چې دی به رازونه دولت ته ورکړي. ددغو فکرونو او اندېښنو سره خدای خبر د شپې په کوم پهر کې ویده شوم . خو سهارداذان په غږ راپاڅیدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريم څپرکی:

# د دلاور تــصـويـر

دسهار د چای ښلوورو ستی راته ددلاور ورور وويل چې "ملګرې دې غواړي له تګ نه مخکې ستاسره وغږيږي اوددې دپاره مودرته په کورکې يوه کوټه وزګاره کړېده" له حجرې نه يې ورسره روان شوم. دکور دلويې دروازې نه په لږواټن کې پرتې يوې خونې ته ورننوتو ددلاوروررراته وويل" تاسو اوس خپل کاروکړئ زه به مو يو سات وروسته احوال واخلم" او رانه ستون شو. دختيو جوړه کوټه وه خوپه چونه سپينه شوې وه، يوه سره قالينه هم پکې غوړېدلې وه . اتينا په يوه کټ کې ناسته وه، مخې ته يې يو وړوکی کورنی مېز پروت و. کاغذونه يې پرې خواره کړي و. ماورته په خنداووېل "سحر مونېکمرغه" وې ويل "ستاسو سره .....راځئ غو ښتل مې په ګډه خپله تګ لاره وټاکو چې چرته به ځواوڅه پسې به ځو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ومې ویل

"سمه ده! زما سره هم څه خبرې شته چې پرې وغږېږو" مسکۍ شوه وې ویل "راځه نو بیا مې تر ځنګه کښېنه" چې کښېناستم وې وېل "رانژدې شه دامېز وړوکی دی چې دواړه ترې کارواخلو" بیایې وخندل "خیردی خپه کېږه مه په رانژدې کېدوکې دې نصیب شته" . زه غلی شوم. پوهېدم چې دپروني ټلیفون خبره کوي . ورته ومې ویل

- کاغذونه دې راسپړه.

- زماسره ځوخبرې دي اوخبرې نه بلکې فکرونه دي، مادډلاور له مېرمن سره خبرې وکړې . هغه هیڅ داسې فکرنه کوي چې وژنه دې سیاسي وي. هغه وایي "روښانه خبره ده. دتجارت په نامه بیول شوی . پیسې ترې اخیستل شوي او له دې امله چې هغوی یې پیژندل وژلی یې دی. ځکه چې هغوی فکر کوو که ژوندی پاتې شي دغه پیسې ترې خامخا بېرته اخلي".

له اتینا مې پوښتنه وکړه "نو ستا څه نظردی؟". وې ویل:

- ولې داسې نشو کېدای چې دوی یې کلك تړلي وای او ځومره پیسې یې چې ترې اخیستي ددې درې برابره یې ترې غوښتې وای. ماورته وویل:

- داخبره دې هم سمه ده ځکه چې هغوی هسې هم پدې پوهېدل چې ددوی داوژنې ښکاره کېږي.

- هو... خو دغه عکس ته وګوره.

مخامخ په کوټه کې ددلاور لوی عکس دېوال ته ځړېده."زه فکر کوم د مېرمن خبره به یې سمه وي. کېدای شي وژونکو همدغه فکر کړی وي چې که ژوندی پاتې شی دهغوی له سترګو خوب تښتولی شي" د دلاور غټو، غټو سترګو اوهډورې تنې ته مې وکتل داثبات سرمې ورته وخو ځوو هغې وویل" خو بیا هم ځو خبرې شته،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلاورمجاهدو دجزب ا سلامي، طالبانو او د وهابيانو له ډېرو مخورو او د
کونړ په کچه له پېژندل شويو څېرو سره يې پېژندل او اړيکي يې ورسره
لرلې. اوددې تر څنگ ده له دولتي چارواکو سره هم پيژندل او د
جزب اسلامي ډېر مشران پټ دي،دوهابيانو يو وتلی مشر د گوانتانامو په
زندان کې دی . د کونړد طالبانو مشران هم يا پټ دی اويا په زندان کې دی .
ددې تر څنگ خلك فکر کوي چې په کونړ کې د بمونو، چاودنو او مخامخ
جگړوسر لاري همدغه ددولت له سترگو پټ جهادي او طالب مشران دي او
کېدای شي دلاور دهغوی د ځای ځايگي په هکله مالومات لرل څرنگه چې
دده ددولتي چارواکوسره اړيکې وې نو دهغوی سره به وېره وه چې ددوی
پټنځايونه به وروښيي"ماترې پوښتنه وکړه چې "که سياستوالو دوی
وژل نو دومره لېرې بيولو ته يې څه ضرورت درلود؟ ولې همدغلته د سړك
په سريې نه وژل هم به يې سيا سي پېغام لرلای او هم به دوی له منځه
تللي و"
وې ويل "ددې دپاره څو دليلونه شته لومړی داچې دادپېغام واله وژنه نه
ده يواځې يوه داسې سينه يې له منځه وړه چې رازونه پکې خوندي دي، او
په سياست کې ډېرې وژنې داسې کېږي. بل داچې هغوی غو ښتل قضيه له
سياسي نه جنايي ته واړوي.
ما تر ې وپوښتل "ولې....؟"
وې ويل "ځکه چې هغوی ددلاور سره ډېره خواخوږي لرله او نه يې غو ښتل
ددوی کورنۍ لاپسې وځوروي ځکه چې سياستوال دوی خپل گڼل او د
خپلونه دراولاړشوي ټپ درد ډېروي بل لامل يې کېدای شي داوي چې
دغسې دکونړ دخلکو په نظر کې مخالف سياست او ساستوال بې باوره
کېدل خلکو به فکر کوو چې دوی خپل ملگري او دوستان وژنی. بل داچې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاستوال هم د کونړ دي . دا ټول ولس ته مالومه ده چې پرېکړې دچاپه لاس کې دي او که وژنې وشي نو خلك یواځې د مشرانو نومونه اخلي. اونن سبا حالات داسې دي چې سم اټکل یې نشي کېدای چې په کوم لوري به ځي اوکه دسیاستوالو دغه ننني سیاسي واك له لاسه لاړشي نو بیا به دسیاست دپاره شوې وژنې په قومي او شخصي دښمنیواو یاستاپه وینا په پتنوواوړي .ځکه چې ستاسو ټوله ټولنه قبایلي ژوند لري او په قبایلي ټولنوکې تل همدغسې کېږي"

اتیناوویل "یواځې داخبرې نه دي نورې هم ډېرې خبرې شته چې دغور وړدي،یوه خبره چې ددلاورمېرمن یې حیرانه کړې وه داده چې هغې ویل ددلاور پلی مزل هیڅ نه خوښېده . ځان یې ترې ساته دجهاد ددورې له ختمېدو وروسته یې په یووخت له یوساعت نه ډېرپلی مزل نه کاوه. او بیا دغره مزل ته خویې په هیڅ ډول غاړه نه ایښوده . ما فکرکوو چې ددې لامل به دهغه دوزن زیاتېده وي . خو ددلاور مېرمن راسره ونه منله اووې ویل چې کېدای شي لامل به یې دگٌردې تکلیف و. ځکه چې له درې څلورځلوزیات یې د پلي مزل په وخت په گردو درد راغلی و. او دهغه درد سخت والي له پلي مزله وېرولی و. که څه هم ډاکټرانو ورته ویلي وو چې اوس یې د گردې ستونزه له منځه تللې خو دهغه له پلي مزل نه بد راتلل اوغاړه یې ورته نه ایښوده . نو هغه فکرکوي چې تر سمه لامه پورې د پنځه شپږ ساعتونو پلي مزل ته ده څنگه غاړه کېښوده. داخامخا دداسې چالخوا مجبورشوی چې دهغه خبرې ورته ارزښت درلود او یا پرې ډېر کارشوی چې دی یې پلي مزل ته اړویستلی دی"

ماورته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ستا په فکر داخبره ځکه د ارزښت وړده چې ښکاره کوي پلان سمدواره نه دی جوړشوی بلکې ډېر کارپرې شوې ا و ستا مطلب دادی چې ډېر کارپه لویه کې په سیاسي پلانونوکېږي، غله له اوږده پلان څخه د خرپ اوترپ پلانونه ډېر خوښوي"

وې ویل "هو!"

- خبره دې سمه ده خوحتمی نده .

- ولې دافغانستان دجرمونو کچه تر دغه بریده رسیدلې...؟

- دلــته دوخــت قـــدرنشـــته هغــه مــجرم چــې په ســمه لام کې اوسېږي د استنبول دمجرم سره توپیر لري.داستنبول مجرم کېدای شي یو کاغذاو قلم راواخلي، لومړی نقشه جوړه کړي بیا په نقشه کې ځایونه په نښه کړي. بیایې خوا او شا وګوري د هغه ځای څوچکره ولګوي . بیا ممکنه خطرونه له ځان سره ولیکي بیادهرخطرنه دبچ کېدولپاره یوه لاروسنجوي او پدې فکروکړي چې داکارباید کله او په څوبجو تر سره کړي. او له هغې وروسته په جرم لاس پورې کړي.خوسمه لاموال نه کاغذلري نه قلم یو چاته وایي چې راوایې ړوه، دومره ستا دومره زما نوریې په کیسه کې نه دی که د شپې ورپېښ شوکه دورځې.دلته داهم شونې ده چې یو واړه پلان ته دې په میاشتو، میاشتو لاروڅاري او لامل یې همدادی چې دی هم بل څه کارنه لري . بس داوړي یخ سیوری ګوري اود ژمي پیتاوی.بیاورته ډېه په ډډه اوړي، راوړي.راته یې وویل

" څه فکرکوې پدې پلان به هم ډېر وخت تیر شوی وي"

ورته ومې ویل "ددلاور دمېرمنې خبروته په کتو خو سړی ویلی شي چې هو! ځکه چې پده ډېره خواري شوې .ډېرکارپری شوی نوهله ترسمه لام پورې رسېدلی دی"

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه فکرکوې چې دمجرمانو سره به وسلې وې که تشه هوايې پرې خرڅه کړې ده. ما ورته وويل فکر نه کوم چې هغوی دې وسلې لرلې... ځکه چې که وسلې يې لرلای نو بيادې وژنو امکان کم و،کېدای شي چې وسلې يې ورکړې وای.

اتينا وويل" زه چې څومره ستاسو په ټولنه پوهېدلې يم ستاسو ټولنه يوه قبايلي ټولنه ده که وژنه جنايي وي نو پدغسې ټولنه کې ولې له جنايتکارانو سره ددې غم نه و چې دوی به رسوا شي،اودڅو پيسو په بدل کې به ټول ژوندله وېرې اود مرګ له ګواښ سره مخ وي.څه فکرکوې چې ددې لامل به دهغوی د سيمې لرې والی وي.خپلې سيمې اوموقيعت ته په کتو به فکرکوي چې دلته به دوی له دغه ګواښ اووېرې نه بچ وي" ماورته وويل"کېدای شي چې دغه فکروي او يا دا لامل چې دوی له دې نه پخوا هم دغه ډول جرمونه کړي وي .دجرمونو ددنيا لوبغاړي وي او له دغې وېرې او ګواښ سره لادپخوانه لاس اوګرېوان وي اوفکر کوي چې اوبه له سره واوړي څه يې يوه نېزه او څه يې دوه"وې ويل "کېدای شي خوله مالوماتو څرګندېږي چې ملخی د جــرمــونوددنيـاډېـرپـوخ لـوبغاړی نـــه دی..."ورتــه ومــې ويــل "کــه پوخ لوبغاړی يې هم وي ډېرمشهوراونوموتی لوبغاړی نه دی.خودويم دليل چې دسيمې سره اړونددی ريښتياهم ملخی د سيمې دغه ځانګړنه نه لري"

هغې وويل "که ستا په وينادجرمونوددنياپوخ سړی هم وي نومهمه داده چې دژوندډول يې لا دمجرمانو نه دی اودعاموخلکوپه څېر ژوند تېروي.نوولې ورسره داغم او فکرنه و چې دی په يو رسواکېدونکي پلان کې ورکډ شوی او کېدای شي ډېر څه پکې وبايلي.پوښتنه مې وکړه "لکه څه؟"

- لکه دژوندډول،پولې پټي،او ان تردې چې خپل سر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نو څه فکرکوې؟
- د ملخي څېره او خيال مې بېخي فکرد سياست په لوروړي.فکرکوم دی به چادوکه کړی وي.او داسې چا به دوکه کړی وي چې دی يې ډېرغټ اوداسې ځوک گڼي چې فکرکوي له لاسه يې هرڅه پوره دي،هغه به وعده ورکړې وي،او سياستوال د خپلو موخود ترلاسه کولو دپاره دغسې وعدې ورکوي. همدغو وعدو اوژمنو به دی ډاډه کړی وي نور پلان به هغوی جوړکړی وي، ده ته به يکې دنده ورکړل شوې وي اوده هغه دنده تر سره کړې .او فکرکوم ددې دندې دتر سره کولودپاره ده ډېرکارهم کړی او ډېرې لارې يې کارولې او ازمويلې دي.ددلاوردمېرمن په وينا ده ورته ددويمې ښځې دکولو ټټروهلی وپه دلاور دغه خبره ښه نه وه لگېدلې نو ده ورته ويلي وو ما فکرکوو چې ته به هم زما په څېر ددويمې ښځې شوق کوې،ددوی په وينا ملخی دوه ښځې لري..اتينا مسکی شوه وې ويل "سبابه تاته هم ځوک د دويمې ښځې ټټروهي، داخبره دې هم له مانه پټه ساتلې وه چې ستاسو په ټولنه کې دويمه ښځه کول هم دومره لوی عيب نه گڼل کېږي"ماورته په خنداوويل "لږ تر لږه هغه ځوک دويمه ښځه نه کوي چې لومړی يې دبل ملك وي"وې خندل "باوردرباندې نشته" بيايې وويل "داسې فکرکوې چې دابه يوډول جنسي لالچ ورکول وي لکه زمونږ په ټولنه کې چې ځينې خلك دغه ډول لا لچ ورکوي خو دنکاح په بڼه نه بلکې ديوې شپې يا څه مودې دپاره يوبل ته دډېروستاينو او صيپتونوسره يوه ښکلې جينۍ ورډالۍکړي اودغه ډول پرې هغه څه ومني چې پرې منل يې غواړي"
ورته ومې ويل "کېدای شي ځکه چې زمونږ په ټولنه کې د ښځوسره ديوې شپې او يا څو شپوتصورنشته اودغه يوه لويه بداخلا قي اوگناه گڼل کېږي نوځکه ځينې خلك ددويم واده خبره يادوي،کله،کله ښه پوهېږي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې چاته وړانديزکوي دی به دغه وړانديز ونه مني خودغه ډول خبرې ځينې وختونه دنارينوو ترمينځ د شخصي او جنسي خبرو دپيل ټکی او يوه ښه پيلامه ثابتېږي چې په عام ډول يې سړي د خپلو جنسي غريزو د سړولو دپاره ديوې ناکامې هڅې په ډول د يو بل سره کوي"

اتينا وويل "يانې سړي خپلوکې هغه خبرې کوي چې په عملي ډول يې نـــشي تـــر ســـره کـــولـــی" مـــاوويـــل هـــو!ډېـــرى وخـــتـــونـــه د ښـــايـــســـته او ښکلومېرمنوسره دليدوکتواو په بېلا، بېلو بڼودهغودیادولوکيسې کوي"اتينا ورسېده په خندايې وويل "کله چې سړي خپلو کې دزړه دغه غلاوې راوسپړي نومانا يې داده چې يو بل ته د ژوند رازونه راسپړي، او سره دوستان شي"ورته ومې ويل "هو! خوځينې وختونه اوځينې خلك" وې خندل" مطلب دې دادی چې مجرمان نه وي؟"

ماويل" هو! ځکه چې مجرم دسياستوال غوندې خپل هدف اوخپلې گټې ته گوري نورڅه ورته ارزښت نه لري" وې خندل" دکسين سلطان خبره خوبه دې له ياده نه وي وتلې چې قاتل انسان ته هم لکه دوچې ونې په ډول گوري لکه مونږ چې له وچ لرگي نه د کتابونو الماری جوړه کړو څو مره به خوښ يو،قاتل هم که دچادمرگ په بدل کې د خونې يو ور ترلاسه کړي همدغومره پرې خوشحالېږي"

ورته ومې" ويل د کسين سلطان خبرې مې ټولې يادې دي خوته په خپلو خبرو بيړه کوه چې ناوخته کېږي"راته يې وويل" سمه لام ته په لاره ددلاور د بل ملگري زړورخان دخپلوانوکوردی،دتره لوريې هلته واده ده.دوی دتگ په وخت هلته ستانه شوي"ماورته وويل "دستنېدو لامل به يې داوچې دلاوردمه وکړي اوځان په يو وار له اوږده مزله وساتي"وې ويل "ښايي يويې دغه و،خودوی يوه تمانچه لرله او له دغه کورنه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلاشينکوف ورسره راخيستی دی ،اود تمانچې تر څنګ د کلاشينکوف غوښتل ماته شك پيدا کوي،خوددلاورمېرمن زما دغه شك ردوي اووايي چې که دلاورته کوم شك ورلوېدلی وای يوقدم به هم وړاندې نه ووتللی ځکه چې وايي هغه د افغانستان له حالا توهم ښه خبرواودخپل ژوند په ارزښت هم پوهېده"ورته مې وويل"هغوی دکلاشينکوف دوړلو اړتيا غرنۍ سيمه ګڼي نه د کومې بدې پېښې اټکل" اتينا قلم په په خپله سره،پسته شونډه ايښی و او مازې سريې دهو په ښه وښوراوه. ورته مې وويل "ځينې شکونه داسې وي چې زمونږ په زړه کې وي خو د ښه باور له مخې يې دشك په ډول نه منو" اوددې دپاره چې ځان ډاډه کړو، ډېر لږ تر تيبونه ورته نيسو. مخ يې راواړو او وې ويل "داسياست او جنايت سره ډېرغبرګ نه دي روان....؟"

"له بده مرغه همدغسې ده"

-او پدې پوهېږې چې ددلاور ورور هيڅ همکاري نه کوي؟

- پوهېږم

- لامل به يې څه وي ؟

- نه پوهېږم،

- نوځوبه؟

- "هو.. ..خوکونږ ته که په کونږ کې سمه لام ته"

- دواړوته، اوبهر راووته. هغه د دلاور دمېرمن خواته ورغله او زه د دلاور د ورور سره له خونې راووتم. له کوره چې بهر شو غلي غوندې يې راته وويل ستاسو دا فکر غلط دی چې مجرمانو دخپل جرم د پټولو هڅه نه ده کړې هغوی ان د شپې په تياره کې د خوړ په اوبو په وينو ککړې تيرې وينځلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دسمڅې سرته يې دګټو لويه باره جوړه کړې ده ددې دپاره چې مړي ښکاره نشي او دتل لپاره پرې د ورکو نوم روان شي.

څلورم څپرکى:

## دجـلال ابـاد شــپه

مونږ ددلاور ورور دخپل يو دوست په ګاډي کې کښېنولو اوترې روان شو. اتينا چې په څادري کى پټه وه په لاره يې څوځل خوله داسې رانژدې کړه



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څه خبره چې راته کوي،خو فکر به یې شوچې باجوړدی،اودیوې افغانې ښځې په دودکونړته روانه ده نو بېرته به غلې شوه. ماورته وویل "خیر دی خبرې کوه ډرایور خپل دی ددلاور ورور راته ویل چې نژدې دوست یې دی"چادري ته یې اشاره وکړه.

بیایې وویل "سترګې دې نه وینم خبرې خوندنه راکوي" ماورته وخندل "زماسترګې نه وینې که زه ستا هغه نه وینم" په خنداشوه "والله خبرې پکې خوندنه کوي"

ماویل "بس بیانو غلې شه" له غاښي پورې به خبرې کوو.دغاښي له پاټك نه چې راواوښتو په یو بل پك اپ کې کښېناستو.دافغانستان ډېر ډرایوران مې لیدلي چې لومړی ډېر ښه سړي وي.خو چې سورلۍ ورسره وخېژي بیاپرې ناوخته شي.اوبو څښلوته هم ګاډی نه دروي . له همدې وېرې مې لومړی موټرچلونکي ته وویل "مونږ درسره ځوخو ډېره بیړه مونشته او غواړو د غره لږسیل وکړو. که ځینو ځایونو کې چې مونږغواړو ودرېږو راسره ودریدلی شې خو سمه ده که نه شې درېدلی نو بیا زمونږ او ستا جوړه نه راځي"

داسړی ډیر بد نه و اویابه سورلۍ نه پیداکېدې وې ویل "غم مه کوه،چرته چې ودرېږې صرف غږکوه".

لـه غـاښـي نـه چـې مـوڅـه شـېـبه مـزل وکـړ،یـونـاو غـونـډې مـخـې له راغی،هسې خو داغر ځای،په ځای له ناوونوډك دی ،خوددې ښېګڼه داوه چې اوبه هم پکې رارواني وې.

مخې ته یې یو سړی ناست و. پیکوړې یې پخولې چې ماولیدې ومې ویل "لـکـه چـې داهـغـه لـومـړی دود دی ویـنـوچـې لـه پـاکـسـتـان نـه رالېږدېدلی دی"موټروان هم پوره لوښی و راته یې وویل "پیکوړې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان نه، نه دي راغلي، د هندوستان نه راغلي دي، پوهېږې چې مشهورې پیکوړې چرته پخېږي؟" ماویل "نه! که تا خوړلي وي راته یې ووایه" وې ویل "په جلال آباد کې ددرمسال تر څنګه چې پخېږي،یو هندو یې پخوي" ماورته وویل "نو همدلته مولږ ودرووه. له موټره راکوزشو.د پیکوړو ماما نه مې پیکوړې راواخیستې او په ناو کې ښه وړاندې لاړو،هلته دوه لویې،لویې ګټې وې چې ددواړو په منځ کې اوبه رابهېدې ،په یوې لویې تیږې کښېناستو او د پیکوړو په خوړلو موپیل وکړو.اتینا ته مې د پیکوړو شجره نسب بیان که چې دچېود اوړو نه پخېږي. او بیا مې ورته وویل اوس شخوند هم وهه او خبرې هم کوه، څادري یې لاپخواپورته اړولې وه،بوټونه یې هم وښکل،سپینې ډبوسکۍ،ډبوسکۍ پښې او سپینې ،سپینې پنډۍ یې ښکاره کړې ، پښې یې اوبو ته ښکته کړې د ښه شیطان ماشوم غوندې یې ورو،وروپه اوبو کی ښوځولې چې سپینې اوبه یې شیندلې او په نازیې وویل.

ښه نوڅه فکرکوې چې سمه لام ته به تلل څنګه وي ؟"

ورته ومې ویل هغه شعر دې اوریدلی دی چې" سر چې په تلي کې بږدي وېره له چانه کوي". وې ویل یانې تلل به سر په تلي کې ایښودل وي. ورته ومې ویل "خو مالومه خبره ده دلته دخپلو افغانانو خیر نشته نو ته خولا انګرېزه یې " وې خندل "یانې هر سپین پوستی انګرېزدی" ماویل "هو! اوکه انګرېزنه وي د انګرېزپه خوا خو ولاړدی" وې ویل "رښتیا ووایه افغانان به ماته د انګرېزې ګومان کوي اونور افغانان لاپرېږده دخپلې مور خبره کوه، چې هغه به مې هم انګرېزه ګڼي؟"

ورته ومې ویل "په لومړي سرکې خو،هو"

- اوبیاوروسته ...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بياورسته نو پښتانه له ترکيانو نه ډېر له پخوا څخه خبردي.

- هغه څنگه...؟

- رحمان بابا(رح) خبرکړي دهغه داشعر خومې درته ويلی و چې. (يود ترکو بې نيازي بل عاشقي شوه+په پر هر باندې مې بل پرهر پيداشو) ښا! رحمان بابا به ترکه پېغله چرته ليدلې وه.

- نه پوهېږم خوښه ترې خبرو اويابه يې له خوشحال با با اورېدلې وه.

-هغه هم ياده کړې؟

هو خو صيپت يې ورله ندی کړی.

- څنگه . ..؟ شعريې درته ياددی.

هــووايــي،"پــښــتــنې جـونـه مـې ولـيـدې پـه سـتـرگـو+ څـوك چې تـرکـې د خـطـاسـتـايـي خـطـادي"

په خنداشوه وې ويل "دايې هم د ترکو نجونوصيپت کړی دی"

- څنگه يې دترکو صيپت کړی دی،صيپت خويې د پښتنو نجونو کړی دی؟

ددې نه مالومېږي چې خوشحال خان بابا هم يو څه قوم پرست و.

په خنداشوه قوم پرستان خو ټول يئ او ټول انسانان يو څه دغه تومنه لري خو دترکونجونو صيپت يې ځکه کړی چې ترکۍ يې دنمونې په ډول راوړي؟ لکه ستاسو په ټيو کې چې ډېر ځله دغه شی ليدل کېږي .

- لکه څنگه..؟

- په مسکايې وويل "لکه د نجونو ونه چې د چنارسره پرتله کوئ (له چنار لوړه دې ځواني ده+ مهرباني ده که کـوکۍ راکـړې مــيـنـه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې لنډۍ کې که وګورې مين دخپلې محبوبې ځواني له چناره لوړه ګڼي خودغې دعوې د چنار لوړوالی راټيټ کړی نه دی بلګې لاپسې لوړ اودنګ ښکاري.

په خندا مې ورته وويل "مهر باني ده......"

- هغه هم په خندا شوه وې ويل "لکه څنګه چې ددغې لنډۍ خالق په ټولو حواسو د چنارلوړوالی منلی و" ځکه يې د خپلې مينې لوړوالی له هغه پورته ګاڼه، همدغسې خوشحال بابا هم د ترکو ښکلامنلې وه نو ځکه يې پښتنې ترې لوړولې.

غلي غوندې مې ورته وويل "دترکو ښکلاخوزه هم منم"

- په ترڅ يې راته وکتل .

پوښتنه مې ترې وکړه "خلك مصرۍ جونه هم ډېرې يادوي پوهېږې چې ولې" په سترګوکې مسکۍشوه.له قده لوړې دي،ستاسودلنډۍ په وينا " له چنارلوړې يې ځوانۍ دي"

ماويل "لکه ستاغوندې...؟"

زلفې يې څنډ وهلې "لکه زما غوندې او لکه ستاد کونړدنښتروغوندې"

- خوزماله لوړې نه غونډه،مونډه ډېره خوښېږي .

- ته د لوړې نه خبرنه يې.

- څه ټال خوپکې نه اچووم.

- په پښويې اوبه ووهلي دارې يې وکړې.وې ويل (داغونډکۍ ټوله ګاڼه شي+څانګه چې نيمه راښکاره شي خوند کوينه).....

ښه شی ښه وي نو، مابه څه د غونډکۍ صيپتونو ته دليلونه لټول بې ځوابه شوم. اتينا هم راپاڅېده اوزه هم ورپسې راپاڅېدم . څادري يې راښکته کړه ،



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې ويل

"په ښځو ډېر ويربږئ چې څوك به يې درنه وخوري په څادرونوكې يې رانغاړئ" او بيا د گاډي په لور روانه شوه.

مونږ په كونړكې ايسارنشو،جلا ل اباد ته لاړو. مازديگر مهال جلال اباد ته ورسېدو،اتينا ته مې وويل

"په ننگرهاركې مې دترورکوردی. اويو ښه ترورزی هم لرم چې دټول ښه والي سره يوه ستونزه لري، ډېرزرخپه كېږي. اوكه خبر شي چې ترننگرهاره راغلی يم نو د بوختيا دليل مې نه اوري اونه يې مني"

وې خندل

"له ونې به غونډ،مونډوي" ورته په خنداشوم بېخي لكه چې ليدلی دې وي ، وې ويل

"هسې د غونډو،مونډو صيپتونه كوې كه زما غوندې لور،دنگ وای كله هم نه خپه كېده" بيايې وويل

"څه! ښه ده چې تاته د"چنارونې" ښېگڼې څرگندې شي درسره وبه يې منم چې ته پاتې شه ،دخپلې ترور او ترورزوی سره خواله وكړه اوزه به كابل ته لاړه شم"

اتيناله لارې نه پېغام وركړی و،سيده هوايي ډگر ته لاړو، يوه فوځي الوتكه د الوت لپاره تياره وه، اتينا وروختله اوزه ترې بېرته راستون شوم د ترورکورته مې راغلم. خودترورزي سره مې،د نوركله په شان ترناوخته د خواله وس او سبك راپكې نه و ستړيامې بانه كړه كټ مې غولي ته راښكه او ښهٔ دروند پكی مې سرته ولگوو لكه چې ترورزی راباندې پوهيدلی و كټ يې راله جوړوو او غلې غوندې يې زمزمه كوله چې"ادم خانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرسي کټ مې راکاږه دالان ته+ ماله خوب نه راځي کټ مې راکاږه دالان ته"

سندره مې اورېده خو ځان مې غلی کړ،پوهېدم چې که په خبروکښېوتم نودفکروخت به ونه لرم. اوماډېره ضروري ګڼله چې دپلان په اړوانو پړاوونوغوروکړم. اتینا د پلان مشره وه خوددې مصرې په شان چې "غم دی دلالي په سر مسته دې تازه ګرځي"هغې خو ویل ځه یارشته دی. څه به کوي. او پدې یې هم باور درلودچې سربه ورکړم خوهغه به ورنه کړم، غم او سرخوږی ټول زما و، زه خوله خپلې ټولنې او سیمې نه ښه خبرووم او پوهېدم چې ترسمه لام پورې تلل او بیا هلته پلټنه کول، اصل قاتل مالومول او بیا ترې د قتل علت او لامل پوښتل اوبیا په دوه کسه داهرڅه تر سره کول،دانویو د خندا وړاواحمقانه پلان و. هغه څوك چې شك پرې کېږي یادجرمونودلویې دنیا لوبغاړي دي او یا دهغه سیاست د شطرنج مهرې دي چې لوبغاړي یې د زبر ځواکونو په وړاندې والاړدي. هغوی له ورتلل او بیا ترې د اپلټل چې وژنه موکړېده، خو ولې مو وکړه ...؟ چادرته ویلی وو که پخپله ....؟ پدې فکرونو د شپې په تیاره کې ښهٔ خندا راغله .له ځان سره می لږه شېبه وخندل بیا مې ځانته فکر شو. په کټ کې ستوني ستغ اوږد،اوږدپروت وم ، پکی مې سرته غربېده چې له هوانه یې شور ډېر و. پښې مې وروغوندې یوه په بله وسولوله فکر مې شو چې ما شوچیچلې دي، پورته اسمان ته مې وکتل د ستورو په موقیعتونو او خریته هم نه پوهېدم چې وخت راته څرګند شي ، دغني خان شعر رایادشو چې وایي ."
سپوږمۍ شپول وهي ګډېږې+اودستورو لاس پړقېږي+اوس ښکاره شی اوس پټېږي+دوریځوپه ګلزار+غني ناست د سیندپه غاړه+دغمونوترې تاوجاړه+څه به کړي سپوږمۍ اوواړه+څه بوډافقیر څه یې سېتار"

(c) ketabton.com: The Digital Library



انديښنه هم عجب شی دی ، کاراو پـلان هـرڅـه رانـه هـېرشـول فـکـرمـې لـه سـتـورونــه د سـتـورو عـلم (نـجـوم علم) ته لاړ د يو ملګري خبره راياده شوه. هغه پدې حديث خبرې کولې چې وايي "علم دومومن ورکه متاع ده چې چرته يې پيدا کړه تر لاسه دې کړي"ويل يې زمونږ نه دغه متاع په ستوروکې ورکه شوه. زمونږه عالمانو دنيا پرې ايښې وه د ستوروپه علم کې يې نوې ، نوې لاس ته راوړنې کتلې او د يورپ د عالمانو فکر ځمکې ته و.پوهېدل چې ژوندپه ځمکه کېږي او که ژوندستوروته لېږدېږي هم له ځمکې به ځي نوهغوی څه کول.. ؟ هغوی په ځمکه په ببلا،بېلو وختونو پسلونه کرل، بيايې ورته په ببلا،ببلو وختونو اوبه ورکولې،د هرپټي د کر او اوبه خور نېټه يې د ځان سره ليکله د کال په پای کې يې پرې فکرکوو چې کوم،فصل ښه حاصل ورکړ، اوبزګرانوته ښايي د کومې لارې سپارښتنه وشي، هغوی ددغو تجربو پر مټ له ځمکې نه ستوروته ورسېدل او مونږ له ستورونه ځمکې ته راوغورځېدو.

پدې فکرونو، فکرونو کې خدای خبرکله ويده شوی ووم خو سهار راپاڅېدم ترورزي مې په خنداوويل

"هيڅ د عشق له غمه نه دي برابر غمونه کل+چې د يار فراق دې ووئ دغه دي د خدای وهل"

پسې ورغبرګه مې کړه

" په جومات کې مې ونه موند په مکه کې رانه ورك شو+ خدای مې زړه کې راپيدا شو چې مې مخ ديار کړو ښکل"

ورته ومې ويل

" کاش! چې د عشق غم خووای. څومره ښاغلی غم او څومره خوږ درد" په خندا شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



" داسې خوږ درد لکه ددوه ورځوپه زاړه پر هر چې د سپین باز په سپینه بڼکه ورو،وروتاوده ملهم راکاږې چې هم دردکوي هم خوند"

پوه شوم چې دمیني ددرد په هکله یې زما نظرراته تکرارکړ. دسهار چای ته ناست وو چې د اتینا زنګ راغی وې ویل

"نن ورځ به مونږ د سبادپاره پلان جوړوو، زه به سبا سهار اووه بجې په ننګرهارکې یم .همدغلته به سره وینو خوکه تر بیګاپورې ماله خپل راتلونکي پلان څخه خبره کړې ښه به وي"

ماویل

" سمه ده! تر مازیګره به زه هڅه وکړم چې دراتلونکي پلان منځپانګه په ټلیفون یا برېښنالیك درولیږم.

له چای څښلووروسته مې تروړځي ته وویل

"غونډه،مونډه ځرګندجانه! تاسو خپلوکارونو پسې ځئ په ځمکه خواره شئ اودخدای فضل (رزق) ولټوئ او زه به همدلته پدې حجره کې دفکرنیلی وزغلووم"

وې خندل

"پوهیږې چې فکر ترذکره لوړدی"

## پنځم څپرکی:

## دپـلان جـوړول

ماته دیوډېرګران "مشن" پلان جوړول وو.داپرېکړه شوې وه چې سمه لام ته به ځو،دانو بدلېدای نشوه ...؟اواتینابدلول هم نه غوښتل، خوزما کار پدې غورکولو و، چې کومه لاره به غوره وي. زمونږ سره درې لارې وې .یوه داچې دملي اردو عسکردځان سره ملګري کړو اود هغوی په زور په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول کلي قبضه وکړوگنډېری،تبرگی اوانډيوالان يې ونيسواوبياتري پوښتنې گروېږنې وکړو.خوکه مونږدملي اردو ځواکونه له ځان سره بيايوبيادهغوی په مرسته له ټول کلي چاپېربېرواوبياپه کلي کې دمجرمانو لټون کوو.نوددې لپاره پکاروه  چې يوداسې کس هم د ځان سره بوځو چې گنډېری وپېژني.داسې کس ملخی و،خو په ملخي ځومره باورکېدای شو چې گنډېری به راښيي او بل داچې بيانوزمونږ ضرورت څه و.داتينا سره همدغه پوښتنه وه . چې ولې دملي پوليسو په زور مجرمان د شيگل ولسوالۍ راونه غوښتل اوبل داچې دپوځ او پوليسو دځواکونو تلل هلته له خطره خالي وو څه،هيڅکله نه،هره شېبه ددې شونتيا وه چې دوی په کومه ناڅاپي او نه پلان شوې جگړه کې ونښلي.اوداهم مالومه ده چې دغره ددغه پاس سرنه  د مجرمانو راوستل اسان کارنه و. د شيگل دڅارنوال خبره هم سمه وه چې ويل يې مونږ نه غوښتل پدې ډول مجرمان وترهوو چې خپله سيمه پرېږدي.ځکه چې پوهېږو راوستلی يې نشو.هغه غردی . په غره کې ځوساته پلی مزل دی. اوددومره مزل نه وروسته که زمونږ پوليس وروړسيږي او هغوی ديوې ونې ياغنې شاته شي پيداکول يې بيا اسان نه دي. دا وړانديز زما په نظرهم د عمل وړنه و اوپه لومړي سر کې مې پرې کرښه راښکله. بله دغور لاندې لار چې اتينا وړاندې کړې وه داوه چې په يوه هلي کاپټرکې لاړ شو دوه، درې وسله وال ساتونکي د ځان سره واخلو، له کلي نه يوې گوښې ته کوز شو اوبيا کلي ته ورشو. پدې کارکې ځوستونزې وې يوه داچې دايوه غرنۍ سيمه وه دهلي کاپټر کښېناستل پکې گران او يانا شوني و. دهغې داواري لار داوه چې مونږ په رسيوله هلي کاپټرنه راکوز شو. خوپه لويه کې هلي کاپټر څه ستونزې لرلې، کېدای شوه چې دسيمې خلکو مونږ ليدلي وای اوزمونږ په مشن يې د"کمانډو د عملياتو"يا"commando action“


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گومان کړی وای او لکه د کندهار غونډې چې دامريکايانوډېرکمانډو عمليات ددوی په ډېروځاني زيانونوپای ته ورسېدل او بلکې ناکام شول همدغه شان داهم زمونږ د ژوند په ختمېدو پای ته رسېدلي وای.
زمونږ سره درېمه لاردا وه  چې دوه په دوه د کابليانوخبره چکرزده ، چکرزده او دلرنوورونېو په ژبه په گپ،شپ روان شو په لاره سره خبرې وکړو،ديخو چينواوبه وڅښو،ټيټاقې،ممانې اوگورگورې وخورو،خوله ،خوله شو او د سرويسونو او اورګاډو د مزل نه وروسته په پلي مزل کې هم يو بل ښه مالوم کړو. خو پدې کې هم ستونزې وې لومړۍ ستونزه خو د پلي مزل وه .خو يو څه په ځانونو ډاډه هم وو،په ترکيه کې مو دوه ځله په يوه ځنګل کې مزل کړی و، څوساته په ښکار پسې گرځېدلي وو. اويوبل ته مالوم ووچې په اسانۍ تر سمه لام پورې رسېدلی شو. بله ستونزه دا وه چې هلته نو څنگه لاړشو. وايي چې څنگه غرهغسې کربوړی.ددغو غرونو خلك خوښکاره مالوم وو، هم يې ښځې هم يې نارينه ،ډېری يې په خوارځواکۍ اخته دي او که خوار ځواکي نه وي نو هسې هم د غرونو خلك ډېر مزلونه کوي،کارونه کوي څربېړې نه اونه خېټې لري او همدالامل دی چې د لوړفشار اوزړه ناروغۍ پکې ببخي کمې دي.
ماهنداره راواخيسته،پکول مې په سرکړ خوپوهېدم چې دابې ځايه هڅه ده دبڼې بدلول دومره ساده کارنه دی. بڼه بايدداسې بدله شي چې پخپله هم درته ځان بل ډول انسان ښکاره شي. خو پکول زمابڼه سيمې ته رانژدې هم نه کړه ښه يې لرې کړم، ځان راته داسې وبرېښېد لکه په ژمي کې چې په پېښورکې دشلم گريډافسرته گورم پکول مې لرې کړ. ځان مې پرېښود، اوداتيناپه غم کې شوم چې زه خوبه د ځان سره څه وکړم خو اتينا به څنگه بدلوم. دغه سور،سپين مخ،دغه زرکينې سترگې دطلاوو په رنگ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



كوده،كوده زلفې د چنارغوندې هسكه ونه ، سپينې متې ، نرۍ گوتې او لا اوږده نوكونه دابه نو څنگه بدل كړم .

زه لاپدې فكر كې وم چې زنگ راغی،ستېلايټ مې د كوټې له كړكۍ نه راواخيست اوبهر ووتم د منلوتنۍ‌مې كښېكاږله چې د بريالي غږ مې واورېد. په خندايې وويل "مبارك دې وي په كونړكې گرځنده ټلېفون كار پيل كړ. ماويل چې لومړی زنگ پرې تاته ووهم" ورته خوشحاله شوم ماويل

- "داخودې ډېر ښه كاروكړ. زه نه پوهېدم چې ستاسره څنگه اړيكي ټينگې كړم بيامې ورته سمه لام ته دتگ درې واړه لارې اوپه دريــو واړو كـــې پــراتــه خــنــډونــه لــنــډ،لــنــډ راوســپــړل"

وې ويــل

-"نـوركـارسـتـاسـواوپـرېـكـړه هـم سـتـاسـو چـې څـنـگـه مـو خـوښـه وي. خـو زماپكې يو وړانديزدی چې دوه تاسو دريم يې زه، كه په هر ه لاره اوله هرې لارې ځئ يو به در سره زه يم"

ورته ومې ويل

- "زه ستا دوړانديز سره جوړنه يم او په كلكه يې ردووم"

راته يې وويل

-"زه كله هم داسې وړانديزنه كووم چې څوك يې رد كړي.ددې وړانديز د ردولو حق نه دركوم"

- نه! دې كې سل خبرې راځي.

- په چا.....؟

- څوك چې ځي په هغو.

-اوكه زه درسره نه يم بيابه ترې تاسوبچ يئ .....؟

- نه ....خومونږ نه غواړو د پېښوبداغېزپه تاهم وشي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوپه تاسو چې کېږي.
- مونږ خو پکې دغه هر څه منلي.
- ولې......؟
- خودنده موده ،غاړه موورته ایښې.
- زما هم دنده ده ،خو ستاسورسمي دنده ده او زما اخلاقي اووجداني.
- ستاداحساس نه مننه ...... د ټلېفون په اوږ دولو دې بې ځایه خرڅ مه کوه.
- سرمې مه راپړسوه همدغه وروستۍ خبره ده.
-که مړشې ښځه دې کونډېږي.
-اوستاهغه چې کونډه شي داخیردی....؟
- زماښځه کوم ده؟
- ولې داچې درسره گرځي،ماخویوڅه څکه کړېده،ته خو تش دسبا په امید شپې تېروې.
- ورته په خنداشوم. "ځنگه چې دې خوښه وي"
-همدغسې مې خوښۀ ده او ټلېفون یې بند کړ.

دبریالي له ټلـېـفونــه وروســته مې څــه شــیبه فــکروکـــړ. پوهېدم چې دی راسره ډېره مرسته کـولی شي. زه خو لومړی پاکستان او بیا ترکیې لـه کــونږ نه بېخي بــې خــبره کړی ووم. یواځې دهغه چانــومونه مې په زړه وو چې پـلار مـــې پــه کـیسو او نکلونو کې راته یـاد کړي وو او یواځې هغوی مې پـېژندل چې د هجــرت په مهال مې په پاکستان کې لیدلي و. کونږ ته څـــو ځـــله لــه پــاکستان او بــیا له تــرکـیې نه درخصـــتۍ پـــه مهال راغلی ووم خووایي د جـولامنده تر موگي پـورې وي زمــا هم مـــنده تــر بریالي پـورې وه،دزړه یار مې و او دزړه خبرې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره کېدې . دهغوی کــورتــه راغلــی يــم، شپه نيمه مې کړې په جاله کې په سيند پورې وتی يانه پورې وتی، دشنې شولګرې په چکړو پولو په سهاريامازديګر لږ ګرځېدلی او يامې دبريالي سره جال اخيستی د شيګل په خوړ کې مو کبان نيولي او شپه موپخپله پاخه کړي اوخوړلي وو. نورله کونړ نه همدغسې ناخبره وم لکه اتينا. او د بريالي خوله هجرت نه وروسته دايو لسم کال و چې په شيګل کې اوسېده ، له هرې ونې غنې اوله هر غر او کر بوړي خبرو. مونږ دده له دغې پوهې نه کاراخيستلو ته اړوو. مونږ نور ځايي خلك هم پيداکولی شول خو خبره د باوروه ، هغه خلك چې انسان وژني هغوی ته ټول انسانان يو برابردي. ښه بدپکې نه ګوري که پوه شي چې يوله بل نه په مجازي ډول لوړدی، دښه حيثيت او مقام څښتن دی دهغه په مرګ لاډېرفخرکوي. نو پدغسې حالاتوکې له مونږ سره دوه لارې وې . يادابې دبريالي نه مرسته وغواړو. او ياله هيچانه مرسته ونه غواړو.

خوماپه هيڅ ډول له بريالي نه مرسته نه غوښته اودليل يې ښکاره و مانه غوښتل د خپلې دندې او دخپلې"نازولې"ددندې دپوره کولو دپاره خپل خوږ دوست خدای مه کړه له لاسه ورکړم . زه نه پوهېدم څه وکړم .ټلېفون مې همغسې په لاس کې وو.

دبريالي خبرې مې بيا، بياپه غوږ کې انګازې کولې او پدې مې باوردرلود چې هغه به له خپلې خبرې وروسته نه شي، دهغه دوروسته تللو يوه لاروه او هغه دا چې مونږ دقضيې نوره پلټنه بنده کړو.اودابه يوه ډېره بې خونده پرېکړه وه. همدې ته زه له ترکيې راغوښتل شوی ووم او اتينا ته خونه پوهېږم ولې له خپله ژونده هم خوږه وه. بس بسم الله مې کړه اتينا ته مې زنګ ووهو. اوورته ومې ويل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بریالی غواړي له مونږ سره لاړشي.

اتینا چیغه کړه

– oh Great څومره ښه! بریالي ته مونږ ډېره اړتیالرو. بیامې ورته وویل

-"زه یې په ټللو خوشحاله نه یم"وې ویل

"ستاپه اندېښنو پوهېږم خو باورلرم چې دهغه تګ به دغه اندېښنې راکمې کړي" بیایې وویل

-"که بریالی راسره ځي نوماناداچې تادرېمه لارخوښه کړېده" ماویل

-"هو!..... درې واړه به ځو، خودتګ لپاره ورسره دضروري شیانو د برابرولو دنده د چاشوه؟"

-" زما"

-"لاس کړی (زولنې)ورسره خامخاراوړه"

-"په زولنو ځان تړې ،که څه پرې کوې"

- "زما تړلو له دې زلفې بس دي خونوربه څه به برابرکړې."

په خنداشوه

- "څه چې ستاپکاروي"

- ورته ومې خندل "بیانو ورسره د کارولوواك هم غواړم"

- وې خندل "واك یې د پخوانه ستادی. خوزړه به درله درووړم ،ته زړه نه لرې"

-زړه مې دردکوي. پرهرېې خوله وازه کړې ده .

-"دسپین باز په سپینه بڼکه پرې تاوده ملهم راکاږه ".

-"دسوا پااوټکورغواړي".

-"زړه دې له کومه کړو....؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "زړه نه دی ژبه ده "

-ژبه چادرکړه .....؟

- "مينې!"

دخندانه شنه شوه!

-" لکه چې حيايې درنه واخيسته ، ژبه يې درکړه او ټليفون يې بندکړ"

**شپږم څپرکی :**

**دبـريـالـي مـېرمــن**


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قضاماسپښين د اتينا زنگ راغی وې ويل په ننگر هارکې يم ماويل د مخابراتو څلورلارې ته راشه . زه درووځم.له ترورزي مې اجازه واخيسته او ور ووتم،کتل مې اتينا په يوشخصي لينډ کروزر کې راغله ، گاډی مې مخې ته ودرېد، ډرايور ترې راکوز شو، ماويل چې ښه راغلاست ته راکوزشو. هغه رخصت غوښت، بس ماويل "چې ځې په مخه دې ښه نو زه به څه ووايم" وختلم گاډي ته کښېنا ستم، اتينا ته مې ښهٔ راغلاست ووايه مخ يې رانژدې کړ،له لرې مې د شونډونه يو چړپ وويست چې د ښکلولو غوندې غږ يې وکړ او گاډی مې روان کړ،غلي روان وو،خبرې مو نه کولې چې اتينا خاموشي ماته کړه، وې ويل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



-" ډېر تریو روان یې "

- ماویل" دلارې امنیت دډاډ ورندی،همدلته یې ځو ورځې مخکې ستا سو یو وطنوال انجنیرتښتولی و،

رنګ یې سور شو،تندی یې تریو کړ

-" عجیبه ولس یئ کور هم درله جوړوي او وژنی یې هم بیایې وویل

- "چې هرڅه وي وي به،که خپله دې خوله نه وازېږي دغه میرات مړی ټیپ خوولګوه"

" ټیپ مې ولګوو خوخیردي خپه کېږه مه دامخامخ دځوکۍ بازاردی. مولۍ به پکې راواخلو"

هغه نه پوهېده چې د خدای په دومره نعمتونو کې مولۍ ولې یادووم .

ورته ومې ویل د ځوکۍ مولۍ ډېرې مشهورې دي. په ځوکۍ کې مې مولۍ راواخیستې د ګاډي وروستي سیټ ته مې ور وغورځولې او بیا مې ګاډي ته پونده ورکړه،په خنداشوه

- "بس چې کوم ځای دې خوښ شي یونوم پرې کېږدې،ابشارونه یې سندریز کړې او غرونه یې شاعرانه، مخکې ځومره کلي اوستاسو په ژبه "ښارونه" تېرشول خو نومونه دې هم ورله وانه خیستل" پوه شوم چې ما راګروي،ورته ومې ویل

-"لومړی خوراته داووایه چې زمونږ ژبه یې څه مانا؟" په ټوکویې وویل

-"دوه دوکانونو ته هم ښار وایئ"

-"ښه نو! دجلال له ښاره چې په پل راپورې وتو،ورپسې بهسود ولسوالي وه، ورپسې چې دې د اوبو مست لښتي اوشنه توتان ولیدل دغه دخېوې ولسوالي وه"

وې خندل "ښه،دغه خېوه شوه،او بیا"

 www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بیا نورگل"
-"او بیا"
-"بیا دڅوکۍ"
-"په هغه یو خوړ کې چې دې پورته وکتل هغه کوم ځای و"
ورته په خندا شوم
-"دظالم لورې، نه مې پرېږدې،زه چې دا غلی را روان وم،رښتیاله وېرې غلې نه وم،په خپلو ادبیاتو کې مې ددې سیمې په بیا،بیا یادولو فکر کاوه داڅوکۍ چې نه غر لري،نه ابشار،د درمند غوندې اواره ځمکه ده،دسړك په دواړو خواو داڅو دوکانونه اوهوټلونه پراته دي خو دکونړ په شاعرانو ډېره گرانه ده" هغه بیا په خندا شوه
-"ښه ده چې شاعرنه یې،په غرونو او ابشارونو پسې به گرځېدې،ددې سیمې شینوالی پخپله دې ته دښکلایو لوړ مقام ورکوي"ماویل
-"ښه،چې څنگه یې گڼې خو ټیپ ته غوږ شه"
په ټیپ کې نغمې ویل
-"په ننگرهار کې سړکال پاتې شو گرمۍ ته +بیانه راځینه وړکي څوکۍ ته + دڅوکۍ هسې نوم بدنام دې+ مازدیگری دسرکاڼو مزه کوینه+بیانه راځینه وړکي څوکۍ ته" بیامې ورته وویل
"ماچې په کوم خوړ کې پورته وکتل همدغه بوډیالۍ وه،له سړك نه چې لږ پورته ورشې دبوډیالۍ کلی دی،او دبوډیالۍ توتان ډېر مشهوردي ، چې دجینکو سیل ته زړه وشي نو بیا وایي چې.
((ادکې مورې ماڼو له ځمه+دبوډیالۍ توتان ږلۍ وهلي دینه+ماڼو له ځمه))
او دجهاد په وخت کې لومړی ولایت کونړ و، چې دمجاهدو لاس ته ورغی،نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا پسې چا داجوړه کړه چې "املې نه پورته بوډیالۍ ډېره ښایسته ده+ دمجاهدومنطقه ده."

"تاخو دجګړې دوختونو دکونړ یوه بله لنډۍ هم ویله،هغه څنګه وه"

-"داسمار واله"

"هو،زه یې رایادوم" لږ فکر یې وکړ بیایې وویل

"راځئ چې دامېږونه پرېږدو+اسمارله نوي ظابطان راغلي دینه"مونږ لا دا خبرې کولې،کړپ شوټیپ کیسټ رااوویست چې بل کیسټ مې ورواچاوه دسردارعلي ټکر وخوت،چې دغني خان شعر یې دزړه له تله راویسته.

که په شګوکې ژوندون وي ربه بومې ځه صحراله + که سوداکې ناز او رنګ وي مامریی ورکړه سوداله +که هلال پېغام د نور، دخندادرڼانه وي+ماته غوره توره شپه ده ډېره،ډېره له هلاله+که دژوندمطلب بل نشته+بس ژړل اوسوځېدل دي+داخپل جوش په ببرته واخله+داخپل هوش په ببرته واخله+زه پتنګ ستاپه رڼایم+مین ستاپه تورو نه یم+که کافر که مسلمانیم+یمه ستادنورو نه یم......

اتینا دغني خان شعرته فکر وړې وه. وې ویل

-"عجیب حالت لرم" ماویل

-"ولې؟" ویل یې

-"دزړه کړکۍ مې د اسمان لورته خلاصې غونډې شوې"

ورته ومې ویل "تاسوفکر کوئ چې په تصوف کې ډېر وړاندې یئ"

وې ویل

- "دده اودرحمان باباڅه توپیردی...؟" ماویل

- "دلته هم هغه خبره ده چې وایي"منزل دټولو یودی خوسفر جدا،جدا"

سدده اود رحمان بابامنزل یودی لارې یې یوڅه سره جدادي.درحمان بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله،کله ملايي راوکتېږي، ملا شي او د مليانو غوندې نصيحتونه اووعظونه کوي. خو دغني خان ملابدراځي،بد ردورته وايي او خپل رقيب يې ګڼي، خپله پدې نظر دی چې هدف دده او د ملايودی. لکه چې وايي.
نورمقصدزمونږه يودی+دژړاځای موشريك دی+يوارمان ددواړو زړه کې+کړي جدا،جدا اظهار.
خوبياځان له ملابرګڼی ځکه چې فکرکوي دده دنده له ملا اوچته ده، ملاڅه کوي؟ عام خلك دجانان په لوربيايي، په وعظونو،نصيحتونو اووېرولويې بيايي او غني خان خپله دنده دهغو سرکښو خلکو بيول ګڼي چې د ملاپه خبره غوږ نه ګروي.
نوځکه وايم چې دده او رحمان بابامقصداومنزل يوخو لارې يې کله سره ګډې او کله سره جلاشي. رحمان باباخدای يادوی،الله يادوي او چې پدغونومونو کوم ذات اقدس ته خطاب کوي همدغه ذات ته غني د جانان خطاب کوي او چې کله بيادښايست د ځل اوڅرك خبره راځي نو له يونه په ټول کاينات کې پټېدلی نشي او بل يې د ګل په پاڼو کېويني .رحمان باباوايې: "مخ د شمعې په پانوس کله پټېږي+تاچې واغوستې د خيال جامې نرۍ"يانې هغه ته کاينات دخيال نرۍ جامې ښکاري او فکر کوي چې خدای انسان ته کاينات ورمخکې کړيدي او په همدغو کايناتو کې يې ترې ځان پټ کړی دی خوله ده نه پکې نشي پټېدای.
اوغني خان وايي: "ماپه ګل کې وليد چې تې نه مومې کتاب کې+ اې ملاستانيم کتاب مې واورېد په رباب کې"او غني يې بيا دګل په ښکلا او درباب په سوز او ساز کې ويني، هغه څه چې دده په فکر ملايې په کتاب کې نشي موندای. مونږ پدې خبرو کې وو چې دبريالي زنګ راغي . ټليفون اتينااوچت کړهغه پوښتنه کوله چې چرته يئ . اتينا "وويل داکم ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی؟" ورته ومې ویل" له نرنګ نه را اوښتي یو اسعداباد ته په نژدې کېدو یو" هغه ته به یې حساب معلوم ونو اتینا ته یې ویلي وو چې دماسختن دلمونځونو وخت ته به راورسېږئ . اتینا چې دوخت د ټاکنې لپاره د لمانځه دوختونو اصطلاح واورېده ،پوښتنه یې وکړه

-" ولې وختونه د لمانځه دوختونو په پیمانه ، پیمانه کوئ"

ورته ومې ویل

– "ساعتونه راله ته واخله چې په ساعتونو اود قیقو یې پیمانه کړو"

وې ویل

-" ولې ماخو چې ولیدل ساعتونه دلته ډېر عام دي، دهر چا په لاس وي"

ورته ومې ویل

- " خو پوهېږې چې د څه دپاره یې تړلي وي؟"

-" مالومه خبره ده چې دوخت دمالومولو دپاره "

-" ورته ومې خندل "خود کوم کاردوخت دمالومول دپاره؟"

- "دومره تحقیق چې رانه کوې خو پخپله یې راته ووایه."

-" مونږ د میاشتو د حساب په ځای د پسلونو لو،لور،کر او غوبل نېټې ورکوو. یاوایو چې په غنم لوکې یاد کر په وخت او د شولو د نال په وخت او یا داچې د جوارو‌پسل واخیستل شي او یا جوار بمبل وباسي دغه وختونه او نېټې ورکوو او بیا چې خبره له میاشتو راواوړي او ورځو ته راشي نو بیا ورځې په پنځه لمونځونو ویشو او یا پرې ،کله کله د لمر خاته او اشراق وختونه هم ورډېرکړو.سرېې وخوځوو.

- ددې مانا داده چې تاسولادوخت ارزښت ته هغومره پام نه دی اړولی څومره چې په کاردی.

ماویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هو... دلته ځوك د بچو د پیدایښت نېټې هم نه لیکي ځکه چې دغه خبره چاته ارزښت نه لري، بس میندې ناستې وي کیسې کوي. د کلونو په ځای د خپل ځوی یالورد خاپوړو، دکنډاسې خولې (دغاښونو دوتو) او یاد شونډې د توربدو او که ښځې خپل منځ کې وي نو بیا د خپلې لور یاځوی دپیدایښت نه لامخکې وخت په هغه یاهغې پسې تړی او وایي په گېډه مې و،یاپه گیډه مې وه"

پدې سره اتینا په کړس، کړس وخندل خوله یې رانژدې کړه، زړه مې خوشحاله شو ماویل که خوله راکوي خوچې شونډې یې رانژدې شوې بیایې په شونډو هم هغسې چړپ وکه لکه ما چې د هغې مخ ته په جلال ابادکې کړی و. اووې ویل

-" ځومره مزل پاتی دی" ماویل

-" دادی وروگرځېدو. مخامخ د بریالي دوی کوردی"

د هغوی کورته د موټر لارنه وه . لږ لرې مود یو بل کور د حجرې مخې ته موټرودراوه او ورکوزشو . اتیناو ویل

" شپه ده ځادري نشم په سرکولی" ماویل

"د ظالم لورې که چاپه پتلون کې ولیدې د بریالي کډه هم ورپه سر ووینه"

ځادري یې په سر کړه اوورغلو، چې وموکتل بریالي لستوڼي بډوهلي دي .

چاړه یې لاس کې ده او له نغري راپاڅېد. اتینا وویل

-" ماوربدلي ووچې تاسو دښځوسره په پخلنځي کې کارنه کوئ،خو دغه لکه چې سمه خبره نده"، بریالي وویل

-"لومړی خو ستړي مشئ،او پخیر راغلئ ، او بیا پدې مې پوه کړه چې ددې مطلب څه دی چې مونږ په پخلنځي کې له ښځو سره کارنه کوو؟. وې خندل

-" ځانونه د کورله کارونو اوچت گڼئ" بریالي ورته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوس خو دې پخپله ولیدم،باورخو به کولی شې چې (ماته یې اشاره وکړه ) ملګری مې هم زما په څېرد پخلنځي نه ډېر بدنه وړي.
اتینا وخندل
-"کارته کوې اوباوربه دبارېدې کوږ لرګي کوم....پده خومې هیڅ باور نشته خوبیاهم نصیب به مې داوې"
دبریالي مېرمن پرې غږ کړ.
-"چې دوکه نشې، دی دې نن ولید میان (کبان) پخوي. خو پوښتنه ترې وکړه چې مخکې یې کله دپخلنځي دروازه لیدلې وه؟" اوراغله اتیناته یې ستړي مشي ورکړل،خپلوکې یې یوبل څووار ښکل کړل. بیادبریالي مور راغله هغې هم اتینا څو واره ښکل کړه .
اتینا ماته وکتل مسکۍ شوه. مخ یې راواړو، پټ غوندې یې وویل
-"ستاڅه په زړه خړه راغله" زه ورته مسکۍ شوم دپخلنځي تر څنګه برنډه وه کټونه پکې پراته وو. هغې ته کښېناستو اتینا د بریالي مېرمن ته وویل
-" تاسو پوهېږئ چې هم تاسو ددنیانژدې ترټولو نېکمرغه مېرمنې یئ " هغې په شیطانت وویل
-"مونږ خو خپله کومه نېکمرغي ونه لیده ، اوکه د کبانو پخول یادوې نو داپه کونږ کې دود دی کبان اکثرځوانان هلکان یاپخې ښځې پخوي"اتینا ترې پوښتنه وکړه
-"ولې....؟" هغې ورته وویل
-"داپه سړه سینه پخېږي اوځوانوښځوته د کورنورډېرکارونه وي نشي کولی ډېروخت یوه پخلي ته ورکړي نو یا ورته هلکان وخت ورکړي او یا داسې ښځې چې وزګارې وي"اتیناورته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"ما چې ستاسو د کومې نېکمرغۍ خبره کوله هغه داده چې که ستاسو سړي ستاسو سره په پخلنځي کې کارنه کوي نو دليل يې داندی چې ځانونه له پخلنځي برګڼي بلکې دليل يې يو په انصاف ولاړ ويش دی. تاسو د کور کارکوئ دوی د بهر کار او دښځې په صيپت زه پوهېږم چې ښځه څه ته ډېره اړه ده هغه مينه او د برابرئ احساس دی عزت او احترام دی ". هغې ورته وخندل

-"دوی خو د مينې د پاره توري وهي". اتينا وويل "همدې ته راځم" . "د نورې دنيا نارينه ځان د ښځې دپاره نه وژني،خو ستاسو نارينه ځان ، ژوند او څه چې لري ټول دښځې دپاره قربانوي"

هغې ورته په شوخۍ وويل .

-"زمونږ دپاره يې نه قربانوي،دخپل ځان دپاره يې قربانوی،دخپلومزو دپاره".

دې هم ورغبرګه کړه.

-"خودده مزې ستاهم مزې دي."

هغې ورته په خنداوويل.

-" ماته يې ځله صيپتونه کوې،خواته دې ناست دی.اوملاهم زمونږه ګاونډی دی. يوه هو وکړه".دې ورته وخندل.

-" لاڅوورځې يې شته ".

چې کتل مې بريالی بياپه پخلنځي ننوتی و او دغوړوځزا خته. پرې غږ مې کړ "لکه چې ښه تر سکونه ښوروا دې پکې وکړه"-

يوکال مې سروبي کې د کبانو ښوروا ليدلي وه. چې پخونکي يې ورته همدغه "دترسکون"اصطلاح کارولې وه . خودده مېرمن رامخکې شوه په خندايې وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"وی لا لا څه کوې وګوره هغه يې پدغو ښايسته لاسو پخوي او ته لاپسي ټوکې کوې"ماويل

-" ستابدل ترې اخلم، ابله ورځ تاڅومره په ښايسته لاسو سابه پخکړي وو اوده پکې خبرې کولې".

په خنداشوه وې ويل

-"ځه! خيردی مونږ په خپلو کې پوهېږو.هغه يې هسې سابه بانه کول خبره بله وه.

ماويل

-"هغه خبره يې زما په مخ کې نشوه کولی ځکه يې په سبوکې خبرې جوړې کړې؟ وې ويل

-"هو! دغه يې عادت دی" بيامې ورته وويل

-" ماتېره ورځ فکرکوو چې بريالي ستاپه پخلي کې خبرې جوړې کړې ته به ډېره خپه شوې يې خو وروسته مې وليدل چې هيڅ خپه نه وې".

وې ويل .

"يوخوخبره بله وه سابه يې هسې بانه کول او بل که ريښتياووايم په هغه سړي لا څه چې هرڅه يې مخې ته کېږدې اووې خوري. نارينه لږ ځيږ او تېره ښه وي، چې کله غوسه کېږي او کله خاندي". بريالي غږ کړ

-" خندا اوژړاپرېږدئ او لاسونه وينځئ چې تيارشول"

لاسونه موووينځل،کوټې ته ننوتودسترخوان ته کښېناستو او کبان راغلل. اتينا چې وليدل حيرانه شوه ، دامو په څه داسې"Press"کړي دي.

بريالي ورته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"په تبۍ اودخوږ په تيږو،کبان دتبۍ په ټقبېدلو غوړو کې وراچوو او تيږه پرې د پاسه ږدو. چې هغه اړخ يې پوخ شي په لټ يې اړوو اوبيا پري گټه ږدو".

ښه تر بس پورې مو وخوړل. اتينا چې زما ترڅنگه ناسته وه غلي غوندې يې راته په خنداوويل

-" دومره مزه يې وکړه لکه چې د امودکبانو وروستی خوراك وي".ماورته وويل

" لکه چې سباشهيده کيږې"

راته يې وويل

-"ستاپه سترگوکې هم د شهادت ځلاوينم" .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم څپرکی:

## سـمـه لام تـه تــگ

دکربوړۍ کلی له سړك نه لانديې پروت دی.خودسړك نه پورته هم يو کور شته دهمدغه کورشاته يوه وياله بهېږي مونږ دسهار په خړه کې دهمدغې ويالې په سرروان شو له څه مزل نه وروسته دويالې سرته ورسېدو چې دشيگل له خوړنه رابېله شوې ده. همدغلته په خوړدلرگو يو پُل پروت دی لارويان په همدغه کړکيچو پل پورې وزي مخامخ دمونېي کلی دی او پورته پسې نورډېر کلي پراته دي چې دبرياالي نه مې ورله نومونه دشپې اوريدلي وو. ويل يې مونی،ډاگ سير ،هلالزي ،خوړکلی،غني کڅ ، للم کڅ،متېينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



،نارېتونه، شنګر ګل ، لچیا ،غونډۍ، وتې ،سورمل ،ډب ، لاهوسین ،شنګس، او سمه لام،کېدای شي نورلوی واړه کلي هم وي خوبریالی ترسمه لام پورې بلدو او زمونږ منزل هم سمه لام و. له دې پورته مو کارنه و. اونه دمزل دومره ډېرمېږني وو.چې دشیګل په ټوله دره دې وګرځو. او بیا سړی به دکونړ په کومه ، کومه دره ګرځي. هره دره اوناوه یې دسیل کوونکودسترګوتږې ده ځای په ځای رڼې چینې اومست ابشارونه دي،غرونه ټول نښترو،څېړیو، ګورګورو،ممانو،ټیټاقو،ښونه،غوراڅکو اونورو ګڼو بې مېوې او مېوه لرونکو ونو پوښلي ، چې لوېشت،لوېشت یې دښایست اوښکلا بېلګه ده چې په نړیواله کچه په یادولو ارزي . چې پُل ته ورسېدو ایله مې وروسته راروانې اتینا ته وکتل. اتینااوس داستنبول اتینا نه ښکارېده، سمه دمه کونړۍ وه، دکونړیو پېغلو غونډې چولۍ کمیس ،تور زړوکی یې په ځان راګور کړی و، یوغټ چارګل په پوزه،په زنه او تندي یې یو، یوخال داسې ځلېده لکه دمارسترګه،یوه څڼه یې په یو غوږ او نیم سپین بارخو راخوره وه، اوله بلې نه یې سم کونړی چپه کاکل جوړکړی و،څوسیخکي او یو ګل پکې پروت و، دنرګسوڅوسپین،سپین ګلونه پکې دشنو پاڼوسره ښکارېدل، د لمر وړانګی یې په سپین مخ لګېدې . چې ورته ومې کتل وارخطاغونډې شوم، له ډېر پخوا نه داکمزوري لرم چې ښایست ته هیڅ دټینګې نه یم اودغه کمزوري مې اتینا ته هم ښه څرګنده وه، په زړه کې مې دشوق اومینې اوربل شو حیران،دیران ودرېدم. اتینا مسکۍ شوه "بیادربانډې څه بلاراغرکه شوه" ورته ومې ویل

-"زړه مې په ډوبېدودی" رنګ یې سور شو، حیایې ټوله سپینو اننګوته راټوله شوه سترګوته مې ورله وکتل، دهغې په بد ذاته سترګو کې دا فتنه پرته وه چې کله به دغسې حالت راغی، دابه له حیانه مسکۍ شوه، غټې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غټې زرکینې سترګې به یې راتنګې غوندې شوې، اوږده مېشه یي بانه به یې لك،څك ودرېدل،دغه وخت به یې دبڼو هرحرکت ماپه خپل زړه کې احساساوه، دزړه په کوم نیم،روغ پرهرکې به مې ورو، وروخوځېدل یوعجیب له خوندنه ډك پاك غوندې دردبه یې کاوه.مابه په زړه لاس کېښود، او که ولاړ به ووم ددرېدو اوکه ناست به ووم د ناستې توان به مې بایله .همدغه ټوکه راباندې دلته هم وشوه،په زړه مې لاس کېښود،ورو،وروکښېناستم، هغې له شیطانته په ډك غږ وویل

-"لکه چې بیا در باندې خپل پښتانه پېریان کېناستل"

کله چې اتینا دپښتو ادب ژوره مطالعه وکړه، په سلګونوافسانې او ریښتونې کیسې یې ولوستلې او یا یې له مانه واورېدې، دپښتنو دمینې له زوره او دپېریانو په هکله له انګېرنو ښه خبره شوه نوبیایې نه پوهېږم له ځانه که له دې شعرنه چې: "ښکلي چې وینم ګېږۍ مې نیسي+مینه په ماباندې پېریان واولي" دمینې په هکله دپښتنو پېریانو اصطلاح راوویسته. اوپه همدغه ډول "اضطراري"حالت کې به یې راته کاروله. دغه حالت که له یوه اړخه درد درلودنو په درد کې تاوپېټ خوند هم پکې و او بله لویه ګټه یې داوه چې اتینا مې پکې هیڅ خبره ځمکې ته نه غورزوله ، ټکی، په ټکی یې منله. زه دپښو په سر ناست ووم، یولاس مې په زړه ایښی و. تندی مې تریو او سترګې مې نیمې داسې پټې وې لکه د سخت درد په حالت کې چې پټېږي په خپل سرمې داسمان لور ته اشاره وکړه یانې مخ پورته کړه چې له لاندې دې تصویر واخلم بیامې ورته دلاس په اشاره اوپه ټېزغږ وویل

شاراواړوه، مطلب مې داو چې کوڅۍ یې ووینم،کوڅۍ یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارېده خو په تور زړوکي کې يې يو تورخامارپروت و. وروستی سرکې يې
څوځونډي غونډې ښکارېده ورته ومې ويل
زړوکی دې لږ اوچت کړه، اوچت يې کړ،پييوي ته مې وکتل په
کوناټوزنګېده. ښه مې وليده. له سره تر پښو مې وڅارله بيادبريالي هغه
خبره رايادہ شوه. چې په لومړی ځل يې چرته په کومې ښځې لاس وهلی
و.ويل به يې په ښځوکې به خامخا هډوکی وي . که پکې نه وای دنښتر په
څېربه هسکې نه تلې خوهډوکي پکې پټ دي،غوښه يې دسړوغونډې کلکه
نده داسې پسته ده چې په لاس کې يې رانيسې ګوتې يوه بلې ته رسېږي .
پدغه وخت کې ترې چاپوښتنه کړې وه چې ګوتې دې يوه بلې ته رسېږي
نو بياخو به پکې هډوکي نه وي .
بريالي ورته ويلي و
چې يوڅه نري "راډونه"پکې شته .مالادغه فکرکوو چې اتينا مخ راوګرځوو،
په شوخۍ يې له لاس نه ونيولم، راپايې څولم، له ځان نه يې مخکې کړم
اودا راپسې راروانه شوه، دپل نيمې ته چې ورسېدو.لومړی مې د پله نه
لاندې وکتل،خوړډېر کوز بهېده،بيا مې ورته پُل وخوځوو. خو هغې پرې
زمانه ښه اله ډينګ شروع کړ. وپوهېدم چې نه ويرېږي غلی له پله پورې
وتم داهم راپسې راپورې وته اودخوړ تر څنګه لارمووونيوله . دوه په دوه
په ټوکو ټکالواو د تېرو يادونوپه يادولو په کلار، کلار روان وو. هر بوټي،
ګټې اوونې ته مو په غور،غورکتل اوتبصره مو پرې کوله، زمونږ بل ملګری
بريالی و چې زمونږ نه مخکې دکچرو سره تللی و، په دوه کچرو مو د
خوارځواکو مېرمنو او ماشومانو دپاره بسکټ او تودې جامې بارکړې وې .
دغه هر څه اتينا له کابل نه د ځان سره راوړي و. اوويل يې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"دغه لرې پراته کلي ته ځو پکارده چې زمونږ ورتګ ورته څه ګټه هم ورسوي"
خودغه خپل کارله یواخلاقي جواز موندل وو.او دومره یو بد رنګه جواز چې هیڅ اخلاقي اډانه نه لري ،دا ما ته همداسې یو عمل ښکا رېده لکه اتحادي ځواکونو چې له یوې خوا لایزر بمونه او له بلې خوراکي توکي ورول .خو رښتیا داوو چې له دغې پرته زمونږ سره دغه کلي ته دورتګ او بیا په تېره هلته دپاتې کېدوکومه بانه هم نه وه . څه به موویل چې څه پسې راغلي یو؟ که رښتیا مو ویل خو انجام مومالوم و. مرګ او همغه تیاره سمڅه،مونږ چا راوړلوهم نه . او یابه راپسې نورډېرمرګونه کېدل زه او بریالی خوافغانان و . زمونږ وینه خوهسې هم ددنیاترټولو ارزانه وینه وه. چې په برید اوپوله هم بهېږي اودچاد شونډو په لیدواو دسترګو په اشارو هم . په پیسو هم بهېږي او په واکمنۍ هم. خپل پرې ځانونه جنت ته رسوي او پردي پرې ځانونه ددنیا ګنجونو او خزانوته .خو اتینا ترکۍ وه . دسوله ساتوځواکونو(ایساف) لویه افسره وه .اود ترکیې په سوله ساتو ځواکونو کې یې لویه ونډه لرله . ترڅوورځومخکې پورې ددې ځواکونو مشري ددوی په غاړه وه . دهغې مړی بیا خپلوفوځیانو هلته نه پرېښود . اوکه هغوی پسې ورتلل نو شونې وه چې دشیګل د درې ډېرو بې وزلو اومعصوموخلکوته زیان ورسېږي. نو پرېکړه مو وکړه چې دغه بسکټ او تودې جامې به په کچرو ولېږو، بریالی به ورسره لاړ شي. ځکه چې پخپله یې ځان ښه سړی کوو او ویل یې چې
مونږ یواځې نشي لیږلی . اوهلته به دکلي خلکوته ووایي چې ډاکټران راځي او غواړي ددې کلي د میندو او ماشومانو کتنه وکړي او خوارځواکو میندو او ماشومانو ته بسکټ اود راروان ژمي لپاره تاوده کالي ورکړي . او مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې پوهېدو چې دابه دکلیوالو لپاره ډېر خوږ زېری وي ځکه چې مونږ هسې هم د دنیا تر ټولو لوی خیرات خور قوم یو . د پښتو او پښتنولی هغه کتابونه تېرو خپلمنځي جګړو سېزلي دي په کومو کې چې نور وته لاس نیول د دروند پښتون سر د ټیټېدلو لامل ګڼل کېده او له همدې امله پښتنو مشرانو د مسیحا له لاسه هم دمنت د دارو له خوړلو نه د عزت او سر لوړی مرګ غوره ګڼلو.

مونږ همدغسې په ټوکو،ټکالواو تبصرو روان و. دلارې نقشه راسره وه،او بریالي نقشه دومره دقیقه جوړه کړې وه چې دایې پکې هم لیکلي وچې د ورسی دچنار لاندې دمه کولی شئ . زمونږ بایکونه په کچرو وړل شوي وو . د بایك پرځای یواځې په سپین دسمال کې تړل شوې یوه غوټه راسره وه . دکونړ خلك بایکونه ډېر کم کاروي. ښځې دلاس له دسمال نه په څو برابره لویو دسمالو ګلونه جوړوي او بیا هغو دسمالونو کې خپله غاړه ، غوټه رانغاړي او له ځان سره یې وړي.

او داستنبول غوندې هم نه چې ښځې دې خپل بایك راخیستی وي او سړي دې خپل. دلته ښځه اکثر خپل ماشوم وړي غوټه په خپل ملګري که ورور یې وي که خاوند په هغه باروي . خو د غرونو دود دغه ډول نه و غوټې نارینوو نه وړې . ښځو په سر کړې وې . یو به یې ماشوم هم په څنګ کی نیولی و،او داسې به راروانې وې لکه شل کلنې اسپې . ما بیا دکونړ په اصطلاح د اوارو سیمو دخلکو په دود غوټه پخپله اخیستې وه .او اتینا راپسې لکه د زرکې خرامانه را روانه وه . مونږ ډېر مزل نه وکړی چې یو کور مو ولید . دغه کور دغره په ډډه کې جوړشوی و. او د مېوه لروونکو ونو ډېر ښه باغ ورته هم ولاړو . د اتینا دغه فکر ډېر خو ښ شو وې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-" دا باغ او دا کور ددې ثبوت دی چې که څوک وغواړي ښه ژوند وکړي له يوې نه يوې لارې ځان ور رسولی شي، وګوره ځومره ښکلی باغ ، ښکلی کور،اوبيا لا اوچت د غره په سر"ماورته وويل"

ډېرې تبصرې مه کوه قدمونه راخله، ځان به رسوو" زما په خبره يې ځان ناګاره کړ "که ددې غرونو خلك دهمدې سړي د فکر په پل ، پل کېږدي هم به خرما وګټي هم به ثواب "

-"ډېره ښه ده خو چې په پل يې پل کېږدي "

-"نو ګنې نه يې ږدي ؟"

-"نو څه ګټه ورته لري؟"

-"خو مارکيټ ته دې ورسوي"

ورته په خندا شوم

- "په خپله اوره به يې رسوي که په خرو اوکچرو،دوی خپلو سبوله مالګه نشي وړلای ته پرې مېوې مارکيټ ته رسوې ؟"

هغه هم مسکی شوه

- "رښتيا چې لومړی ورته سړك پکار دی" په دې دره کې سړی ايله د ستر قرآن ددې ايت په مانا په سم ډول پوه شي چې .

"وجعلنا من الماءکل شئ حي "يانې په او بو سره مو هر څه ژوندي ګرځولي .

وګوره دا غرونه څومره ډېرې او به لري ، او هر چرته چې اوبه دی هلته ورته کورونه دي او کورونه د انسان دژوند نښه ده . په يوټکي زه هم خوشحاله شوم په ټوله لاره چې چرته ددې شونتيا وه چې اوبو ته د برېښنا دتوليد ډېنموو لګول شي . نژدې ټولو ځايونو کې لګېدلي وو. او ددغه غر کورونه چې کله په پېلوزه اوشونتيې روښانه کېدل اوس په برېښنا روښانه وو. د اتينا دغه فکر اود ښه ژوند تېرولو لپاره دغه بريالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅه ډېره خوښه شوه . ډېره يې وستايله او د افغانستان په شان غرني هېواد لپاره يې ډېره گټوره وبلله چې په غرونو کې دلويو برېښنايي فابريکو دبرېښنا دتارونو دغزولو پر ځای واړه بندونه او د برېښنا د توليد وړې فابريکې جوړې شي . اتينا د استنبول په ښارکې پيداشوې وه او هلته لويه شوې وه . غرونه او د غرونو ونې بوټي ورته نا اشنا و . او همدغه نا اشنا توب زمونږ مزل ډېر وروکړ.

چې د غره شنه ډډه به يې وليده.ورو به يې يو خوا بل خوا وکتل،لر ليدی (دوربين) به يې راوويست او بيا به دغره په تماشه وه . ټيټاقې اوممانې يې ښې ډېرې وخوړې او په گورگورو يې سرې شونډې تکې تورې کړې.

عجيبه داده چې زما تورې شونډې هيڅ نه خوښېږي خو د اتينا دسور سپين مخ سره په گور گورو تورو شوو شونډو عجيب ډول کاوه . مونږ له دغه مزل نه ډېر خوند واخيست . او که ځای په ځای راسره دمرگ وېره نه وای دغه خوند به څومره لا پسې نور ډېرشوی و . ځکه مونږ ته مالومه وه چې که ځانونه څومره ډېر کونړي کړو خو ښکاره مالومېږو چې په دغو غرونو کې نوي او نااشنايو . او دغلته هر نااشنا کس د امريکايانو ايجنټ گڼل کېږي . دغه ساده گڼل نه دي چې څوك درته بد وگوري او درنه تېرشي . بلکې هغوی ددغه ډول خلکو دغې سيمې ته رسېدل دسيمې سپکاوی گڼي او ددغه ډول خلکو مرگ خپله ديني

وجيبه او فريضه . دنقشې له مخې مونږ بايد په څلور ساعته کې د خوړکلي نه پورته پراته پل ته رسېدلي وای . خو چې مونږ دغه ديوه بش پل ته ورسېدو او ساعت ته مو وکتل شپږ ساعته تېرو. نورې مو پښې گړندۍ کړې . غم راسره دا وو چې که نور ډېر تم کېږو بريالي ته اندېښنه ورلوېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



. له دغه ځای څخه نژدې يو ساعت وروسته سمه لام ته ورسېدو . او
څرنگه چې مو گڼله همدغسې شوې وه .
بريالی دومره وارخطا شوی و . چې ببرته لارې ته راوتلی و او لاس ترزنې
ناست و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم څپرکی:

## دسـمـه لام شــپه

سمه لام چې دکونړ خلك يې "سملام" ليكي دغره په لمنه كې دپنځه ويشت دېرشوكورونو وړوکی غونډې کلی دی . مونږ دكلي برسر ته لاړو. اتينا په یوه كمر ودرېده او خواوشايې وكتل چيغه يې كړه .

- "جنت ته راغلې يم جنت ته" ورته ومې ويل

- "ډېرې چيغې مه وهه چې رښتيا دې جنت ته ونه لېږي . وې ويل

-گوره! شاته شين غر. مخامخ شين غر، ښي او چپ ته شنه غرونه ، او پاس په سر شين اسمان . هاغه چينه وگوره چې د اوښكې غونډې رڼې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ترې ځومره په مستۍ راروانې دي . او پوهېږې چې په باران کې به دا وچ خوړ ځومره له سندريز شوره ډك وي" ورته په خنداشوم.

- "چې ځومره ډېر شور وکړې، ستا د بنګړو شور ته نه رسي" له لاسه مې ونيوله او له کمره مې راکوزه کړه وې ويل

-"اوس ته وخېژه،چې ټول شيګل ترې داسې ښکاري لکه په ورغوي کې چې دې پروت وي" بريالي غبر کړ

-" دا هر څه به ووينئ خو راځئ يو ځل خپل ځای ته ځان ورسوو" اتينا ورته وويل

-" خپل ځای مو چرته دی"

-"دلته په يوه کورکې، له کچرو نه مې ټول سامان هملته کوز کړی او ورته ويلي مې دي چې ډاکټران راروان دي"

-"زر مې ترې پوښتنه وکړه ډاکټره که ډاکټران....؟"

-"په خندا شو.ډاکټران ! ته مې هم ډاکټر کړی يې....؟"

-"نو زه خو ډاکټر نه يم"

- مسکی شو

-" وريندار مې ډاکټره ده څه....؟ اودغه دنرسنګ کورس خو تاهم کړی دی"ورته ومې ويل

- "خوزه دچا کتنې نه کووم ځکه چې اتينا څه وخت عملي کار کړی دی او ما ندی کړی. کوم مالومات چې مې لرل هغه مې هم هېر شوي او نه غواړم چاته زيان ورسوم."نيم طبيب خطره جان" له ځانه نشم جوړولی" برياالي وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"سمه ده!کتنې مه کوه نوم خوبه دربانډې پروت وي. که دخلکو پام شي چې ښځه دې ډاکټره ده او ته ورسره هسې "باډي ګارډ"یې نو بیا درته په ښه سترګه نه ګوري" اتینا وخندل

-"مطلب سړي دې تل په ښځې بر وي"له خولې مې وختل

-"سړي خو هسې هم په ښځو بر وي"مخ یې له حیانه سور شو شرمیندوکې مسکایې وکړه بریالی رانه روان شو او دې راته غلي غونډې وویل "بې شرمه!دتیارو او تورتمونو برېدل رښتوني برېدل نه وي" بیا مې بریالي ته وویل

- " بریالی جانه لکه چې په پسات دې اړولی یم. څنګه دښځې او مېړه خبرې کوې.؟"

-"نو دې کلي ته دې ډاکټره ښځه راځي او هغه هم بې مېړه، بې پلاره،بې وروره دپردي نارینه سره "

-"بریالیه!دادپردي ټکی راباندې ښه نه لګېږي ددې نه لږ ځان ساته "

- اتینا وویل "پردی نه یې نو د تره ځوی مې یې څه ...؟ دپردي ټکی دربانډې ښه نه لګېږي او...."

بریالي یې خبره ونیوله اوپه خندایې وویل

– "او...دخپلولونه یې نوڅه کوې.؟ خپه کېږه مه ورته ویلي مې دي چې ډاکټران راروان دي، یو نر یوه ښځه دواړه سره خپلوکې ښځه اومېړه دي، او تر هغو پورې به دلته پاتې وي ترڅو چې ددې کلي نه ناروغۍ وشړي"ماورته وخندل

-"زه پکې څه اندېښنه نه لرم" بریالی په برېتو کې مسکی شو

 www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"نوڅوك به يې پكې ولري؟"اتينا دگورگورې واړه غوندې بوټي ته لاس ورغزولی و اوپه بې پروايئ يې وويل

-"زه پکې هم څه اندېښنه نه لرم" ماويل

-"چې اندېښنه نه لرې نوراځه چې ځو.دماشومانو خويونه مه کوه چې هر بوټي ته ودرېږې "مخ يې راواړو.

-"څه فکر کوې چې دې کلي ته به سمه لام ولې وايي؟"

-" زه ترې څه خبريم چرته له کوم سپين ږيري به پوښتنه وکړو"

-"ما چرته ليدلي وو چې په پښتوكې لام لښکر ته وايي، کېدای شي د کومې معرکې لپاره له دې کلي نه ګڼ خلك راوتلي وي او يا به د چاګڼ بچي وو چابه ويلي وي چې" سم لام" دی مانا سم لښکردی"

- خو دادومره غټ کلی نه دی. اوس چې دومره لږ کورونه دي نو پخوا خوبه ډېر کم وو.نو سم لښکر ترې څنګ راووت .

بريالي وويل

"يواځې داکلی نه دی چې دلام کليمه پکې راغلې په کونړ،نورستان او لغمان کې چې درې واړه ولايتونه سره څنګ په څنګ پراته دي ډېر داسې کلي شته چې دلام کليمه پکې راځي لکه په لغمان کې مهترلام،افغان لام،شترلام، نورلام ،نينګه لام چې يو په کونړ کې دی او بل په لغمان کې ، همدغسې سمه لام، لېچه لام او لوټه لام په کونړ کې د کلو نومونه دي خو په نورستان کې بيا دغه کليمه په يوه بله بڼه راغلې لکه.لاما، واما"ماورته وويل

-"کېدای شی لام دلاما اوښتې بڼه وي او لاما يې دبودايانو مذهبی پېشواګانو ته ويل داکوم نومونه چې تايادکړل ودې شي چې دغه ټول ددغو سيمودبودايانو دمذهبي لارښودانو اوپيشواګانو نومونه وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ پدغه بحث کې دومره ډوب تللي وو چې دگټونه دجوړ یوه کورمخې ته ودرېدوبریالي وویل

"همدازمونږ دکوربه کوردی" چې دشالخوانه غږ شو

"مېلمنو په خیر راغلئ،ناوخته موکړلکه چې دغرونو د مزل عادت نه یاستئ "ورته ومې ویل

"رښتیا هم چې نه یو عادت"

دازمونږ کوربه و،چې دمنځني قدهډور سړی و. یو خړ دخورو ژیو پکول یې په سر پروت و چې تر وروځو راکوز شوی واو رسا په منځ پکې دغټې گوتې په اندازه یو سوری له ورایه ښکارېده،لویه اوږده ږیره یې تر سینې راغزېدلې وه.ډېرپه مینه یې روغبړ وکړ. له لومړیو خبرویې څرگندېده چې سړی یواځې په سمه لام کې نه دی پاتې شوی، ډېر گرځېدلی او ډېرڅه یې لیدلي دی دبریالي سره په لاره ملگری شوی و. له کچرونه یې مواد دده په کور کې کوز کړي وو او ده ورسره منلې وه چې یوه خونه به د ښځو او ماشومانو د کتنې لپاره ورکړي. له روغبړ وروسته یې مونږ ته د حجرې ورپرانیست او اتینا ته یې وویل

-"خورې! ته دننه لاړه شه،ډاډه ورځه ،ښځمنې مې ستاله راتگه خبرکړي دي"

اتینا دننه لاړه او مونږ په حجره کې کښېناستو. کوربه هم لاړ لږه شېبه وروسته یو ماشوم لاس وینځونکی راوړ او ورپسې ډوډۍ راغله دډوډوی او چاې نه وروسته د څه ساعت لپاره د سمه لام په تاریخ او تاریخي کیسووغږېدو.کوربه د پنځو سو کلونو شااوخواکې و.نوم یې اسلم خان و. ډېرې کیسې یې زده وې خو بدمرغي داوه چې نسوار به یې کپه کړل او دژبې لاندې به یې ورواړول بیایې ازادې خبرې نشواى کولاى. ویل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه لام ډېرې کیسې لیدلي او دظلم ډېر داستانونه پکې پټ پراته دي.
دلته دلښکر په نامه یو سړی و. وروریې د کلي ملك و. په ملکۍ دخپل
ورورسره وران شو. په کوریې ورغی او دخپل ورور په ګډون یې دهغوی د
کور ټول غړي په تبر ګي ووهل او مړه یې کړل. خو دورور یو ننګور ترې د
شپې په تیاره کې ورکه شوه. ویل کېږي چې ورکه شوې ښځه پېښورته
لاړه. هلته یې څه خپلوان اوسېدل او دهغوی کورته یې ځان ورساوه.
ددغې ښځې په ګېډه ماشوم و.څه وخت وروسته هغه پیداشو او چې لوی
شو چاورته پېغور ورکړ چې "پلار دې نه دی مالوم" هغه له مور نه پوښتنه
وکړه، مور یې ورته کیسه تېره کړه اودی هم د سمه لام په لور را روان شو
لښکر اوس لښکر ملك و لښکر ملك تل دځان سره ټوپك ګرځاوه دغه هلك
ورسره دلېټۍ په کنډو مخامخ شو په لاره ور سره ملګرى شو دلښکر نه یې
پوښتنه وکړه چې نوم دې څه دی اوولې ټوپك ګرځوې؟ هغه ورته خپل نوم
وښود او کیسه یې هم ورته تېره کړه چې د ژوندۍ خلاصې شوې ښځې په
ګېډه ماشوم وو او اوربدلي مې دي چې هغه اوس زلمی دی دهغه له وېرې
ټوپك ګرځوم دوی په لاره ملګري و چې لښکر ملك د حاجت لپاره ستون
شو، ټوپك یې ده له ورکړ ده هم وویشت او د هغه غاړه غوټه او ټوپك یې
راواخیست او سمه لام ته راغی د لښکر ملك کورکې یې وویل چې ملك په
لاره کې کوم کلي ته ستون شو زه یې مېلمه یم او خپله غاړه غوټه یې
ماله راکړه او وې ویل چې سهار له به راځي هغوی یې هم ښه قدر، مدار
وکړ، دشپې پسې راپاڅېد او د لښکر ملك دکور ټول غړي یې په تبرګې
ووهل، وې وژل اودی ترې لاړ سبا خلکو ویل چې دملك په کور لښکر راغلی
خولښکر نه ؤ همدغه یو زلمی و. د اسلم خان کاکا په کیسو کې مازدیګر
شو، ووتو دغرونو ننداره مو وکړه د ماښام لمونځونه مود چینې په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړل چې راغلو ډوډۍ تیاره وه ښه ډوډۍ يې برابره کړې وه  غوښې ډېره مزه راکړه پوښتنه مې ترې وکړه

-"کاکا! دامو څنګه پخه کړېده ...؟"

والله ډاګټره! ستاسو غوندې سیخان میخان خومونږ نه لرو چې غوښې پکې وپیو او بیا يې په انګار ونیسو خو بس د مال روغ ورون راخلو اود څېړیو د لرګو په سکروټو يې ږدو یوڅه مالګه او داوړې اومرچ اوبه پرې هم ورشیندو.نوره يې خدای پخپل قدرت پخپله پخوي "دډوډۍ اولمانځه نه چې وزګار شو اسلم کاکا وويل

-"ډاکټر صیب! مونږ ټوله ورځ په غرونو کې ګرځو، بزې ساتو، ستړي يو، نو دشپې ډېر وختي ویده کېږو" ماويل

-کاکا! "مونږ هم ډېر وخت وروسته په غره کې مزل کړی دی، ښه ستړي يو،چې څومره مووختي ویده کړې، نوخوښېږو" وې ويل

-"نو بر یالی وراره به همدلته دحجرې مخې ته ویده شي او تاسوته مود بلۍ په سريوکټ جوړکړی "په حیرانتیا مې پوښتنه وکړه

-"د بلۍ په سر؟"

-"هو! دبلۍ په سر دلته ډېر خلك دبلو په سرونو ویده کېږي او پوهېږم چې مېرمن دې دربانديې ډېره ګرانه ده ماويل چې ببېلتون مومنځ کې نشم راوستلی" غلي غوندې مې بريالي ته وکتل هغه هم وويل

-"څه! ډاکټر صیب شپه مو په خیر، زه هم ډېر ستړی يم، خوب راځي، سهار به دخیره سره وینو"

- د حجرې يو دېوال کورته لګېدلی و همدغه دېوال ته دکور له خوانه د لرګو پوړۍ لګېدلې وه کورته يې واړولم او وې ويل بس په همدې پوړۍ ورخېژه ماهم شاته ونه کتل سپك وروختلم کټ ته ودرېدم، سپوږمۍ چې


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغره په سر ولاړه وه رڼا يې د کټ پر بسترې پرېوته په غور مې بسترې
ته وکتل، ښه وه، دويده کېدو وه، خونه پوهېدم څه وکړم؟ څنګه پداسې
کټ کې پرېوزم چې لړه شېبه وروسته به مې نکاح کړې ښځه نه، يوه ترکۍ
ملګرې، يوه دوسته، يوه په زړه کې پاللې دوسته، يوه مينه، دزړه په
وينو ساتلې مينه به هم راځي او جوخته به راسره پرېوزي دمور
نصيحتونه راياد شول،چې ترکيې ته يې رخصتولم تړمې، تړمې اوښکې يې
غبرګې، غبرګې په مخ رواني وې، په تګ مې ډېره خپه وه خود کور نه دوتو
په وخت راته کومې بلې شيطانې غوندې ميلمنې په خندا وويل
-"ټکوره! ترکيې کې به مزې وکړې، ترکۍ جينکۍ به دې وخوري" مور مې
پدغه خپګان کې هم په غوسه وروکتل
-" ولې زما شيدې به دومره بې مالګې وي، اخرپښتنه يم اودمور په خپلو
پښتنو شيدو همدغه باور لس کاله پښتون زلمی وساتلم، پښتون زلمی،
چې په پردۍ ښځه يې سترګې لګېږي ان بانه يې له حيا نه ځمکې ته کاږه
شي.

نو په اخر سر چې له ترکيې نه مې هم پښې راسپکې کړې، دکونړ ديو
پښتون پتمن غره په هسکه څوکه څنګه خپل پښتون فطرت پرېږدم له کټ
نه تاو راتاو شوم، سرته يې ودرېدم، ستورو او سپوږمۍ ته مې کتل، ټولو
راته حيران، حيران کتل، لکه غېر، غماز چې د ننګ په کوم ميدان د کوم
پښتانه زلمي نندارہ کوي بس بله چاره نه وه واسکټ مې وويست، کات
مې کړ، دبالښت لاندې مې کېښود، په کټ پرته کمبله مې يوې خواته ټوله
کړه، دکټ ښي اړخ ته اوږد وغزېدم، خپل څادر مې په پښو راخور کړ عجيب
احساس راسره و.نه پوهېدم چې خپه يم که خوشحاله .پدې هم نه پوهېدم
چې خپه شم که خوشحاله.يو خواډانګ و بل خواپړانګ.يو خوادټول ژوند


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښتونه وو. دپښتانه زلمي او پښتنې پېغلې دحيا او پاکوالی فکرونه او بل خوا دزړه سره اورونه او په رګونو کې د سرو سکروټو او سرو بڅرو خوځېدل وو.هيڅ نه پوهېدم خو ناڅاپه مې داتينا غږ واورېد "مننه ترورې! وختلم، تاسو اوس ځئ" بس چې کتل مې اتينا کټ ته رارسېدلې وه غلي غوندې يې وويل

-"سلام"

بيايې کمبله اوچته کړه، وې ويل

-" ما په ځمکه غوښتې، خدای په اسمان راکړې"

مانا دبلی په سريې راکړې ماورته هيڅ غږ ونه کړ کټ کې کښېناسته، زړوکی يې لرې کړ، له کوڅی نه يې پيېوی را خلاص کړ دکټ په پښه يې ورواچوو کوڅی يې راوسپړلې، اوږده خرمايي ويښته يې په کوتو ګمنځ کړل بيا يې ورو، ورو خورول چې په غوږ والی کې يې ونښتل يو څه هڅه يې وکړه چې ويښته له مندری نه را خلاص کړي خو هغه پکې سم تاو شوي وو ماته يې وويل دا والی راله د ويښتونه راخلاصه کړه.ماورته وويل "زه يې نشم خلاصولی"

-" ولې؟...ويرېږه مه خير دی خورم خودې نه...؟"

-" خورې مې نه خو،دغه کارونه ښځې پخپله کوی دبل چانه پکې مرسته نه غواړي".

-" داډېره جاخه شوې ده،غوږ مې خوږېږي".

-" هيڅ پرې نه کېږي را خلاصوه يې".

-" والله خوږېږي ،ټوکه نه کوم"

-"ولاحول مې کړه،ښه! رانژدې يې ګړه"

-" پسې راپاڅېږه ځينې کارونه، په پرتونه کېږي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



-" چې په پرتونه کېږي زه يې هم نه کوم، بس ته پوهه شه او ويښته اووالۍ دی پوهه شه".

لکه څوك چې ماشوم کلاروي همدغسې يې راته په خوله دوه درې چړپه وکړه بيايې وويل

-"گل مې دی گل، مه خپه کېږه، دادی په پرتويې وکړه، زه به غوږ در وړاندې کړم"

ددې سره يې خپل چپ لاس زمانه واړوو د کټ په بازو يې کېښود او داسې راباندې راپرېوتو چې ښۍ سينه يې زما په سينه جوښته پرېوته اوچپه سينه يې زوړنده پاتې شوه چې ايله يې څوکه زماتر سينې رسېده غوږ يې راله سترگوته مخامخ کړ

-"اوس يې له نژدې ووينه" بس بله لاره،چاره هم نه وه،څه به مې کولای؟ دشيگل په پاس سرکې دغره په څوکه ديوې بلۍ په سر په يوه پراته کټ کې کومې نيازبينې ته دغه ډول ستونزه پيداشي نو ځان خو تر ې نشې خلاصولی،زما په انکارېې امکان درلود هغه غوسه شوې وای،ويښتو ته يې زورکړی وای،او دويښتو زور والۍ له او دوالۍ زور غوږ له تللی وای،اوغوږ ته زيان رسېدلي وای.نو بيا به څه وو،هغې له به څه بند ترلی ،اوپړه به يې دچا په غاړه وه؟،زما وړوکی انکار، اودومره ښايسته غوږ ته زيان رسېدل چې سوری پکې هم زما په وينا شوی و. بيابه مې څه کول فکرمې وکړ خو رښتيا هم بله لارنه وه راپاتي. بس له غوږوالۍ نه دويښتو په راخلاصولو مې پيل وکړ ددې سره مې دغني خان دې شعر په مغزو کې انگازې جوړې کړې"چې دې وس د بدونه وي+ څه به ته څه به دې ښه وی+ توبه هله د شرابو+ چې شراب درته پراته وي+چې بوډا شې خوله کړشپه + بياتوبه، توبه د څه کړې+ هغه ښه له بدو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدوي+ دناكامه چې ته ښه كړې+ دا چې باغ دګلو ډك وي+ مستانه غونډې ماښام وي+ داچې تاته رنې سترګې+ غلى ووايي سلام+ په مكېز دې زړه كې بل كړي +دمستۍ دوزخ تمام+ او وی راشه راشه زما ياره +وخت دی لړ خبري ډېرې+ بيادې وروشان له اوړونه+ پستې لېچې كړي چاپېرې + خوله دې خولې ته كړي در پورته+ شونډې سرې تودې بې هوشه+ لكه بله ډيوه رپې+دځوانی مستۍ دجوشه+ ته چې دغه وخت اوچت شې+ او را شروع شې په ژړا+ نوليونی وايي قسم دی+ يا خوغوث يې يا اجړا.

له ويښتو نه مې ورله والۍ راخلاصه كړه، بيا يې وويل

-"دويښتو نه خودې راخلاصه كړه ،اوس يې راله دغوړنه هم را لرې كړه ،دشپې ماتېږي"

-ښه وه لاس مې ورته برابرو زرمې ورله كونډه له خپل چنګك نه خلاصه كړه په يو لاس مې ورله دسپين نري واړه غوږ پوڅكۍ ونيوله اوپه بل لاس مې والۍ پورته راښكله ترې راومې ويسته خود بل غوږ نه دوالۍ رالرې كولو دپاره هغه مجبوره شوه چې اوږده راباندې پړمخې داسې پرېوزي چې سينه يې زما په سينه جوخته ولګېږي پوزه په پوزه راشی او خوله په خوله ښخه شي دغسې دهغې چپه والۍ زما ښي لاس ته برابره شوه خو د دوه لاسونو كار په يوه لاس چرته په اسانه كېږي ځو ځل مې ورله كونډه پرانيسته خوهيځ پونشوم چې بيا پكې ولې نښتې وه؟ كېدای شي لامل يې داو چې غندل به مې ورله له كونډې نه سمه نه وه راويستلې، په هغې چې ښكته ښه زور ونه كړې اودكونډې ترسر پورې يې زور كړې راتاو نه كړې چرته له كونډې راووځي اوچې كونډه خلاصه نشي نو كه ځوك هځه كوي چې غوړوالۍ دچاله غوړه راوباسي نو مانا يې داده چې بل لوری له غوږ نه خلاصوي دغه چې زه ورته پوڅكۍ وايم اوكېدای شي ځوك يې دغوږ نرمۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼي همدغه شی چې دغوږ نه ښکته را زانګي او نجونې يې سوری کوي اووالۍ پکې اچوي دا خو ډېر نرم دی او بيا لا داتينا دغوږ پوڅکۍ دا خو دسپين نري کاغذ غوندې نرۍ وه داخو په اسانه را شلېدلی شوه.له همدې وېرې مې په کلاره څو ځله هڅه وکړه چې والۍ ترې راوباسم خودوالۍ خوښه نه وه هرځل به اتينا د درد يو وخ،ويش کوو او مابه والۍ پرېښوده چې ونشو اخر مې ورته وويل غوږ دې خولې ته رانژدې کړه د غوږ دپوڅکۍ وروستۍ برخه مې ورله په خپلو غاښونوکې ونيوله اوپه لاس مې ترې والۍ رااوويسته دکټ نه لاندې مې وغورځوله او ورته ومې ويل سهار يې بيا را اخله خواوس زمانه پاڅه چې ساه دې راله بنده کړېده

په خندا شوه

-" ساه دې بنده شوې؟"

-" هو! ساه مې بنده شوې ده، کوزېږه"

تنۍ يې راله پرانيستې ، په سينه يې کلك، کلك وچيچلم او رانه کوزه شوه ستا که ساه بندېږي، زما خو نه بندېږي راخېژه.

-" د در ختلونه يم."

-" ولې؟"

-" په اخر کې راباندې دمور نصيحت مه ماتوه".

-" هغې درته ترکيه ښودلې وه کونړيې درته نه وښودلی".

-" حيلې ورته مه ګوره بس دوه درې ورځې صبر وکړه ستا به دين په ځای وي زما به پښتو".

-" ځه هم درنه نورڅه نه غواړم يواځې په غېږکې خومې ويده کېدای شې."

-" نه افسوس کوم چې دغسې هم نشي کېدای".

-" حيرانه شوه نو څه کوې."


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-" زه خپل څادر په ځان خوروومم ته خپل زړوکی خورکړه. دومره یخني نشته".

-" اوکمبله؟ پدې به څه کوو؟"

-" دا به ددواړو ترمینځ پوله شي ته به زما سره نه لګېږې، زه به ستاسره په خپګان یې وویل "خبره نو دپولو شوه؟"

-"هو! خو ډېرې ورځې به نه وي"

ددې سره مې کمبله په منځ کې راځای کړه او مخ مې ترې واړوو له څه شیبې وروسته یې راله په ویښتو کې ګوتې وهل شروع کړل خو زه هم سترې ووم خوب راته همدغسې مې پرېښوده اوترې ویده شوم سهار چې راپاڅېدم سرمې دهغې په مړوند پروت و اوښی پښه مې سمه پرې ور اړولې وه.

نهم څپرکی

## عجیبه بوډۍ

نن مازدیګر په سمه لام کې زمونږ درېمه ورځ پوره کېده،پدې دریو ورځو کې اتینا درې کاریزې ورځې لرلې اودرې واړه یې دکلي دښځو او ماشومانو په کتنو اودقتلونو په باب په مالو ماتو راټولولو تېرې کړې. مونږ هم دسمه لام دتاریخ اولویوکیسو په پوښتنو کې ورو،ورو پوښتنه کوله او دغو ګډو هڅو تردې بریده رسولي وو چې اوس را ته د قاتلانو په پېژندو کې هیڅ شك نه و. ښکاره خبره وه قتل تبرګي دهغه زامنو او زوم کړی و.دامالومات دشیګل دڅارنوال دمالوماتو سره بېخي سم وو. خو دهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزه داوه چې له سمه لام نه يې قاتلان نشو بيولى او زمونږ ستونزه داوه چې له قاتلانو مو پوښتنه نشوه كولى.

اود ارښتيا خبره هم ده ، پدغه شان ځاى كې چې دګټو، ختو له څوكورونو پرته چې ټول سره په خپلو كې دوينې اوهډوكورشتې لري او سره پيېل شوي دى. نور څوك وو. په روغ كلي كې به درې كسه څنګه څوك رانيسي چې تا قتل كړى دى ولې دې كوو. د پيسو دپاره كه د چا د سياست دپاره؟ دادرې واړه ورځې زمونږ سره همدايوه تلوسه وه چې يو ځل خو دواقعې محل وګورو. مونږ پټه ،پټه پوښتنه كړې وه او دهغوپوښتنو نه مو دومره مالومات تر لاسه كړي وو. چې مونږ پرې ځان رسولى شو. نن چې اتينا د ښځو او ماشومانو له كتنې وزګاره شوه. راته يې وويل

-"ددې سيمې دليدو په بهانه به ورو غوندې وخوځو او د پېښې ځاى ته به لاړشو"

كه څه هم داله خطره ډك كار و خو ورسره وومنله . خپل كوربه ته مو وويل

-"مونږ به چكرولګوو"،هغه ډېر ټينګ شو چې دې به هم راسره لاړشي چې سيمه راوښيي، خومونږ ورته وويل

-"مونږ يواځې ځو ، او د سيمې سره مو ډېر كارهم نشته يواځې غواړو ددې غره ننداره وكړو"

هغه هم بې ځوابه شو.اومونږ په همغې لار روان شو په كومې چې راغلي وو دشل پنځه ويشت ملټه مزل نه وروسته د خوړ كلي نه پاس په خوړ پراته ديوه بش پل ته ورسېدو همدغه ځاى ته دبنګېرې كمر وايي. دپل نه چپې ډډې ته د غره په لمنه كې څو واړه ،واړه پټي وو چې د جوارومونډان لاپكې ولاړوو. د پټيو په ليدو وپوهېدو چې راورسېدو خو چې په هرلوري موكتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼ بوټي اوونې وې د سمڅې كومه نښه نه ښكارېده . د پټيو په پاس سر
كې څو تورې، ببرې ، ببرې بزې ځرېدې . د پټيو قبلې لورته پاس د غره په
لمنه كې د كومې غنې خور او ګورشين بوټى و. د بوټي پاس څنګ ته وړه
سپينه چينه وه. اود بوټي دسيوري راښكته دوه سرې ټوټې ښكارېدې ،
مونږ هم د چينې په لور ورغلو،چې ورنژدې شو. سرې ټوټې سرې جنډې دي
چې په دوه وړو،وړوقبرونو رپېږي ديوې لويشتې په اندازه واړه
ښايسته،ښايسته قبرونه دي. په سپينو،شنو تورو او سرو كاڼو پرې
ګلونه كښل شوي دي اوجنډې يې هم دلاس د څپك هومره سرې پاكې ټوټې
دي چې ديوې لويشتې كدر داوږدو ښايسته سپينو ډكو په سركې سيلۍ
ته ورو،ورو څنې رپوي.
دقبرونو په ليدو حيران شو.نژدې ورغلو كاڼي پرې دپاسه نه وو ايښودل
شوي بلكې داسې ښكارېده لكه په خټه ياسيمټو كې چې كلك شوې وي. د
قبرونو ښايست ته فكر يوړو،كاڼي يې په ښه ظرافت برابر ايښودل شوى
وو. او له ايښودلو مخكې په نوروګټود سولولو او ياله بلې لارې ښه
اوارشوي او تراش شوي وو. ددوه ګوتو په اندازه دوه،دوه شناختې پرې
هسكې ولاړې وې . خواته يې دانار په جسامت دانارغوندې تك سور
منګوټى د رڼو او بو ډك پروت و. د قبرونو خوااوشا ښه پاكه پرته وه.
د اوبو داغونه پرې پراته و. داسې ښكارېده چې څو شېبې وړاندې پرې او
به شيندل شوې وي. اتينا غوښتل د كاڼو دكلكوالي په راز پوى شي، لاس
يې وروړ. چې له پاسه غږ شو
-" نه! لورې نه ! "كړه مې ننداره خوګوتې مه راوړه+خواته مې كښېنه خو
ګوتې مه راوړه." او ورپسې كټ،كټ په خندا شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ چې پورته د توت ونې ته وکتل ، یوه خوارکۍ بوډۍ ناسته ده.
تورزږوکی یې له سره خویېدلی دی. ویښته یې ډیر سپین دی او کم تور،
کوټ مخ اوکړشپه خوله، دونې په دوه ښاخونویې لرگي ایښي بر وزه
(مرغکۍ)یې پرې اچولې اوپرې ناسته ده . څنگ ته یې دوه نور ښاخونه دي.
په هغویې هم لرگي اچولي اویوه غټږ بروزه پرې پرته ده . په لاس کې یې د
بروزې نوی او بدل شوی پړی دی. ورو،ورویې پړی ټول کړ. د بروزې ترڅنگ
یې کېښود. راپاڅېده. لاندې په یوه خنډیې پښه کېښوده او راوې دانگل.
اتینا یې وپېژنده. ډاکټرې لورې سترې مشې . اتینا لاس ورکړ. قبرونوته
یې اشاره وکړه لاڅه یې نه وو ویلي چې بوډۍ ورته وویل.
-"که اوبه څښئ منگوټی واخلئ ډك پروت دی،سهارمې پرې څوکلیمې چوف
کړې دي. او گورې ددې چینې اوبه دي،دشیگل په ټوله دره کې داسې
خوږه چینه نشته " ورغله منگوټی یې راواخیست. بیایې اتیناته وویل،
-"لورې دانور مې هم بچي دی . خوته رابانډې گرانه یې تاچې دارو راکړي
اوس مې نه په سر دردوي نه مې ځان خوږېږي ټوله شپه خوږ خوب کوم"
بیایې وخندل ، ما او بریالي ته یې وکتل.
-"بچوتاسوخپه نشئ دادشهیدانو اوبه به دې له ورکړم" اتینا تری منگوټی
واخیست، شونډوته یې نژدې که بوډۍ پرې بیاورغږکړ.
-"نه لورې نه! د شهیدانو اوبه دي، دې گټې ته کښېنه په ناسته یې
وڅښه .چې دارودې شي"
اتینایوې گټې ته اوزه بلې ته کښېنا ستم اوبه یې په سرواړولې.
بوډۍمخامخ وکتل دوه سیرلي یې خپلو کې په جنگ و. وې ویل
-"دې میرات مړوځانونه مړه کړه زه به دوی خلاص کړم بېرته راځم"
اتیناچې اوبه وڅښلې پاڅېده،منگوټی یې له چینې نه راډك کړ،بریالي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې وخندل کښېنه چې هغه اوبه وڅښلې بل یې ماله راوړك كړ.ماترې واخیست ورته ومې ویل

-" زه خو ناست یم. وې خندل "هوښیارېې د خبرې ځای نه پرېږدې"

چې اوبه مې وڅښلې اتینامنگوټی بیاراوړك کړاودقبرونو تر څنگ یې د پخواپه څېر كښېنود،بوډۍ ترور راستنه شوه. اتینا ته یې وویل.

"شاباس لورې! دایې یواځې یادگارونه دي،دلته چاظالمانو څه وخت مخکې دوه سرې وژلي و، ماچې سهاربزې راوستې، بزې پدغه مخامخ ځای راټولې شوې،چې ومې کتل، وینې پرتې وې،پکول اویو توربوټ پروت و،پوه شوم چې دلته چاڅوك وژلی دی"

کینې لاس یې د جواروپټیوته ونیوپه مخ یې مړې،مړې اوښکې را ماتې شوې وې ویل

-"یو ترې دې پټوته منډه اخیستې وه، هغه یې په ټوپك له دې ځای نه ویشتلی و. بیایې مړي وړي و.پاس دغره په ډډه کې سمڅه ده،هغې ته یې خېژولي و.شگې یې پرې راړولې وې"

-اوښکې یې په پلوپاکولې اووې ویل

-"خوشهیدان چرته څوك پټولی شي، هغوی خدای په خپلوقدرتونوراښکاره کړه" اتیناترې وپوښتل

-"نو تاورله څنگه دلته دومره واړه قبرونه جوړکړي؟"

-"ماچې له کومې ورځې دغه وینې ولیدې اوبیالاړم دکلي خلك مې خبرکړل اوهغو له سمڅې شهیدان راوویستل اوددوی ځوانۍ مې ولیدې اوددوی له درجو خبره شوم چې څومره ښایسته پراته وو" دواړه لاسونه یې خپلوکې سولول او سر یې ورسره ورو، ورو خوځاوه." وۍ لورې که دې لیدلي وای لکه په خواږه خوب چې ویده وي،تندو یې داسې سپین برېښ کوو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکي،مسکي وو لکه دچاسره چې ټوکې کوي چې هغوی خلکو وې وړل بیامې ځو شپې سر په سر په خوب لیدل، چې په شنوباغونو کې به درنوچینوپه غاړه په تختونو ناست وو، یوه شپه مې ورته وویل بچوماهم درسره بوزئ. راته یې وویل "هر سهارچې بزې دغلته بوځې یو ځل الحمدالله اودرې ځله قل هوالله وایه او مونږ ته یې رابخښه نوبیابه دې راولو"بس زه هم راغلم. په وینو سره کاڼي مې ورله راټول کړل داقبرونه مې ترې جوړکړل او هر سهارورته الحمدو اوقل هووایم او نورې چې هم راته ځه کلیمې زده دي هغه هم وایم او هغوی ته یې ثواب وربخښم"اتینا ترې پوښتنه وکړه." نه پوهیږې چې داظلم به چاکړی وي"

اوښکې یې په خپل خیرن زړوکي پاکولې اووې ویل.

- "نه زه ځه پوهیږم خوکه هر چاکړی وي خدای دې ورته خپله سزاورکړي."

-"داسې ځوك خوله دغې پېښې وروسته دلته ځي راځي نه چې پخوانه راتلل"

-"دغه تبرگی راځي، دلته وگرځي راوگرځي او بیرته لاړشي. نه پوهیږم ځه پسې راځي"

-" تبرکی پخواهم دلته راته.....؟"

-"نه مخکی مې کله نه ولیدلی....؟"

اتینا ماته وکتل پوهېده چې دډېرومجرمانویوخوی دادی چې په کوم ځای کې جرم ترسره کړي لږترلږه یوځل خامخا دهغه ځای نندارِه کوي اوکه ځه وېره ورته نه وي نو بیا کېدای شي ډېر هلته تگ راتگ وکړي.

اتینا ترې بیاوپوښتل " تروري ونه پوهېدې چې کله یې شهیدان له کلي وړل ځوك پسې راغلي وو"

-ډېرخلك وو. همدغه تبرگی هم پکې و.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"زه وایم چې هغه دلته راځي هم زما په څېر به یې دوی نه هېرېږي ځکه راځي.هغه یې زخمونه ډیرپه غور کتل"اتینا بیاماته سترګې راواړولې ماناداچې هغوی د خپلو ګذارونو زورکوت .بیایي هغې ته وویل

-" تروري هغه سمڅه چرته ده....؟"وې ویل

-"دغلته نژدې ده راځۍ چې ورله بوموځم." ورسره روان شو. څلورپنځه دقیقې چې په ناوکې پورته لاړو یو کمر مخې له راغی . د کمردپاسه سمڅه وه. وروختو. دوه ګزه به سره وره وه اونژدې درې ګزه به اوږده وه . سرې په ټیټه ملاورننوتلای شو. مونږ یې خولې ته ودرېدو. اتینا له بوډۍ نه بیاپوښتنه وکړه

-" څومره وخت کیږي چې باران نه دی شوی"...؟

-"شپږورځې مخکې شوی و"

-"نودلته دامنډونه وینې...؟"

دسمڅې مخې ته په پرتوشګوکې یې منډونوته اشاره وکړه "نوددې مانا داده چې څوك په بیا،بیا دلته راځي.... تاخوڅوك نه دی لیدلی"

-"نا! ماخوڅوك ندی لیدلی چې دلته راغلي وي خو که تېرګی څه وخت راغلی وي اومانه وي لیدلی نوغاړه نشم بندولی. خوبل څوك دلته نه راځي. مونږ لا ولاړ وو چې له پورته نه دنیم کیلوپه وزن یوکاڼی را وغورځېد. نژدې ووچې داتینا په سرولګیږي مونږ حیران شو. هغوی ته مې وویل تاسوسمڅې ته ننوزئ. اتینا وویل

-" مخامخ مه ښکاره کیږه،داسې په څنګ لاړشه اوله هغه ځای نه وګوره"

له بډې نه تمانچه راوویسته مرمۍ مې تېره کړې وه خوکولنګ مې پرې ورښکته کړی و، په غټه ګوته مې ورله کولنګ راواړوو. له سمڅې ښه لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړم . وروغونديې مې سر او چت کړ، خنداراغله،په کړس،کړس مې وخندل غږ مې کړ

-"راووځئ د ترورېزه ده"

بريالی چې راووت ، بزې ته يې وکتل وې خندل

-"دترورېزې هم له شکيو نه ډېرې ببرې دي"، ترورخپله بزه پسې روانه شوه او مونږ ترې ښکته راروان شو. اتينا وروغونديې وويل --

"دسترگوکونج کې کينۍ اړخ ته وگورئ"

مونږ غلي وکتل، دتورپکول اوخړوجاموسړی ولاړو، مخ يې واړو،کلاشنکوف يې له ځان سره جوخت ونيوچې په اوږه پروت څادر کې يې پټ شي . اتينا وويل

-" څوك دی؟"

بريالي ځواب ورکړ

-"د تبرگی کشری ځوی!"

اتيناوويل

-"زه فکر کوم چې وژنه جنايي ده."ماترې پوښتنه وکړه

-" له څه نه پوی شوې؟"

-"وگوره وژنه چرته شوې او سمڅه چرته ده،په خپلو پښو راتلل خو تر سمڅې پورې اسان دي خو د مړو راوړل او بيا هغه هم قاتلانو ته داډېره گرانه ده قاتل ته وژنه دومره گرانه نه ده لکه دا وروستی پټونه اوځای ته رسونه يې. مونږ وليدل چې دسمڅې خولې ته په يوه شپه کې څومره گټی راوړل شوې دي. ددې دپاره چې مړي ښکاره نه شي.بيا ددلاور د ورور خبره چې په کومو گټووينې توی شوې وې هغه يې په ډېرشواخون دلاسي څراغ په مټ پيداکړي دخوږ په اوبو يې پاکې وينځلې وې،دوی داټولې


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅې ددې دپاره کولې چې وژنې پټې کړي او چې دپېښې ښکاره کېدو نه يې دومره وېره لرله لامل يې همدادی چې دوی دبل چاپه وينا وژنه نه وه تر سره کړې بلکې دپيسو دتر لاسه کولو دپاره يې کړېده" ماورته وويل

-"همدغه فکرزه هم کوم اوددې ترورخبرومې داګومان لاپسې پوخ کړ خو ثبوت څه دی...؟ قضا خوستا فکرونه نه مني ثبوت غواړي"

-"په ثبوتونو پسې يې نه ګرځو بس همدغسې يو رپورټ ليکم همدا دليلونه پکې راوړم زه پرې هم لاسليك کوم او ته به يې پرې هم وکړې نوره پکې څه خبره نشته . درپورټ يو نقل د شيګل څارنوال ته هم ورکوم. هغه لاپه شك کې دی . اصلي قاتلان لانه پېژني د هغه به دغه شك لرې شي اوزمونږ به دسياست"

-"لکه څنګه چې مې مخکې درته وويل رښتيا دادي چې که خپل فکرپکې ملګری نه کړونومونږ تر اوسه يواځې ددې څه تتې نښې ليدلي، سم روغ ثبوت موندی موندلی چې پېښه جنايي ده . کېدای شي ديو جنايي قاتل غوندې سياسي قاتل هم د جرم د ځای بيابياکتنه وکړي" هغې وويل

- "دوی خپله سياسي خلك نه دی که وژنه سياسي وای نو دبل په ويناکېده. او هغه به خامخادوی ته دين رامخکې کاوه. او که وژنې ديني اړخ لرلای بيابه دوی دومره ډېر د ضمير سره په جګړه نه وو اخته. بس خبره به وه تېره به وه اودوی به هم هېره کړې وه"

بريالي وويل

-"کېدای شي دوی د جرمونو ډېر اوږد تاريخ ونه لري.اتيناعصباني شوه خپل سر يې په دواړو لاسونو ونيو وې ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"تاسو خبره اوږدوئ،داخلك ډېر خطرناك دي،مونږ په يو ډېراحمقانه پلان كاركوو، زمونږ ژوند په خطر كې دی، بايد له فكرنه كار واخلو،په سترګوكې يې اوښكې راښكاره شوې.

-"خدای مه كړه كه په تا يابريالي څه وشي زه به څه كووم،ټول ژوند به ځان مجرمه ګڼم"په سر مې ورله لاس راښكه

-"دزړه سره خپه كېږه مه،چې زه درسره يم هيڅ غم مه كوه، خدای به هر څه اسان كړي، حوصله كوه"

اوښكې يې پاكې كړې.ماته يې مخ راواړوو " ته خو ورسره تېره ورځ ميلمستياكې ګډناست وې څه فكركوې....؟" ماويل "ښه پوخ مجرم دی. د كسين سلطان ټولې نښې پكې شته. هيڅ ته په ارزښت نه ګوري"

اتينا پداسې حال كې په خنداشوه چې په سترګوكې يې لا اوښكې ځلېدې. "چندان اهميت يې درنه كه "ماويل "په يوه كاسه راسره ناست و ،غوښه يې رانه ټوله وخوړه ،ماورته څوخبرې پيل كړې خو ډېرې په لنډه يې ختمې كړې"

-" تاورسره څه خبرې كولې"

-"ماورته خبره لومړی له ډوډۍ راونيوله،غوښه يې هسې په اوبوكې سپينه ځوښولې وه. زمانه يې پوښتنه هم ونه كړه په كاسه كې يې دډوډۍ په ماتولوپيل وكړ، ماورته وويل پكې ماتوويې...؟" وې ويل "زه خوبه يې پكې ماته كړم"اتينا وخندل "مانا يې داچې زه يې پكې ماتوم او ستاخپله خوښه"ماويل "هو.... اوچې څوښونې مو وخوړې ماورته وويل"ستاسو د ځای خواړه مې ډېرخوښ شو" وې ويل "كوركې يې هم همداسې پخوه" بيامې ورته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"ډېره ښکلې سيمه ده ډېره مې خوښه شوه" وې ويل "چې خوښه دې شوه يکې واوسېږه".اتيناوويل

-"که خوښه مووي شپه به دهمدې اسلم خان کاکاسره وکړو او سهار به لاړشو".بريالي وخندل

- "که تبرگی مو روغ پرېږدي"

-اتيناوويل "زه هم همدغه فکر کوم. خوڅه به وکړي لار به راته ونيسي؟" ماورته وويل " لاربه راته هله نيسي که له نن شپې مونږ اوهغوی دواړه ژوندي ووتو،اوکه يوه ډله له منځه لاړه نو هغه خبره شوه چې "خس کم او جهان پاك"

ماښام نژدې و چې بېرته کلي ته راورسېدو . اسلم کاکا په لار کې ولاړو. فکر مند غوندې و. پخير راغلی يې وواېه او دکور په لور راسره روان شو.زما سره څنگ په څنگ روان و، خو چې حواسو ته مې ورله کتل پوهېدم چې څه اندېښنه لري. پوښتنه مې ترې وکړه.

-" کاکا!ولې اندېښمن غوندې يې؟"

- " تاسو چرته تللي وئ؟"

- " ښکته دخوړکلي په لور!"

-"دڅه دپاره؟"

-" چې غرونه اوسيمه ووينو".

- "دغه لار خو تاسو ليدلې وه. پرې راغلي وئ ، او دسيل ځايونه خو د سمه لام نه پورته دي. د خوړ کلي په لور څه دي؟"

-" کېدای شي ډېر دسيل ځايونه وي خو مونږ نور ځايونه، نه وليدلي."

-" دکوم ځای پورې تلي وئ؟"

-" دبنگېرې دکمر پورې،چرته چې پُل پروت دی".

(c) ketabton.com: The Digital Library



-" سمڅه مووليده؟"

-" کومه سمڅه ؟"

-" څه وخت مخکې چې پکې مړي موندل شوي وو."

-" هو!"

-" نورڅه خو مو ونه ليدل؟"

-" لکه څه ؟"

-" داسې څه چې اندېښنه يې دراچولې وي."

-" دتبرګی ځوی مو ولیده".

- "سمه ده،تاسو کورته ځئ اوزه د تبرګي دوی کورته ورځم."

اسلم کاکا لاړ خو مونږ وګڼله چې څه پېښېدونکي دي. غلي روان وو. اتيناخاموشي ماته کړه

-" تمانچو ته مو مرمۍ تېرې کړئ. او ځانونه مود هر راز حالت دپاره په ذهني ډول تيار کړئ"

په تمانچو مو بيا کولنګونه راواړول لږه شېبه وروسته د اسلم خان کاکا کورته ورسېدو. زه او بريالی پاتې شو او اتينا دننه کورته لاړه.

دماښام د لمانځه وخت و. بريالي ته مې وويل

-"وخت دمانځه دی خو په وار سره به مونځونه کوو"

زه په لمانځه ودرېدم او هغه کړکۍ ته مخا مخ کښېناست، ماچې لمونځ خلاص کړ هغه ودرېد او زه کړکۍ ته کښېنا ستم.له کړکۍ نه د کور لويه دروازه ښکارېده. لږه شېبه وروسته خلاصه شوه. اسلم خان کاکا رانوت.ماورته کتل چې د حجرې په خوا راروان شو. زه دروازې ته ورغلم. خو هغه غلی حجرې ته راغی. وې ويل

-"ډاکټره! راغلي ياستئ زه به کورته ورشم"

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لاړ خو زه پوهېدم چې حواس یې لا اوس هم په ځای نه دي.

اسلم کاکا دډوډۍ سره راووت. په ډوډۍ کې مې هڅه وکړه چې زه او بریالی یوې کاسې ته رانه شو. همدغسې مو وکړل زه داسلم کاکا اوبریالی یې دځوی سره یوې کاسې ته کښېناست. دډوډۍ له خوړلو وروسته اسلم کاکا خپل پنځلس کلن ځوی کورته ولېږه او پخپله یې د چای پیالې ډکې کړې او وې ویل

"ډاکټره! مازدیگر مې دتبرگي ځوی ولیده چې ستاسو نه مخکې راروان و،زه په دویمه ورځ په تاسو شکي شوم. خو زه پښتون یم او تاسو مې په کورکې مېلمانه وئ، داراته ډېره گرانه وه چې له خپلو مېلمنونه پوښتنه وکړم. ستامېرمن دتبرگي دوی د کور له کومې ښځې نه څه پوښتنې کړې وې او دغو پوښتنو هغوی هم په شك کې غورځولي وو. اوس یې ماشکونه یوڅه لرې کړل. خو تاسو راته رښتیا ووایئ چې څه پسې راغلي یئ. کوم کسان چې پدغې سمڅه کې مړه موندل شوي وو دهغوی خپلوان خو هم نه یاستئ،ځکه چې که هغوی راتللای نو د ښځې راوستلو ته یې څه اړتیاوه. بس راغلي به وو،مړي به یې کړي وو اوتلل به."

ورته ومې ویل"کاکا!ته زما نه څه پوښتې؟"

-" ستاسو دراتلو مسخد".

-" رښتیا ځواب غواړې.؟"

-" وو- رښتیا".

-" په ځان کې د رښتیا د اورېدلو وس وینې؟"

-" ډېر گرځېدلی یم،ځو ملکه مې خوړلي دي او دا مې زده کړي چې په سړه سینه ځنگه خبره واورم او ځنگه په سړه سینه ځواب ورکړم. که زما په وژلو پسې هم راغلي یاستئ، ښکاره یې ووایئ،داژمنه نه کوم چې ځان به تړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسپارم،ژوند خوږ دی،ځان مرگ له نه درکوم خو دا ژبه درسره کوم چې تاسو هم مرگ له نه ورکوم".

-" مونږ دامالومول غواړو چې تبرگي دوی کومې وژنې کړي دي دڅه دپاره يې کړي،دپيسو دپاره که دچاد سياست دپاره؟"

-" بس دهمدې مالومولو دپاره راغلي يئ؟"

-" وو، بس دهمدې لپاره".

-" که درته مالومه شي نو بيا؟"

-" نو که دپيسو دپاره وي هم زمونږ ورسره کارنشته او که دسياست دپاره وي هم".

-" په خندا شو ټکورجانه! نو بيا يې مالوموئ څله؟"

-" کاکا ځينې خلك داسې گڼي چې داوژنې سياسي اړخ لري او که دغه رښتيا وي نو بيا امريکايان غواړي د هغوی په وينا دلته چڼ او دپاکولو عمليات تر سره کړي او تاسو ته مالومه ده چې دهغوی د پاکولو عمليات د گنده کولو او لاپسې خيرنولو عمليات دي،او دچڼ عمليات يې د ښو او بدو د گډولو او په يو صف ددرولوعمليات دي. زماپلارهم دکونړ دی او د يو کونړي په صيپت نه غواړم زما داسيمه بې ستره شي. که خدای مه کړه د تالاشۍ په وخت د کوم غير ملکي فوځي شنې سترگې د کومې افغانې خور په سپين مخ ولگېږي نو همدغه د ټولو افغانانو د سر ټيټۍ دپاره بس دی. مونږ ښه پوهېږو چې جرم دپيسو دپاره شوی. خو زمونږ خبره بې ثبوته څوك نه مني، زه د يو افغان په توگه له تانه هم غواړم چې زمونږ سره مر سته وکړه او داخپله سيمه بدرنگۍ ته مه پرېږده.

په اوږه يې راله غلی غوندې لاس کېښود

 www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"پیاله دې واخله،سړېږي او بې غمه اوسه زه ستاسو سره یم، هر ډول مرستې ته تیار یم، دا سیمه مونږ له وروسیانونه ساتلې ده هغوی ورته نه دي راغلي، له دوی نه به یې هم ساتو"

د چای له څښلو وروسته څه شېبه ناست وو، بیا یې وویل

-"ډاکټره! ویده کېږو،خو نن به کټونه بدلوو ته به زما په کټ کې ویده کېږې او زه به ستا"

-" ولې ....؟"

-" بس پوښتنه مه کوه خو دکور دبلې په سرکټ پروت دی ورخېژه او مېرمن دې هم ورخېژوه زما هغه به اوس دحجرې بلې ته راغلې وي".

زه ټکنی غوندې شوم وې ویل

-" زما او ستا پرده سره شریکه شوې پوهېږې چې مېرمن دې زما مېرمن ته خواښې ویلې ده.

په هغه پسې دکور په لور ور روان شوم په لومړي ځل یې راته مېرمن د بچي په خطاب سترې مشي راکړه. ما ځان کټ ته ورساوه لږه شېبه وروسته اتینا راغله.ځان یې کټ ته راوغورځوو وې ویل

-" د خوب ځای مو څنگه بدل شو" " کېدای شي دامنیتي دلیلونو له مخې، خو تا څنگه خواښې پیداکړه"

مخ یې راله په مخ کېښود

-" لوی ارمان مې دی چې افغانه خواښې ولرم، ماویل که ستا مور ته ژوندي ونه رسېږو نو یوې افغانې مورته خو به مې خواښې ویلې وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسم څپرکی

## دمـجرم پـه څـرك پسـې

دسهار له لمانځه وروسته مې لاسونه ددعا لپاره لپه کړي وو. چې اسلم خان کاکا له جومات نه راغی،حجرې ته راننوت، زه هم راپاڅېدم وې ویل

-" ډاکټره! تبرگی دوی تللي دي"

-" چرته تللي؟"

-" باندې ته،زمونږ خلك په پاس غرونوکې ورشوگانې او مال چرونه لري،په اوړي کې مالونه هلته بیایي، همدې ته مونږ باندہ یا باندې ته تلل وایو".

-" ستاسو د کلي باندې چرته دي..؟"

-" زمونږ باندې نژدې دي خو تبرگی دوی دخپلو دوستانو باندې ته تللي، دوستان یې په لنډي ناو کې دي...."

(c) ketabton.com: The Digital Library



-" او ددوستانو باندې يې؟"

-" باندې به یې هم همدغلته چرته وي".

اسلم کاکا دغه خبرې وکړې اوکورته واوښت، زه څه شېبه بېخي بې حسه غوندې وم،هيڅ فکر او پرېکړه مې نشوه کولای. نه پوهېدم څه وکړم،له بېګاه نه مو چې د وژونکو په پېژندو باور يو څه پوخ شوی و،خپل هدف او موخه مو بدله کړې وه. اوس مو هدف يوازې دداسې ثبوتونو لاسته راوړل وو چې وښيي پېښه جنايي ده که سيا سي. خو شپه موپه خواړه خوب تېره کړې وه. هيڅ بيلګه او ثبوت مونه لاسته راوړی و او نه مو پسې هڅه کړې وه. ناڅاپه مې څه ذهن ته ټکان راکړ، يوه شېبه په فکر کې لاړم .

ګورم چې امريکايانو لوی، لوی وزنونه په شا پسې تړلي ټوپکې يې مخامخ نيولی په ماشو يې ګوتې ايښي، ستمېرې او دشيګل له پل نه پورته د درې په لور راروان دي.لومړي کلي ته راورسېدل ، يوپوځي بل ته د ګوتې په اشاره يو کور وروښود. پخپله د څو نورو شين سترګو سره د کور مخې ته ماشه په لاس ودرېد، او نوروته يې کورته د ورننوتو نغوته (اشاره)وکړه، هغوی دروازه ووهله، خلاصه نشوه دټوپك په کونداغ يې دړه ماته کړه،ورننوتل، له دننه د ښځو او ماشومانو شور ماشور راووت،زما په مغزو راننوت سر مې څنډواهه، ځان ته مې وکتل چاراته په غوږ کې وويل "که په هر ډول کېږي پکارده چې دې سيمې ته د بهرنيو فوځيانو دراتلو مخه ونيول شي"له دې سره اتينا رایاده شوه چې زه يې په څومره هيلو له ځان سره ملګرې کړی وم. مينه مې وه،دهغې داحساساتو درناوی مې خپله پښتو ګڼله،او پوهېدم چې ښځه که هر څو مره پيا وړې،ځواکمنه او بر لاسې شي خو سترګې يې تل د نارينه په مټو نښلي. او بيا هرې خورته خپل ورور اوهرې مينې ته خپل مين په ټو لو بر لاسی اتل او دفکرونو شهزاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري.اوزه خو د کومې بلې سیمې مین هم نه ووم، پښتون وم . او پښتو داده چې که ښه پوهېږې چې مرې، ژوند دې ختمېږي. هیلې او ارمانونه دې په وینو کې بهېږي خو د ښځو په مخکې څنګه وایې چې دې ځای ته نشم یا نشو تللی، د مرګ وېره پکې ده. دایوه بانه کېدای شوه چې اتینا ته مې ویلي وای، مونږ پښتانه یو. که مونږ مړه شو څه خبره نده.پښتانه هسې هم فکر کوي چې د غیرت دمرګ لپاره پېدادي. خو دپښتنو مړي هم دانشي زغملای چې ښځه دې یې د بل چا لاس ته ورشي. او همدا وجه ده چې ډېرې پښتنې ښځې له کونډتوب وروسته د خپل مړ مېړه غیرت ته ګوري او نور ودونه ،نه کوي.

خو زه پوهېدم چې داهم تشه یوه بانه ده او داسې بانه چې اتینا خو به پرې وغولوم خو چې بېرته روان یم سر به مې ټیټ وي، سترګې به مې ټیټې وي او پښتنو خو ددنیا لویو،لویو زبر ځواکونو سره ډغرې د همدې سر د هسك ساتلو لپاره وهلې دي.

او ددې سر دهسك ساتلو یو اځې یوه لاره ده چې "داسې څه مه کوه چې داسر پرې ټیټېږي، او دداسې څه له کولو ډډه مه کوه چې په نه کولو یې ټیټ شي" زه پدې فکر کې ووم چې بهر مې د پښو ښکالو تر غوږ شو چې ومې کتل اسلم کاکا و. سپك راپاڅېدم. ورته ومې ویل

-"کاکا!مونږ ورپسې ځو"

-" چرته ؟"

-" چرته چې هغوی تللي."

-" پوهېږې چې دا ډېره خطر ناکه پرېکړه ده".

-" که هر څه وي، خو مونږ به ځو."

لږ فکر یې وکړ. بیایې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"ماورته پرون ويلي وو چې دوی ځي کوم بل کلي کې د خلکو درملنه کوي، خو کلی مې ورته نه و ښو دلی."

-" نو بيا مونږ ددغې خبرې نه گټه اخيستلی شو. هلته چې مو ووينې فکر به وکړي چې زمونږ له راتگ نه مخکې يې دا پلان درلود".

-" يوڅه دغه دليل هم د ځان خلاصولو لپاره کاروړکولی شئ".

-" نو بيا مونږ ځو."

-" که وروستی پرېکړه همداوي نو بيا چای وڅکئ او روانېږئ".

-" بيخي سمه ده."

دی کور ته واوښت، بريالی هم چې بهرته وتلی و راغی. هغه مې هم خبرکړ.ځوی يې چای راوړ. چای مو وڅښه. او چې کتل مو دی خپله مخکې مېرمن يې او اتينا ورپسې راووتل. مونږ هم راپاڅېدو. مېرمن يې يو ځل بياد ځوی په خطاب رخصت کړم. چې له دروازې بهر راووتو سامانونه په کچره باروو او دوه کسه ورسره ولاړوو. يو يې د کچرې سره رخصت کړ او بل يې زمونږ دلارښود په ډول له مونږ سره پرېښود.اسلم کاکا غاړه راکړه،وې ويل

-"نه پوهېږم ډاکټر درته ووايم که ټکور" بريالي ورته وويل

-"دواړه يې کړه چې ډاکټر ټکورشي" وې خندل

-"داټکور د حکيم سره ښه لگېږي د ډاکټر سره ښه نه برېښي"بيا يې غلي غوندې وويل

-"ډاکټر ټکوره! پدې بوخڅکی کې دېبج دغره يو څو کانې دی. يو څو نه بلکې څلور قلمونه دي.دوه دې دمېرمنې دی يو ستادی اويودې د ملگري". بوخڅکی مې ترې واخيسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"کاکا! دپېچ غرونه خو بېروچ لري او که په دومره وزن کې بېروچ مونږ ته راکړې نو داخو ښه خبره نده"
-"په ښو بدو پسې یې مه گرځه،دا په یو ډز راغورځېدلي دي نور مې خرڅ کړل او پدې کې به ستاسو نصیب و"
بس ترې وامې خیستل اتینا هم راووته چې یو ځل بیا یې تور زړوکې په سر و او روان شو.مونږ نېغ دغره څوکې ته وختو. د غره څوکه دهوایي ډگر په اندازه پراخه او داسې اواره وه چې د هوایي ډگر دجوړولو لپاره یې د زغل لیکې له پخو ولو پرته بل کوم ځای اوارول نه غوښتل زمونږ لارښود،محمدین گل چې دپنځه څلوېښت کلونو په شا او خواکې ښکارېده. او د اسلم خان کاکا په څېر لویه ږیره یې تر سینې راخوره وه وویل
-"دې ته باغونه وایي نااشنا خلك ټول فکر کوي چې ددې غرونو څوکې به تېرې څوکې وي خو وگورئ ډېر دلرې پورې دا ټول غرونه اواردي. د غره دغه لمنې چې د شنگس لورته پرتې دي هم همدغسې اوار میدانونه لري ،داټول ډاگونه همدومره دنگونښترو پوښلي دي نو ځکه یې سرې په اوار والي نه پوهېږي. خو چې پکې وگرځې د لاس دتلي غوندې اوار دي"
لږ چې مخکې لاړو وچ نښتر مو ولیدل چې دشپول په ډول یو د بل څنگ ته ولاړ وو. چې نژدې ورغلو دایو لوی ډنډ و،دومره ډنډ چې د سیل دوړوکیښتیو دچلولو لپاره ډېر وړ ډنډ و.شنو اوبو یې سترگې نیولې، عجیبه لاداوه چې د شنو اوبو په منځ کې کبان ښکارېدل له محمدین گل نه مې پوښتنه وکړه داخو د باران اوبه دي نو کبان له اسمانه را وورېدل که له کومې راغلل؟ .وې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"ډېر کلونه پخوا ورته دسیمې خلکو په وار سره اشرونه وکړل په خوړ کې يې کبان ونیول او په اوبو کې یې دلته راورسول اوس هغه ډېر شوي دي او غټ شوي هم دي"

خو مونږ لا اوس هم پدې نه پوهېدو چې د نښترو دلرگو داشپول یې ورته ولې وهلی ؟ محمدين گل وويل

-"د مالونو دپاره، مخکې به مالونه اوبو ته راتلل ورغورځېدل به داشپول ورته ولس تاوکړ چې مالونه ور ونه غورځېږي"

مونږ د باغونو چې رښتیا هم اوار ډاگونه وو په مينځ ووتو او شنگس ته ورسېدو. شنگس کې مو د اسلم کاکا دیو دوست په کور کې د غرمې ډوډۍ وخوړه. د شنگس کوربه مو شېرگل و. چې د دېرش دوه دېرشو کلونو په عمر لوستی ځوان و. او همدغلته په کوم ښوونځي کې ښوونکی و. ویل يې د شعر او شاعرۍ سره هم مینه لري. ورته ومې ویل"قدرت چې کومه ښکلا ستاسو سیمې له ورکړې پکارده چې پدې غرونو کې د نړۍ تر ټولو شهکار ادب وپنځول شي"

له غرمې وروسته د شېرگل نه رخصت شو او بیا مخ پورته روان شو. دا ډېر گران مزل و. دغه غرنۍ سیمه ده محمدين گل ویل "دغربه په ببېخ ځې یاپه سر"مونږيې رساپه سر روان شو، په یوه څوکه ختو او په بله کوزېدو چې قضامازدیگر دلنډي ناو کورونو ته ورسېدو. مونږ چې د چاکورته راغلي وو هغه هم بانډې ته تللی و. خو بانډه يې محمدين گل په دوه پوښتنو مالومه کړه او نېغ یې ور وستو.ده ته نو محمدين گل ټوله خبره په درې ټکوکې رالنډه کړه.

"دا دا سلم خان کاکا مېلمانه دي. دادهغې ډاکټرې مېره دی چې اوس ستاسو کورته ننوته. او دابل ددې دواړو ملگری دی.که کچرو سامان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړی وي نو په هغې کې،دارو او نور بلا،بتر دي دوی یې خلکوته ورکوي او کاکا اول سلام کوو او بیایې ویل چې ښه به یې وساتې" بس دمحمدین گل خبره نوره ختمه وه .د کوربه سترگې وړې تنگې تنگې خوتکې شنې وې، خړ پکول او مې وریجې ږیره،شونډې یې پېړې نه وې خو ډېري په بې خونده ډول بهر ته راوتلې غونډې وې او نوم یې هم ځواکمن و، ماچې ورته په غور وکتل، زړه مې وانه خیست.د چاچې شونډې او په ځانگړي ډول لاندینۍ شونډه بهرته راپاسترغونډي وې او یایې لاندینۍ شونډه له پاسنۍ هغې جوت پېړوالی ولري، چې دشونډې دغه ډول هم بهر لوري ته یوڅه ځوړند غونډې ښکاري دغه ډول خلك یاخو ببخي رازنشي ساتلی او یادخولې ډېر لوی خارښ لري. په هغه څه کې گوتې وهي چې کاریې ورسره نه وي،او زمونږ نوی کوربه همدغسې و. زه پوهېدم چې سبابه راباندې ډېرې بانډې خبرکړي.

خو بله لارهم نه وه او کله،کله داسې هم وي چې روغ سړی به دې هسې په نظر کې ښه رانشي. اودچاپه نظر بد راتلل ددې دپاره دلیل نشي کېدای چې دغه سړی به خامخا بد وي.هغه یو څه په شکمنه کتل خو په مسکایې وویل

-"دامو خپل کوردی هر ثومره وخت چې تاسو غواړئ دلته داسې واوسئ لکه په خپل کورکې چې اوسېږئ، اورښتیادکچرې واله ستاسو سامانونه رارسولي دي.دننه مې خوندي ایښي"

ددوی بانډه دغره په لمنه کې وه.دغره لمنه هم ورته نشوه ویل کېدای رسا دغره په نیمه کې وه، خو غر دومره لوړ نه و. د دوی سره یواځې دوه کټونه وو.دخپلې کېږدۍ ډولې کوټې نه ثوقدمه لرې یې واچول . دماسختن ډوډۍ مو په همدغو کټونو کې وخوړه. چای موپسې وڅښه . بیا یې یو کټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخیست. د غره په لمنه کې پورته روان شو.دسپوږمۍ په تته رڼا کې مې ولیدل چې ښځې یې بستره اخیستې،پسې روانه وه.

کټ یې برابر کړ. ښځه یې کېږدۍ ته اودی زمونږ خواته راغی.راته یې وویل "ډاکټر صیب!تاسو له مې کټ جوړکړی. ښه ډاډه پکې ویده شئ. او ملګری به دې همدلته ویده شي زه او محمدین ګل به هم ورسره پرېوزو" بریالي ته مې سترګوکې ور وکتل ،موسکې شو په سر یې اشاره وکړه چې ورځه شپه موپه خېر.

بس روان شوم.چې کټ ته ورسېدم اتینا لا پخوا رسېدلې وه. کټ کې ناسته وه.په خندایې وویل

-"لکه چې پښتو دې کچه کېږي، دلته به د کټ مینځ کې پوله د څه نه جوړوې کمبله هم نشته" ورته ومې ویل

-"پاڅه"

پاڅېده،توشك مې په اوږدو رساپه منځ راغبرګ کړ. په کټ کې مې اوږد وغزاوه.په خندامې ورته وویل

-"پښتو مې وساتله"وې خندل

-"ما اورېدلي وو چې پښتانه ښځوته شا نه وراړوي"

ددې سره مې په مغزو کې کوم چینجی وخوځېد،توشك مې ونیو، ښکته مې وغورځاوه

-"بس راځه چې نن یې مالومه کړو، دپښتو یوه لار به پرېږدم په بله به روان شم"

هغه له خنداشنه وه.بېرته یې توشك راواخیست.خو ما بیا وغورځاوه. له لاسه مې ونیوله . کټ کې مې راڅملوله. زرې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-" دمور نصيحتونو ته دې وګوره،دېرې لږې ورځې پاتې دې پدې کې دې خپل ښاغلی ځلميتوب او زما پاك پېغلتوب دګناه په سيند مه لاهو کوه" په سترګو کې يې اوښکې راغلې
-"ماخو ستانه  سپيڅلتيااو پاکي زده کړه،ټوکه مې درسره کوله.خدای دې ټول ځلميان همدغسې سپيڅلي او پاك زړي کړي "
 پاڅېده توشك يې هماغه شان په کټ کې وغزاوه ماته يې وويل" وخېژه!اوربېدلي مې دې چې افغانی مېرمنې د مړونو کټ له ورځي ،مړونه يې دهغوی کټ ته نه ځي"ماويل
-"خدايه خېر بيا په بله لاړه نه شي"وې ويل
-"نوولې داسې کوي؟"
-"ځکه چې دښځو سره اکثربچي وېده کېږي اوکه مېړه يې دهغې کټ ته ورشي نو کېدای شي دوی په ځان پوه نه شي او ماشومانو ته زيان ورسېږي"زريې وويل
-"اوکه زيان ورونه رسېږي نو راويښ خو به شي" بيايې وخندل
-"پښتو هم عجيبه ده، د همدغې پښتو دپاره دې دا څوشپې په ځان څومره سخته تېره کړه. زه در باندې پوهېدم چې په زړه دې څه تېرېږي،او هغه يوه شپه خو نيمه شپه راپاڅېدې،د سپوږمۍ رڼا ته دې راله مخ ته په ځير،ځير کتل،ما په زړه کې ويل لکه چې پښتو او د مور نصيحتونو ته همدلته شاکوي، خو بيادې يو سوړ اسويلی وويست او سر دې کېښود خو اوس دې دغه هر څه په اوبو وړل"ورته ومې ويل
-"په استنبول کې دې داپه فکر کې تېرېدل چې کله به دداسې اوچت غره په نيمه کې کټ اچوې او ويده کېږې به ؟"وې ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"نه ، او بیا دافکر مې کله کولی شو چې په هغه کټ کې به راسره ته هم نژدې گاونډی یې،زه به درته خبره کوم او ته به یې په بله اړوې"
غبرگ مو ښه په کټ،کټ وخندل بیا مې خوله سپین اننگي ته ورنژدې کړه هسې مې ترې یو چړپ وویست او ورته ومې ویل
"گرانې ویده شه داسې دپاټکونو شپې ډېرې نه دي پاتې"

یولسم څپرکی:

## دشــنو گـټیو قــاضــي

ځواکمن دوی په بانډه کې اوسېدل، کلی نه و چې گڼ کورونه سره یو ځای پراته وای.که څه هم دغه غرونه ټول د خلکو بانډې وې. خو یوه بانډه له بلې دومره لرې وه چې خبرول یې او بیا د کتنې لپاره د هغوی راتلل اسان نه و.او ددوی دبانډې تر څنگ نورې درې څلور بانډې وې،چې په گرانه به پکې پنځلس ،شل کسه اوسېدل هغوی ته یې خبر ولېږه، راغلل،چې یوکورپکې دتبرگي هم و. تر غرمې پورې اتینا وکتل وروسته وزگاروو.
مونږ غوښتل دغه سیمه ووینو او محمدین گل ته ددغو غرونو لوېشت،لوېشت مالومه وه. هغه مو له ځان سره واخیست او په غره کې مخ پورته روان شو.دغره څوکې ته چې ورسېدو.هغه راته په گوته د غرونو سرونه راوښودل


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"هاغه مخامخ غر ته چیل گټې وايي چې له سمه لام نه مخامخ پورته راشې همدغې ځوکې ته رارسیږي.مونږ ته مخامخ دې ځوکې ته پنډسر وايي"پوښتنه مې ترې وکړه

"چیل گټې ورته ولې وايي؟"

"دغلته گټې یوه دبلې په سرچیل پرتې دي کېدای شي له دې امله"

بیا یې وویل "د چیل گټو او پنډسرترمنځ چې کومه کږپه ده پدې چې وخېژې همدغلته دشنوگټوقاضي دی"اتینا ترې پوښتنه وکړه

-"دغلته خو مونږ دشنو ونونه پرته نور څه نه وینو ولې کومه ابادي هم شته چې دغه قاضي پکې اوسېږي؟"

-"نه!دغه په غره کې ښکته یوه لویه کنده ده،کنده هم نه ده یو سوری دی.اودغه قدرتي دی،دومره ژور دی چې کاڼی وروغورځوې تر ځودقیقو پورې یې کړنگا اورې خو تر اوسه یې لا چا ښکته دلگېدو غږ نه دی اورېدلی،خلک وايي چې داڅومیله ژور دی" پوښتنه مې ترې وکړه -"نو قاضي ورته څنگه وايي؟"

-"داد پخوا زمانو نه په قاضي مشهور دی،دټولې سیمې خلک چې دشپې مرگونه کوي، خلک همدې ته غورځوي"مونږ ورته وویل

- "ولې یې وینو نه؟"

-"راځئ چې ورشو" اتینا ترې پوښتنه وکړه

-"ددې قاضي سینې ته به څومره ارمانونه ورغورځېدلي وي؟"

محمدین گل وخندل

"په سلگونو خو یواځې دجهاد په وخت کې ورغورځول شوي دي"

"تاهم ورته ځوك ورغورځولي؟"وې خندل

- "رښتیابه درته ووایم، یو ملا مې ورغوځولی دی"

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "ملا دې ولې ورغوځوو؟"
- هغه دوروسيانو ملاو.
- "د وروسيانو ملا؟"
-"وو.... وروسيانو له يې مونځ ورکوو" بريالي ورته وخندل
-"تاته چا وويل چې دوروسيانو ملادی؟"
-" قومندان صيب راته وويل چې دا د وروسيانو ملا دی،دشنوګټو قاضي له يې بوځئ چې ځه پرېکړه پرې کوي ، بس مونږ هم راووست"
اتينا ترې وپوښتل
-"ښځې به هم چاورغورځولې وي؟"
-" دلته دښځو ورکېدل پخپله يو شرم دی، پېغور دی، بيا خلك وايي د فلانکي لور ياښځه تښتېدلې ده نو ځکه ورته ښځې ډېرې کمې ورغورځول شوي دي، خو دښځو د انډيوالانو ځای همدغه دی.انډيوال يې دې ته ورغورځوي او ښځه بياله غره نه ورغړوي. خو يوه سړي خپله لور چې له باندې نه يې بزې ځرولوله بيولې وې او انډيوال يې پسې هم راغلی و،دواړو سره ځه نوکې لګولې وې،ده ليدلي وو،دواړه يې وروغورځول"
مونږ لا داخبرې کولې چې محمدين ګل وخندل
-"ملا صيب چې مودې ځای ته راورسوو،په ځان پوی شو، وې ويل
-"پدې ګټه به يو دوه رکعته لمونځ وکړم"
زما ملګری ورته وويل
-"وروسيان نشته دی چې درپسې ودربېږي، دهغو سره دې ګډ ډېر مونځونه کړيدي، هغه دې بس دی،رامو ووست د ډډم پدې بوټي مو ودروو او ښکته مو ټېله کړ"

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشنو ګټو قاضي ديوې څاه په ډول ددوه مربع مترو په کچه پراخه او تر نامالوم ژور والي پورې ژوره کنده وه. په غاړه يې يو د ډډم بوټى ولاړ وچې ځنې يې قاضي ته ورښکته شوې وې او قاضي يې نژدې په خپلو ځنو کې پټ کړى و. محمدين ګل ويل چې دى کله وړوکى و هم دا ډډم د قاضي په ځنډو همدغسې راخور و. له قاضي نه څومتره لرې د نښتر يوه لويه ونه ولاړه وه. محمدين ګل ويل چې" له ده نه ورته دوه بزې هم ورغورځېدلې دي او خلکو يو وخت کوم لېوه هم ورغورځولى و"

بريالي ورته وويل

-"نو دقاضي سينه نده دپاکستاني اچار بوتل دى، چې امونه او ټېپر پکې يو ځاى پراته وي"

مونږ درې واړو په وار سره سرونه ورښکاره کړه چې ښکته توره يو کنده وه نور څه نه ښکارېدل،خو دغه ټولې سيمې يو وحشت غوندې لاره،د انسانانو يو په بل باور ختمېده،تردې پورې چې کېداى شي د اتينا به په ماباور نه و،لومړى يې محمدين ګل ته وويل

-"ته لرې شه،"

چې هغه څوقدمه لرې لاړ،بيايې زه له لاسه ونيولم او سر يې ډېر په وېره ورښکته کړ.مونږ وروغوندې له قاضي نه راستانه شو خو پداسې حال کې چې تر ډېره پورې يو هم خبرې نشوې کولاى او يايې زړه نه غوښتې. ماښام نژدې وچې د ځواکمن بانډې ته راورسېدو. هغه له خپلو خونو څو قدمه لرې ولاړو،روغبړ يې وکړ،راسره ستون شو. راته وې ويل

-"ډانګترصېب مانه پرېښودى خودګنډېري پلار خپله راغلى و. ډېرټينګ شو ويل يې چې دوى به بېګاته زما مېلمانه وي". زړه مې وښويد چې په بلا واوښتو. اتينا ماته وکتل ماورته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"زمونږ سامانونه چرته دي" وې ويل

-"هغه يې هم يوړل"

دلته چې مې ورته وکتل سترگې يې دمارغونډې تېرې، تېرې راته ښکاره شوې. غلي،غلي يې راته ويل چې "زه هم ورسره شريك يم" زما رنگ والوت، زه پوهېدم چې هغوی زمونږ بايکونه دڅه دپاره وړل. دهمدې لپاره چې وې گوري . اوخپل شك په يقين بدل کړي. اوهغوبايکونوددوی شك په باوربدلولی شو،په هغو کې سټيلايټ ټلېفون، تمانچې،بې هوښه کوونکې سپری گانې،برچې (چړې) اودقضيې په هکله د اتينا څه نوټونه وو. اوداهريوځانله زمونږدمرگ لپاره پوره و. اتينا ماته وکتل چې زه يې عصباني وليدم وې وېل

-"خېردی کاکا ياستاسره شپه يادهغوی سره شپه. ټوله يوه سيمه ده،او تاسو ټول يوورونه يئ" هغه ووېل "راځئ چې زه درسره ملگری شم چې ومورسووم" بريالي ورته وويل

-"دغه مخامخ بانډه ده ستاتللو ته اړتيانشته، پخپله به ورشو"

محمدين گل وويل"زه دتبرگي مېلمستيا نه خورم، همدلته دځواکمن سره پاتې کېږم او سهار چربانگ مال(مهال) ځم."لاس يې راکړ اودهغه مارسترگي سره روان شو.مونږ هم ترې را وگرځېدو.اتينا ته مې وويل

- " تمانچې دې بايك کې دي......؟"

وې ويل "يوه مې په بډه ده او بله په بايك کې"

- اوچاړه . .؟

- "هغه مې هم په پنډۍ پورې په خپل ځای تړلې..."

- "اوکارتوس....؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "درې جاغوره زما سره دي، درې په بایك کې او نور زیاتیګړي کارتوس هم په بایك کې دي، خو ستاسو څنګه چل دی دواړه تمانچې درسره دي.؟"
- "نه زمونږ سره هم، یوه، یوه درې، درې جاغوره او یوه چاړه راسره ده اویوه، یوه تمانچه او نور کارتوس مو په بایك کې دي"
- "بیانومونږ هغوی ته بې وسلې ښکارو"
- "هو... چې سپری ګانې ونه پېژني"
- اتینا په فکرمندۍ وویل "وبه یې نه پېژني"
- "په څه ډاډه یې.؟"
- "پدې چې دهغوی دکور یوې ښځې ته چې په خوارځواکۍ اخته وه، او ماله راغلې وه دبسکټو او تودو کالیو سره مې دماشو یوه سپری هم ورکړه. کېدای شي هغوی پرې د هغې ګومان وکړي. خوکه وه یې پېژني نوڅه فکرکوئ چې لومړی به څه کوي...؟"
- "لومړی به تابې هوښه کوي"
- بریالي وخندل "او بیا به مونږ پسې راځي"
- اتینا وویل "څه فکر کوئ چې ددوی د کورښځې به هم ددوی له جرمونو خبرې وي"
- بریالي ورته وویل "هو! خبرې نه چې پکې شریکې دي"
- ماورته وویل "مالومه خبره ده چې له جرمونو یې خبرېږي اوکه دهغوی ورسره هم لاره نه وای نوخامخایې هڅه کوله چې له دغې لارې یې راوګرځوي اود کوم کور ښځې چې وغواړي کور په سمه لارروان کړي روانولی یې شي. داهسې خبره ده چې د افغانستان ټولنه نرپاله یاسړی پاله ټولنه ده ، له حضرت ادمه تردې دمه نړۍ د ښځې په فکرونو پسې ځغلي"
- "اتینا وویل دانوبیا یوه بله لویه خطرناکه خبره ده"


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ورته ومې ويل

-" خطرقدم په قدم شته خومونږ بايد پوه شو چې که ځان خلاصوو د خوشحال ختټگ په شعربه عمل کووچې (که فلك دې د زمري په خوله کې ورکا + دزمري په خوله کې مه پرېږده همت )"

-اتينا وويل

- "سمه ده! زه به دننه ددوی په کورکې يم ځکه چې په نورو کورونو کې هم زه له تاسوجلاوم،دوی به ماته ديوکمزوري بنيادم په سترگه گوري، لومړی به له تاسونه ځان خلاصوي او بيابه زما واروي . زه به دننه حالات څارم، که پوه شوم چې په تاسودحملې وخت رارسېدلی زه به په هرډول چې وي تاسوته ځان در رسوم،خو تاسو به لږ ترلږه شل دقيقې ځانونه مرگ ته نه ورکوئ "

-ماورته وويل

-"کېدای شي دحملی وخت دوی دشپې دلسوبجونه وروسته وټاکي"

-اتينا وويل

- "هو...ځکه چې يود کلي خلك ويده شي. مادلته وليدل چې داخلك ډېر وختي ويده کېږي...."

-"...او بل يې د کور ماشومان ويده شي"بيايې لږ فکر وکړ وې ويل "اوچې ببخي ورنشو نو څه" برپالي وويل چرته به لاړشو.

"بس همداسې به دشنگس په لار بېرته وخوځو"

ماورته وويل

"دوی زمونږ سامانونه وړي دي،هغه به يې کتلي وي . که مونږ اوس ځو هم، دوی مو روغ نه پرېږدي" اوکېدای شي لا دغسې نورو ته زمونږ دسامانونو په شودلو هغوی هم له ځان سره ملگري کړي .اوبله داچې غر دی مونږ پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناآشنا يو او دوى ته سم مالوم دى .کېداى شي ډېر له لرې مو وولي .
دومره له لرې چې زمونږ دتمانچو مرمۍ ورونه رسېږي . دتېښتې لارنشته
خو ځانونه تکړه کړئ .
مونږ لادغه خبرې کولې چې وموکتل دتبرگي دوى کورته رسېدلي و.اولنډ،
پنډتبرگى مو لکه يږ(مېلو) مخې ته ولاړو. په شيطان وزمه خندا کې يې
پټ،پټ دا احساس راکوو چې" تبرگى مې درته تېره کړى"
- وې خندل
- "ډانگټرصيب ډېر ورو،ورو په خوند،خوند راروان يئ، له ډېروختي نه
ستاسو ننداره ته ولاړووم"
- ورته ومې ويل
-"خوراغلي دې له يو چې ستاسودسيمې دهوا اوښکلانه خوند واخلو"
-وې ويل
-"زمونږ سيمه ډېره ښکلې ده، خو په ځينوخلکوښه ونه لگېږي"
-"هغه خلك له مونږ سره توپيرلري،مونږپوهېدوچې ښه راباندې لگېږي ځکه
خوراغلي يو"
بيا يې په ترخه خندا وويل
-"ښه! پخير راغلئ" اتيناته يې نغوته وکړه "خورې ! کورخونه لرو، بانډه
ده، خوته د خونې مخې ته لاړه شه"بيايې د ټوکې په دود خوله چوله کړه
-"نه پوهېږو په ښځودې څه جادوکړى له سهاره يې همدا ويل چې ډانگټره
مېلمنه کړئ"
دتبرگي دوى بانډه دځواکمن له بانډې نه ښه وه. يوه ښېگڼه يې داوه چې
دادغره دډډې پرځاى ديوې لويې غونډۍ په سر جوړه وه چې هر اړخ ته يې
خلاصه مخه لرله شاته يې وچ خوړى و او په وچ خوړي پسې غر، چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوايې هم غره ته دومره نژدې نه وه چې سرۍ تنګ کړي او نورې درې خواوې خويې پراخې درې ته خلاصې وې .بله داچې پدې کې ديوې کوټې پرځای څنګ په څنګ له ګټوجوړې دوه خونې وې ددوارو په سرونو واښه اودونو ځانګې اچول شوې وې .دخونو شا د غره لورته وه مخې ته يې لوی ميدان و،دخونو کېڼ لورته دبزودپاره شپول جوړ شوی و. اوښي اړخ ته يې اواره دېوسه(صفه)وه دخونې دېوال ته مخامخ څوګزه لرې يو لرګی درول شوی و،دلرګي په سر بل لرګی داسې ټينګ شوی و چې يو سر يې په ولاړ لرګي او بل سر يې دخونې په دېوال پروت و. څوخيرنې،خيرنې ټوټې پرې دپردې په موخه اچول شوې وې،چې کور او "مېلمستون"سره جلا کړي. په دېوسه باندې يو ټغر اوپه ټغر دپاسه څلور لېمڅي يو بل ته مخامخ پراته و . مونږ په همدغو لېمڅو کښېناستو،بالښتونه موشاته راغلل تبرګی هم کښېناست.بيا سپك پاڅېد وې ويل

-"ډاګټر صيب!کېنئ ستړي يئ،زه به درته چای رادم کړم"چې وموکتل دماښام تياره په خورېدو وه ورته ومووېل

- "دچای وخت نه دی،لمونځونه به کوو"

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دولسم څپرکی:**


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبرګی اومېلمستيايې

اسمان ځای،ځای وریځ و . دڅوارلسمې سپوږمۍ ورو، ورو راروانه وه زمونږ تر سرونو چې راورسېده ودرېده دغلته دسپوږمۍ دمخ پټولو لپاره وريځې هم نه وې ، چې رانه پټه يې کړي او دسپوږمۍ دپټېدو سره ددوی بدرنګه سترګې هم راته سپينې،سپينې ونه بريښي شپه داسې روښانه وه چې دلالټين رڼا ته راتلونکی یو،یو پتنګ مې په هوا ليده،دهمدې پتنګانو له امله به وو چې څراغ زمونږ مخې ته نه وېروت، زمونږ تر څنګه دخونې دګټو،خټو جوړ دېوال کې يوه ښخ شوي موګي ته ځړېده . برګوټ ته زه ناست وم خوهغه برګوټ ته نه چې شامې د خونې دېوال ته راشي پاس سرته پراته لمڅي ته ګنډېرې ناست و.زما کينې لاس ته بريالی په هغه پسې د ګنډېري پلار تبرګی ،ماته مخامخ دتبرګي زوم شادل او ورپسې دګنډېري کشری ورور سرکښ ناست و.ګنډېری دېښتنو په حساب له ټولو نه په معتبر ځای کی ناست و.ځکه چې شاېې دخونې دېوال ته وه.
اودسږي پرې شك راته چې ګوندې له پلاره مشردی . مونږ سره نږدې ناست وو . خو ډېرې کمې خبرې کېدې .اودکمو خبروډېرې يې هم ګنډېري او شادل کولې تبرګی غلی و، دګنډېری له څو خبرو اودتبرګي له بې نيازې خاموشۍ نه پوه شوم چې زمونږ اټکل او فکر سم نه و.مونږ فکرکوو چې ګنډېری دجرمونو جرړه ده.خو ګنډېری يو اځې مغرور بداخلاقه او د پلار نافرمانه و. داسې نافرمانه ،نه چې دپلارسره دې په جرمونوکې ورګډنشي بلکې يو ډول بې ځايه مغرور و . جرمونه يې پلار کول اوده ګڼله چې که دی ورسره نه وي پلار يې هيڅ نشي کولای.خو حقيقت دغسې نه و. ددوی سرکار او سرلاری دده پلار تبرګی و. خو ښايي دپلار يې دده سره مينه وه .دایې نه خپه کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



.او یاځینې پلاران دخپلې ډېرې مینې له امله بچو ته دهغوی دروغجن حیثیت ورکوي،اودغه دروغجن حیثیت اواحساس دهغوی دژوند دبربادۍ لامل ګرځي، هغوی غرور او له خپل حیثیت نه لوړ فکر کوي،او دګنډېري سره هم لکه چې همدغه کانه شوې وه.د مجرمانو بچي هسې هم د مشرانو ډېر درناوی نه کوي. ځکه چې مجرم داخلاقونه لرې وي او دمشرانو درناوی د اخلاقو برخه ده. ځوك چې اخلاق نه مني اونه یې پېژني د اخلاقو یوه برخه به څنګه په ځان ومني.ددې بد اخلاقۍ اروایي دلیل داوي چې مجرم ځان له ولس او ټولنې نه برګڼي او فکر کوي چې بچي یې هم له هر چابر اوبر لاسي دي او نه غواړي دغه بر اوبر لاسي بچي یې د چا درناوی، عزت او احترام وکړي.

هغوی زمونږ خبرې ډېرې په غور اورېدې اومونږ ته بیا دهغوی هره خبره یوشیفرښکارېده،شادل سپوږمۍ ته وکتل وې ویل

-"نن داسپوږمۍ ډېره روښانه ده"

-ګنډېري ورته وویل

-"ځینې،ځینې شپه داسې وي، چې کله "ښه" مېلمانه ولروسپوږمۍ هم ورته لکه چې خوشحاله وي ډېره ښه رڼا کوي"

شادل ماته وویل

-"ډاګټرصیب څومیاشتې مخکې موهم ستاسوغوندې درانه مېلمانه لرل، هغه هم دهمدې غوندې روښانه شپه وه،اوهغوی هم ستاغوندې سپوږمۍ ته مخامخ ناست وو.اوس چې مې ستاتندي ته وکتل هغه مېلمانه رایادشول، همدغسې یې د سپوږمۍرڼاپه پراخ تندي لګېده. له تندي مې وپېژنده چې سړی بختور دی اورښتیا هم دهغه له راتګه وروسته موپه کوربرکتونه ورېدلي"ماورته وخندل "زه به خدای خبر که تاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختورشم،چارانه كله داسې ډېرخيرنه دى وړى، خوچې ستاپه څټ د سپوږمۍ رڼااحساسوم فكر كوم چې ستادتېرو مېلمنو په څېر به زه تاله نه،ته ماله بختورشې" وې خندل "له مونږ نه هم خيروړل دكونړ له سينده دمړي گټل دي"

بريالي ترې پوښتنه وكړه "بياهغه مېلمانه څه شول، سركښ ځواب وركړ،"بس لاړل،تاسو چې چرته ځئ هغوى هم هلته لړل"

بريالي وويل "مونږ خو لاچرته نه ځو،ناست يو"

هغه په خنداوويل "هغوى هم همدغسې ناست وو بيا لاړل"

پلارېې خبره سمه كړه"هو، مېلمه څه كوي خوخپل نصيب وړي اوځي" ددې خبرو له اورېدونه زه پوه شوم چې دوى ته له پروگرام نه مخكې زمونږ خبرېدل اونه خبريدل څه ارزښت نه لري، كه دادجرمونو پاخه لوبغاړي نه واى اوعام خلك واى پكاروه چې دهغوى سره ددې وېره واى چې كه مونږ خبرشو بيا به ورسره چرته لاړنشواوياداالاماسختن دى په گرانه به نهه بجې وې،د خوا اوشاله رڼاگانو مالومېده چې ډېرې باندې شته او بياد ځواكمن باندو خو دومره لرې نه وه . او كه مونږ پدغه وخت خبرېداى نو پكاروه دهغوى سره داوېره واى چې هسې نه، مونږله خبرېدوسره شور جوړكړو، په شور گاونډى باندې خبرې شي اودهغوى پلان به شنډ شي.

دهغوى سره داوېره نه وه، ښايي دليل يې داو چې هغوى څلوركسه وو،اومونږدوه كسه ،هغوى دغرونوخلك وو،اودغرونوخلك په لويه كې ځان دښارله اوسېدونكوقوى اوتكړه گڼي او بله خبره داهم وه چې هغوى به خامخا زمونږ بايكونه كتلي وو او په هغوكې دتمانچوشتون به دوى ډاډه كړي ووچې مونږ بې وسلې يو،اوكه وسله راسره هم وي نومونږ سره ډېرخوله په خوله ناست وو،هغوى ښايي فكركوو چې كه دوى شورجوړول

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي هم نومونږ کولی شوډېر په اسانۍ یې شکته وچ خوړي ته وغورځوو، چې څوګزه ژور ګړنګ دی اوله دې چې وغورزېږي روغ نشي پاتې کېدای.زما سره یو بل خپګان هم ملګری و.اسلم خان کاکا راته ویلي وو چې مونږ دځواکمن باندې ته لېږي او تبرګی دوی دده باندې ته څېرمه دبل چاباندې ته تللي،دځواکمن سره هم پېژني خو دومره ډېرسره جوړ نه دي،خو ریښتیا دغسې نه وو. دوی دځواکمن باندې ته راغلي وو.اوهغه یې دومره درناوی کړی و چې ښه بانده یې دوی ته پریښې وه او خپله په وړه او تنګه کې اوسېده.ما ته دا وېره هم رالوېدلې وه چې کېدای شي داسلم خان هم ورسره خبره یوه وي او محمدین ګل یې دهمدې دپاره زمونږ سره رالېږلی وي چې دلته دوی ته زمونږ دپلان او ارادو په هکله ملومات ورکړي اوزمونږ په "خوندي کولو"کې ورسره مرسته وکړي.دا شك مې دمحمدین ګل نه راتګ او په چربانګ مهال دتګ خبرې لاپسې پخاوه.ماله دې فکروروسته په دوی ځلورواړونظرتېرکړ،او پوهېدم چې په یواځې ځان ددوی چاره کولی شم،زه اواتینا دواړه دمارشل ارټ کلبونو ته تللي وو،ځلورملاوستوني (کمربندونه) مواخیستي و،اواوس ددې وړ وو چې په څوثانیوکې ددوی دیو،یوورمېړونه ورمات کړو، زماسره غم دبریالي و، ځکه چې دوی زمادمارشل ارټ نه نه ووخبر،زمونږ دوژلوستراتیژي به دوی خامخاپه مساوي ډول جوړه کړې وه یانې دوه به زمادپاره ټاکل شوي وو اودوه دبریالي دپاره،زماوېره دتبرګي هغه دلنډي لاستي تك سپین تبرګی و چې دبزې دښکرو غوندې ښکرونه یې لرل مونږ ته په سمه لام کې ویل شوي وو چې تبرګي له وړوکوالي نه دځان سره تبرګی ګرځوو.نورو خلکو بزې په چاړه حلالولې خوتبرګي راڅملولې او خپل تېره تبرګی یې پرې راښکه،او بزه یې حلالوله.بیایې یوه ورځ دخپل ملګري بزې ته په څه غوسه راغله،دتبرګي ګوزار یې پرې وکړ،تبرګی د بزې


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورمېږ داسې ولګېد چې سریې ترې لرې وغورځاوه. دی ورته له لرې په خنداشو او الله اکبر یې پرې وواېه .

له ملګري نه یې پلار پوښتنه وکړه چې بزه چامړه کړه هغه ورته وویل "تبرګي"بس له دغې ورځې په تبرګي مشهورشو.

تبرګی ورو،وروڅولاسه مخکې لاړ او چې کله به یې کومه بزه حلالوله نو مخکې به یې ځو ځایه په تبرګي ووهله او بیابه یې ورله په ورمېږ دتبرګي ګوزار وکړ. ده به ویل

-"لومړی یې لږه کمزورې کوم ځوك یې دومره پښې تړي،بس ښه دغه ده چې له حلالولو مخکې یې له پاڅېدو او زور وهلو وباسې" تبرګي د انسانانو د وژنې پیل له خپل پلار نه وکړ،پلار یې دویم واده کړی و،دی دپلار دواده په ورځ کورته راغی، مور یې په ژړا ولیده، خپل کشری ورور یې له ځان سره ملګری کړ، پلارېې د خلکو له ګڼې، ګونې رابېل کړ اوپه ور مېږ یې په تبرګي وواهه، له دې وروسته تبرګی یو لوی قاتل جوړشو،ورور به یې هم ورسره و. او چې هر ځوك به یې واژه، ده به ورته تبرګی اوچت کړ، بیا به یې کشري ورور ته وکتل هغه به ورته وویل

- " لالا وهه یې، له دادا نه به ښه نه وي" دغسې دوی د جرمونو پاخه لوبغاړي شول خو څه وخت مخکې یې ورور کوم دښمن وواژه او ده خپل زامن او زوم د ځان سره ملګري کړل .دی لنډ،پنډسړی و،غټې،غټې شونډې یې بهر ته دومره را ځوړندې وې چې په زنه پرتې ښکارېدې .اودپچو غونډې سترګې یې رڼې، رڼې اړولې، دږیرې ویښته یې پېړ، پېړ اوشخ، شخ ولاړوو.ما چې هرځل لیده د کابل دژوبڼ تور یږ یې رایاداو ه.

اوس یې هم تبرګی تر څنګ پروت و، ماغوښتل بریالی پدې وپوهوم چې له تبرګي ځان وساتي، که د تبرګي لومړی ګوزار زمادپاره ټاکل شوی وي خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بياډېره ښه خبره وه ځکه چې ماپه اسانۍ کولی شوددويم او دريم کس له گوزاره ځان وساتم خوکه لومړی گوزار دبريالي دپاره و،نوهغه مارشل ارټ نه وکړی او ورته گرانه وه چې ځان ترې وساتي. ماغوښتل بريالي ته ووايم چې دتبرگي له گوزاره ځان ساته او هڅه وکړه چې زما لخوانه دې لرې نه کړي. نو تبرگی چې دتبرگي ښي لاس ته پروت و، وروغوندې مې ورته وکتل او په موسکامې وويل

- "کاکا! ډېر خطرناك تبرگی دې پيداکړی دی"

هغه تبرگي ته وکتل وې ويل

-"خطرناك نه دی خوزمونږ دژوند ضرورت دی" مابريالي ته مخ واړوو، ورته ومې ويل

- "برياليه! له دې تبرگو ځان ساته"

هغه وخندل وې ويل

-"خدای مودې ترې وساتي، زه به ترې څنگه ځان وساتم، ددې تبرگی گوزارخومخامخ نه کېږي" ماورته وخندل

-"برياليه! چې زما سره څنگ کې يې هيڅ غم مه کوه" هغه وويل

-"زه به نه ځم خو چې څوك مې ستاله خوانه جلانه کړي"ماورته وويل

-"مونږ خو په ښارکې اوسېدلي يو ته خو اوس په غره کې پروت يې ، پرې کړې پرېکړه کوه، چې څوك دې له ملگري جلاکوي همغلته يې ختمه کړه"هغه په مطلب ورسېد وې ويل

-"دکاکا تبرگی زمونږ د ساتنې لپاره بس دی"هغه په خنداووېل

-"دادی هم ستاسو دپاره"اوله دې وروسته يې خپل کشري ځوی ته مخ واړو وې ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- " ته ورشه هلکه ډوډۍ څنګه شوه، داخلك به ورِي وي" هغه کورته ننووت دغره له ډډي نه څه کرپا راتله ، دوی ورته ټول غوږ شول ، بيا زر ،تبرګی پاڅېد ، شکته يې وکتل ، ګنډېري ترې پوښتنه وکړه .

-"څوك دي"

-"نه پوهېږم"

دوی هم ورپاڅېدل مابرياالي ته اشاره وکړه چې دايې وخت دی . مونږ چټك راپاڅېدو. خو دوی له نظر لاندې ساتلو ګنډېري او شادل په تېزۍ مخونه راواړول او تبرګي وويل

کريم خان دی ، بيايې ورغږ کړ . راځه .پخير راغلې.هغه راغی وې ويل

-"اورېدلي مې دي دلته ډاکټران راغلي. زما يو ماشوم ناروغ دی" ماورته وويل

"مونږ خو سهار ځو" وې ويل

" سهاربه يې وختي راوړم. له مانځه نه مخکې خوبه نه ځۍ " تبرګې ورته وويل

"دوی به ځانونه رسوي نوخامخا دمانځه نه مخکې به روانېږي " هغه مړاوی غوندی بېرته روان شو . دوی ورته د چای،ډوډۍ ست هم ونه کړ. پوهېدم چې نه غواړي خپل پلان خراب کړي. خو دمانځه نه مخکې د تلو خبرې يې ټکان راکړ. ددې وينا مطلب يې دا وچې له شپې به روغ نه ووځي.چې هغه لاړ.سرکښ هم د يولوی دسترخوان سره راووت ، هغه يې کېښود، لوټه يې راواخيسته وې ويل

-"راځۍ لاسونه ووينځۍ" شادل ورته وويل

-"دلاسونو اوبه به زه واچووم ته کاسې، ماسې راوړه"

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلاريې هم پسې ورغی،څه شېبه وروسته چې مې کتل په دوه کاسو کې لږه،لږه غوندې سپينه شوروا وه او دوه غوري(مجمې)له غوښوډکې وې. پوه شوم چې له سيرلي يې سر پرې کړی دی. گنډېري ته مې وويل
-"ډېر تاوان موکړی دی"وې خندل
-"غم مه کوه گټه په تاوان کېږي"
له دې سره شادل هم چې زما او گنډېري سره يوې کاسې ته ناست و، وخندل،گنډېري هغه په ښکاره ټوکه کوله خوشادل ته يې اوروله چې زه رښتياوايم ، ما اوريدلي وو چې مجرمان له دغه ډول خبرونه خوند اخلي، بياد جرم له تر سره کولو وروسته هم دغه خبرې خپلو کې په بيا،بيا رايادوي، او ډېر وختونه د کوم وژل شوي کس خبره دومره ډېره يادوي چې "تکيه کلام" يې وگرځي، په بيا، بيا يې رايادوي اوخوند ترې اخلي.
کوم مجرم چې دغه ډول خوی ولري، هغوی بيا له جرم کولو پرته ارام خوب نه کوي، او هغه وخت ارام کوي چې جرم تر سره کړي،که دوی په وژنو روږدي وي نوددې لپاره چې له خپل جرم نه په ښه ډول خوندواخلي د ساه وتلو په وخت د وژل شوي کس  خراراو يانور حرکتونه  ډېر په ځير څاري.
لکه څنگه چې د کابل دجنگونو په مهال دملېشو غړو د "رقص مرده او رقص بسمل"اصطلاحگانې راوويستې،دبل توکم خلك به يې په لارو،کوڅوکې ونيول، لغړ به يې کړه بيابه يې ورته چوکۍ اچولې وې د يو کنسرټ په ډول به دننداري په هيله ناست وو خلك به يې مخې ته ودرول شول، بيابه ترې په يو وار سرونه په توره ووهل شو، هغوی به د څو ثانيو دپاره له سرونو پرته تاوېدل، راتاوېدل ،خپلو پرې شوو مريو ته به يې لاسونه اچول، بيا به په ځمکه وغورځيدل او ترهغه وخته به تاوېدل چې ساه به ترې ووته .
اودوی به دهغو له دغو حرکتونو نه خوند اخيست.K.G.Bخپل غړي همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول روزل چې د نورو له مرګونو خوند واخلي،دپخواني شوروي اتحاد د Close party په نامه روزنیز مرکز کې دروزلو لارداوه چې لومړی به یې پرې دوړو، مرغیو ورمېږونه ماتول هغوی به یې ترهغه بریده ورسول چې د مرغیودورمېږونو د ماتولو نه خوند واخلي. له هغې وروسته به یې بیا پرې د لړو غټو ځناورو لکه پیشو او سپي ورمېږونه تاوول اوماتول او په دغه ډول به د سیاسي بندیانو ورمېږونوته ورسېدل او داسې به روږدي شول چې بیابه یې د انسانانو له مرګ او ورمېږ ماتولونه خوند اخیسته،اوس،اوس د استرالیایو تلوېزون دکندهار په یوه کلي کې امریکایي سرتېري پداسې حال کې ښکاره کړیدي چې دهغوی په وینا ددوه طالبانو مړي سوزوي. اوعلت یې داښیي چې له مړو نه په سیمه کې ناروغۍ خورې نشي.همدغسې ځینې دملي اردو تنکي ځوانان وژني ،که په سپینو جامو کې یې ځوك ولید دموسیسې دکارکوونکي تر نامه لاندې تري خرپ وباسي.

داټول کارونه دهمدغه ډول لېونو مجرمانو دي که په سمه لام کې وي که د" KGB"غړی وي او که دپرمختللې امریکې د فوځي ځواکونو سر تېری وي او که زمونږ خپل ورور یا بړېڅی وي، ټول یو ډول مجرمان دي،یو ډول لېوني دي او باید له یو ډول برخلیك سره مخامخ شي.ماددوی دمجرم کېدو په ډول غور کوو او پدې فکر کې هم وم چې زمونږ اوددوی د لاس لګولو ښه ځای به کوم وي، چې ګنډېري راته په خنداوویل

-"ډاکټر صیب ځان ښه موړ که ، دنیا هسې هم پاتې ده"

زه دکوم ځواب ورکولو په حالت کې نه وم ورته ومې ویل

-"مننه لګیا یم"بیا یې شادل ته وویل

-"ته خو ځان ښه موړکړه ،چې بیا راته د شپې وږی نشې"

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې نه مې داسې وانګېرله چې دوی مونږ کوم لرې ځای ته بیول غواړي. زما له نژدې نه لرې تلل خوښ وو ځکه چې مافکر کوو اتینا ته به له کورنه دځان راخلاصولو دپاره مناسب وخت په لاس ورشي خو ستونزه راته دابرېښېده چې اتینا به څنګه هغه ځای مالوم کړي، بیا مې له ځان سره پرېکړه وکړه چې که دوی مونږ هر ځای ته بیول غواړي ورسره ځوخوهله چې ځای ترې مالوم کړو او بیا ترې اتینا هم خبره کړو، او که دوی راوښودیوځای اوبل ځای ته یې بیولونوهڅه به کوو چې ټاکلي ځای ته د اتینالپاره ځان ورسوو. څه کم لس بجې به وې چې مونږ دډوډۍ دسترخوان ټول کړی ،چای موپسې څښلی وو ، اوزه په ذهني ډول دوه کارونو ته تیاروم، لومړی تګ ته ، هر چرته چې دوی غواړي، دهمغه ځای تګ ته، خو پدې شرط چې ځاې راته مالوم شي اوزه یې اتینا ته هم ووایم. په تګ کې مې بیا له ځان سره دا پټیلې وه چې بریالی به له مامخکې وي ځکه چې زه له تبرګي ډېروېرېدم، او ماغوښتل چې بریالی که په هر ډول وي داسې لاړشي چې دتبرګوزارپرې لرترلره څوثانیې وخت ونیسي، ځکه چې په څو ثانیو کې د چټك غبرګون په ښودلو سره ماکولی شول چې هغه د تبرله ګوزاره بچ کړم اوتبرله تبرګي نه واخلم. خوکه زما دغه شرطونه نه پوره کېدل نو بیا مې له ځان سره پرېکړه کړې وه چې له لسو دقیقو نه اوږدمزل به نه کوم اوپه لسودقیقوکې دننه به مونږ حمله کوو. ځکه چې که مونږ دغسی نه وای کړي ماباوردرلودچې اتینا دمارشل ارټ نه په کاراخستلوکولی شي ځان له دغه کوره په هرډول چې وي ځان راوباسي خو چې زمونږ دلارې مالومات ورته نه وي لاربه ترې ورکه شي.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکه داسې حالت راځي چې مونږ له منځه ځونو اتينا هم ځان نشي ساتلای ځکه چې هغه به په همدې تمه وي چې مونږ لابهر ناست يو. زه لاپدې فکر کې ووم چې تبرگي  وويل

-" ډانگتر صيب دشنوگټودقاضي نوم دې اورېدلی "ماورته وويل

-"يره! دانوم يې راباندې اشنا غوندې لگېږي" وې ويل

-"لکه چې ته يې پېژنې ماورته وويل "نه! نه يې پيژنم"

وې خندل

-"څه فکرکوې چې څنگه سړی به وي"ماورته په خنداوويل

-"له دې نوم يې داسې انگېرم چې دزاړه عمربه وي، دبريليانوغوندې شنې جامې او شنه پکړۍ به يې په سروي، او دخلکو دمرگونو پرېکړې به کوي"وې ويل

-"دمرگونو څنگه؟"

ماويل"خوقاضي دی کنه"وې خندل

-"ډېرهوښيارسړی يې رښتياهم همدغسی دی،خوڅه وکړو زما د سپينې سينې ياردی اوخوارته اوس يو تکليف پېداشوی، پښې يې بېخي شلې شوي له ځای نه خوځېدای نشي، اوستاسو په شان پوه ډانگتران خوهله دلته راپېښيږي چې زمونږ قسمت ښه سم راويښ شي، نو که لږورشو او تاسو يې ووينئ اولږ دارو،درمل  موورته وليکل نودخدای سره ښه دي"ماورته وويل

-"خوزه دشلو،شوټو په دارو سم نه پوهېږم،مېرمن مې ښه پوهېږي ، هغه به هم د ځان سره بوځو"وې ويل

-"ډانگترگله! ملك دپښتودی دشپې ښځې دځان سره نشو گرځولی" ماورته وويل


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"پدې کې دپښتوڅه خبره ده، زه يې مېږه يم زه ورسره يم او بيا د ثواب کاردی"وې ويل

-"که په ښه کېدوکې يې نصيب وي ستالاس به ورته داروشي اوکه نصيب يې نه وي نو( په خنداشو)بلامې توره وريسې"

-ماويل

-" سمه ده کاکا! خو دامېرمن مې لږه راوغواړه چې زه ورته ووايم چې مونږ چرته ځو،زربېرته راځو"وې ويل

- "بېخي مې خوښه ده، ننووت،ددروازې ترڅنګ يې دکورڅوك وليدل ورته وې ويل

-"دډانګترصيب ښځې ته ووايه چې دروازې ته راشه ډانګترصيب درسره څوخبرې لري"

اوبېرته راووت. زه له خپل ځای نه راپاڅېدم، لږه شېبه ددروازې مخې ته تم شوم چې اتينا ور پرانيست. دوی غوږونه لك،څك کړل چې څه وايي، هسې هم دوی راته دومره نژدې وو چې ډېره په وروخبره يې هم په اسانۍاورېدای شوه،اتيناته مې وويل .

-"مونږ ورځو د شنو ګتيوقاضي ته"

-"دشنوګتيوقاضي څوك دی....؟"

-"دلته نژدې کوم ځای دی".

تبرګي غږکړ

-"ځای نه دی سړی دی،اوپه پښوشل دی، ماويل که ډانګترصيب يې لږماينه کړي"

اتيناوويل

- "داخوډېره ښه خبره ده"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماويل

- "قيدشوې خوبه نه يې....؟"

-" نه ډيره خوشحاله يم، ډېرې خوږې مېرمنې دي(وې خندل)يوې خودخوروالی لاس راکړ"

ماويل

" ڤومره ښه،ځه چې ته خوشحاله يې مونږ هم خوشحاله يو".

-" لږ،لږ ماشي دي، خودماشو سپری گانې راسره دی،په ټولوکوټوکې به يې وشيندو، تاسوبې غمه لاړشئ ."

دروازه يې بنده کړه.هغه ستنه شوه اوتبرگی،گنډېری،سرکښ،شادل او بريالی يوځای راپاڅېدل.

## ديارلسم څپرکی:

### دمـرگ سـيوری

رحمان باباويلي:زه عاشق يم سروکارمې دی له عشقه +نه خليل نه داودزی يم نه مومند. داځکه چې رحمان باباپه ټولنه کې دخپل شخصيت په ستروالي اوپه ځای اومقام پوهېده اوپدې هم پوهېده چې سترخلك له قومي محدودونه پراخ او لوړوي.

 www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خومجرم خدای وهلی له قوم، نژاد،مذهب،کلتور او اخلاقونه ټيټ دی، دی دژوندبله هيڅ لاره اوارزښت نه لري،بس دخپل هدف سره يې کار دی، څې ڨنگه به خپل جرم تر سره کړي. زه پوهېدم چې که تبرگی له مونږ نه مخکی کېږي نو بياتبرگی ولې په لاس کې نيسي، تبردلرگودپاره جوړدی، يالرگي پراته وي چې پرې وهل کېږي او ياپرې د ونو"پښې پرې کېږي. او ياترې ورو،وروڨانگونه (ڨانگې) راکمېږي، خو تبرگی کله هم دټنډې دپاره نه دی جوړ، نه دانسان اونه دونې، کوم مجرم چې تبرگی گرځوي مانايې داده چې دی بې غېرته له شانه دگوزارکولو دووس خوی لري. مونږ چې روان شو،ما غوښتل زه تبرگی مالوم کړم چې دپښتنو رواجونواولارو ته په کوم نظر گوري، نو ورته ومې ويل

-"کاکا!تاسومخکې شئ"وې ويل

-"نه! ډانگټرصيب ! تاسو پوه خلك ياستئ، له تاسو کله مخکې کېدای شم" ورته ومې ويل

-"خبره دپوهې نه ده دمشري ده او ته مشريې، ړيره دې سپينه ده"

-وې ويل "مشري مې خپل کشري ځوی له ورکړه، هغه به مخکې ځي لاربه راښيي" ماويل "کاکا،ملك دپښتودی، پښتانه يو، زه له تانه کله مخکی تللی شم" په کلکه يې وويل "ډانگتره ځه! په سمه لام کې پښتومه غواړه ،او په لگړۍ کې سېنما"

کشری ځوی يې مخکې شو،شادل بريالي ته وويل

-"وروره ځه"بله لاره نه وه ماهم بريالي ته وويل

-"بريالی جانه ! ورځه پسې"بريالی ورپسې شو، بياپسې په خپل سرشادل روان شوپه شادل پسې گنډېری او ورپسې زه شوم او تبرگی په ڨټ راپسې روان شو.زه پوهېدم چې ددوی دفکرپه هکله زما اندازه غلطه وه،

 www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماويل دوی به فکر کوي چې بريالی بايد لومړی شي خو دغسې نه وه،
تبرگي ځان،ماته راوهلی و، اوهمدې خبرې ماله ډاډ راکاوه، ځکه چې که
تبرگی په بريالي پسې روان وای مانشو کولی په شپه کې يې په نيت هم
پوه شم او بيا دڅومترو له واټن دومره تېز عمل وکړم چې بريالی له
گوزارنه وساتم. ځکه چې دتبرگي گوزار په دوه ثانيو کې هم کېدای شي
.خو اوس يې دپلان په هکله داسې انگېرله چې تبرگی به لومړی په
مادتبرگي گوزارکوي. دوارسره به يوچيغه کوي، پدې به گنډېری چې زمانه
مخکې روان و راگرځي له ده سره به مرسته کوي، شادل به په بريالي بريد
کوي او سرکښ به ورسره مرسته کوي.

مونږ چې نژدې لس ملټه (منټه) په غره کې مخ پورته مزل وکړ،يوه
انديښنه راولېده چې دشنو گټيو قاضي ته چې مونږ په کومه لاره ورغلي وو.
له هغې لارې يې چپه کړه. همدغه لار وه چې اتينا ته معلومه وه.خو بيامې
فکر شو چې هغه لاره ديوې بانډې له څنگه تېرېده او دوی اوس اوږده،خو
پاکه لار غوره کړه. نوره وېره راسره نه وه، پوهېدم چې دوی زمونږ مړي
نشي پټولی، اومونږ به يادشنوگټيوقاضي ته بيايي او يابه مولږ ترلږه له
يوه ساعت نه په اوږده مزل له بانډو نه لرې باسي. خو بيامې هم له
احتياطه کاراخيست اوهڅه مې کوله چې له تبرگي نه لږ،ترلږه درې گزه
فاصله ولرم. ځکه چې درې گزه فاصله هغه په منډه هم په گرانه په دوه
ثانيو کې وهلی شوه او هغه چې له دوه ثانيو وروسته ماته رارسېدلی
نوماکولی شوچې هغه له گوزارکولونه مخکې يې سينه او يامخ په لته ووهم
او داسې ځای ته يې گوزارکړم چې ترڅواوچتېږي اوبيا ځان ترمارارسوي
يوخوترې تبرگی ورك وي او بل به يې ماته دومره وخت راکړی وي چې
مابه دگنډېري او شادل چاره هم کړې وي. دده دالیونتوب مابېخي په خپله


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گټه گانه چې دی که مري هم خو لومړی گوزار په تبرگي کوي.دگنډېري او شادل په هکله مې له اوله دا پرېکړه کړې وه چې زه به هڅه کوم چې دتبرگي له وهلو وروسته گنډېری پرېږدم او په شادل پسې ورشم. ځکه چې شادل هسې هم زمانه دلسوگزوپه اوږدو لرې و، اوکه ځان یې تر بریالي رسولای وای نو بیا دغه واټن لاپسې زیاتېده او که هغه لېدلی وای چې ما تبرگی اوگنډېری دواړه وهلي دی نو هغه به خامخا ډزکاوه، مرمۍ یې چلولې،تمانچه زما سره هم وه اود بریالي سره هم خو ددې هیڅ مالومات نه کېږي چې ماشې ته لومړی گوته دچا ور رسي. نو ماغوښتل دهغه مخه ونیسم ، زه پوهېدم چې دتبرگي له وهلو وروسته به گنډېری نژدې دیوې ثانیې پورې خپل پلارته گوري چې چرته غورزېږي او څنگه وغورزېد، بیا به یې وېره اخلي، دیوې ثانیې پورې به نه پوهېږي څه وکړي، ځکه چې هغوی ددې تصورنه کوي چې زمونږ غوندې ښاري خلك دې هم هغوی ووهي او بل هغوی مجرمان دي، دمجرم دوزخي زړه دچاپه ژر وژلو نه یخېږي، هغوی به خامخاداپلان جوړکړی وي چې مابه تبرگی دشالخوانه په سر دتبرگي په څټۍ وهي، زه به گنگس کېږم، تاوېږم راتاوېږم به بریالی به یې هم وهلی یانیولی وي . دوی به راته کنځل اوبدې خبرې کوي اومابه په دواړولاسوسرنیولی وي دوی له دغه حالت نه خونداخلي او بیا به رابانديې بل گوزارکوي .

زه پوهېدم چې ترټولوکمزوری پلان هغه وي چې دمقابل لوري دزور او ځواك داندازې کره اټکل پکې نه وي شوی. اوددوی په پلان کې همدغسې شوي وو، ځکه چې که دوی زمونږ له ځواك اوجنگي مهارت نه خبروای، دیو بل منځ کې به یې ددرې گزو واټن نه ساته. بلکې له لسو گزوبه زیات و. ترڅوهغوی ته زما له وررسېدو دمخه ماپه مرمۍ وولي ،هغوی دغسې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووکړي. او زه خوشحاله وم چې همدغه ناسم اټکل به ددوی دناکامۍ لامل وي. هغوی فکرکاوه چې له مونږ سره يوه تمانچه ده ، خو پدې هم ډاډه نه وو ځکه چې هغوی په بايکونو کې دوه تمانچې ليدلې وې اوکېدای شي فکر يې داو چې دغه دواړه زمونږ دي. او مونږ ددوی سره بې وسلې روان يوو. زه لاپه همدغو فکرونو کې وم چې دکلاشينکوف لټ ووهل شو او شادل په لوړ غږ وويل تمانچه راکړه.

دوی ناڅاپه له مونږ يوې او بلې خواشول، تبرگي، تبرپه لاس کې برابرکړ اوگنډېري ماته زماتمانچه ونيوله چې زمونږ له بايك نه يې راخيستې وه. بله تمانچه دشادل سره وه. دسرکښ سره کلاشينکوف وچې مونږ ته ښکاره و او داسې يې راښوده چې د ده کلاشنکوف زمونږ د ساتنې لپاره دی.تبرگي غږکړ"دچاسره تمانچه ده "شادل بريالي ته اشاره وکړه "دده سره ده اوس يې ورله کولنگ راواړوو"ماغوښتل هغوی له احساس ورکړم چې مونږ لا اوس هم په تاسو باورلرو نوبريالي ته مې وويل "بريااليه! داددوی سيمه ده؟، مونږددوی مېلمانه يوو؟،زمونږ ساتنه ددوی دنده ده ، نو ته تمانچه څه کوې ور يې کړه" دهغوی له باوره مو دوه گټې کولې يوه داچې خپله تمانچه مې دځان سره ساتله او بل داچې ډېری مجرمان پداسې وختونو کې چې ځوك يې مرگ ته روان کړی وي او پوه شي چې دی هم پوهېږي چې وژنوېې اوڅه يې دلاسه نه دي پوره نو ډېرې بدې خبرې ورته کوي .کنځې يې،رټي يې، وهي يې، اومالږ ترلږه دبريالي په حق کې دغه شيان نشو زغملی. ماويل داسې نه چې پد غسې حرکتونو زماد صبرکاسه راډکه شي اوله وخت نه مخکې لاس واچوو.ټاکلې ځای ته دنه رسېدوله امله به يا اتينا ورکه شي او يا به پداسې وخت کې چې دوی زمونږ عکس العمل ته ځير وي. زمونږ حمله به خپله مونږ ته زيان ورسوي. خوبريالي چې تمانچه ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبرگی زما په لور راروان شو وې ويل"ډانگترگله زه به ستاهم تالاشي واخلم"ماويل "دڅه دپاره؟"

-که ته هم کومه تمانچه گوتې لرې نو په تاسو خلکو باورنه دی پکار له انگريزانو سره مو په يوه کاسه ډوډۍ خوړلې ده. مابرياالي ته وکتل هغه تمانچه ورکړې وه او ديوې تمانچې او يوه کلاشينکوف شپيلۍ هغه ته مخامخ وې.ددوه تمانچو شپېلۍ ماته .گوتې په ماشو پرتې وې.دواړو خواوو ته مې وکتل بله لارمې نه لرله . ورته ومې خندل"واخله تمانچه، تاسو چې راسره يئ ،مونږ په تمانچوڅه کوو؟"

وې ويل "همدغسې هوښياره،پلاردې درنه ځارشي"مافکر کاوه داخبرې ددوی دسپکواوبدو خبرو پيلامه ده. خودوی پدې هڅه کې وو چې مونږ تر منزل پورې ورسوي ځکه چې نژدې باندې او ان تر کلي پورې خلك خبروو چې مونږ نن شپه ددوی مېلمانه يوو اوکه سبا مو مړي موندل کېدل نوخبره پدوی وراوښته . اوددلاور دوی له قضيې نه وروسته دوی ته احساس شوی و. چې اوس په افغانستان کې يوڅه دانسانانو پوښتنې دود موندلی دی. چپه خوله روان وو. هماغسې يو مخکې بريالی ورپسې دوه ورپسې بيا زه او وروسته مې تبرگی ښکرور تبر په لاس راروان و.ځان ته مې فکر شو وجود مې نرۍ غوندې لړزه کوله،ړچ راباندې لگېدلی و،که دځنگل خپل شور او شړار نوای کېدای شي چې دخپلو ژامو وروغوندې گړز،گړز مې هم اورېدلی وای.پښو مې هم يوڅه سستي کوله .خو چې په ځان پوه شوم خپله مې خپل ځانته ددرواغو ډاډ ورکاوه چې گوندې،يخني ده بيامې هڅه وکړه چې خپل ځان ورو،ورو عادي حالت ته راستون کړم،ځکه چې په وېره کې جگړه نه کېږي او ويرېدونکی تل جنگونه بايلي.له ځان سره مې دجگړې ځای له قاضي نه راښکته دغره ډډه وټا کله.پدې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې دوه هدفونه وو.يو داچې له دغه ځای نه غږ او شور هم تر قاضي پورې رسېږي او هم قاضي ته تر راغلې بلې لارې پورې چې دغره په سرده .اوکه اتينا ځان پدغې لنډه لاره چې مونږ ليدلې وه قاضي ته رارسولی وي او يا لا په لاره راروانه وي نو زمونږ په شور کولی شي ياځان راورسوي او که پوه شي چې مونږ له منځه تللي يو نو ځان به ډډې ته کړي. وبه ساتل شي. بله مې داوه چې مونږ ددوی له اروايي غير چمتو حالت نه گټه وکړو. دوی به قاضي ته درارسېدو په فکر کې وي،له ځان سره به کرل،رېبل کوي او مونږ به پرې ناڅاپه حمله وکړو. مونږ دغره څوکوته ونه ختو اونه دغره لمنه کې لاړو، دغره ډډه کې په يوه غونډۍ ختو اوپه بله کوزېدو دغزني والو خبره بس په" ځوږ او تيره"روان وو. نه پوهېږم څوساعته مزل به موکړی و. ساعت ته مې وکتل هغه هم نه ښکارېده ډېر پسې ماهم سرخوږ نه که، په روانه کې چې لابيا مزل هم په غره کې وي اوهره شېبه دغورځېدو وېره هم وي ښکرورتبرگی هم درپسې وي او تکه توره شپه هم وي سړی کله ساعت کتلی شي. او بل داوخت او دادساعتونو ورځو اوکلونو حساب دژوند لپاره دی څوك چې د مرگ سيوری په خپل سروينې دهغه يې په ساعتونو او دقيقو څه...؟

شپه په پخېدو وه چې نورپه "تيره"وربرابر شو، مخ پورته ختو، چې غلي،غلي مې اخوادېخوا وکتل بيامې کېږ اړخ ته لوی غرته وکتل پوه شوم چې ټاکلي ځای ته په رارسېدو يو.گام پرگام دمرگ لوبې ته ورنژدې کېږو، دقاضي توره خوله لکه دافريقا کومه تور پوستې چې لا پسې دکونړگور گورې وخورې. اودمحمدين گل کيسه مې رايادېده چې ويل يې ""ددوه رکعته لمانځه وخت يې غوښت،مونږ ورته وويل بس دی لمونځونه دې ډېرکړي،گناه يې څه وه.....؟ دروسيانو ملاو. دروسيانو امامت يې کاوه. ښه بې ننگه قومندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صیب خودرته دغه خبره کوله. له سرنه خلاص شې نو تافکرنه کاوه چې روسیان هم لمونځ کوي چې ده یې امامت وکړ؟ "**

**بس دقوماندان صیب حکم و نو....مونږ به څه ویلي واي" ښه نو مونږ به ترکومې لکه ړانده چرگان دبل په "تیتې،تیتې" پسې رواسن یوو. عالمان او پوهان به دپوهې په جرم ، انجینران به دودانولو په جرم،مالیم خوارکی به یې پدې وژنو چې جغرافیه یې لوستې ده، کله به خپله فکر کول زده کړو. دغه ټولې خبرې مې لکه دفلم پرده زر، زر په ذهن کې اوښتې ، راوښتې، سرکښ،بریالي،شادل،اوگنډېري ته مې وکتل څه سورتونه اوکلیمې چې مې زده وې هغه مې په لاره په ځان چوف کړې وې. دسورت واقعې څو ایتونه مې هم تکرار کړه، ځکه چې دادژوند او مرگ لوبه وه. او پدې لوبوکې کله دېر ډاډ هم سړی وړي،زه هم انسان وم، یوه مرمۍ مې داروه. اوراته مالومه وه چې دسورت واقعې په تلاوت سره په ځنکدن کې دخولې خوندښه کېږي. نوره مې فیصله وکړه چې دډېرفکر اوخبرو وخت نشته ، دخوشحال خټك دزمري په خوله کې دهمت دنه پرېښودلو توصیه رایاده شوه نورمې پښوله لږغوندې اوار ځای کوت، بیا مې بره وکتل ، که کومه ونه وي چې لاس ورواچوم، لومړی تبرگی په لته ووهم اوورپسې په گنډېري ور ودانگم او ځان شادل ته ورسوم . زړه مې وښوېد، یوه ښه موکه مې له لاسه وتلې وه.دونې یو ښاخ مې له سره تېر شو خو لاس مې وروانه چوو، لا روان وم. بس نور نو وخت و. چې لومړی پورته شم او بیا له لتې کارواخلم . چې ناڅاپه غږ شو"یه سړیه وژني مو"دغږ سره گنډېري ورمنډه کړه، یه جینۍ ته دلته څه کوې؟ددې سره نورپوه نشوم خودغوږونو سره مې یو ښه په زوره درز وشواوددرزسره تبرگي یوه لویه کریکه (کریغه)وکړه ،چې شاته مې وکتل،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبرگی څو گزه وړاندې ولوېدچې په ناو کې ښکته کوولې شواوکړنگايې کوله، نه پوهېدم دااسماني مرسته له کومه راغله چې
ومې کتل چاله ونې نه راودانگل تور پتلون، تور کميس ، وېښته يې راټول کړي او شاته يې كلك تړلي وو. پوه شوم چې ښځه ده .تبرگي ته يې وکتل . چې زرد را پا څېدونه وو، په گنډېري پسې يې ورمنډې کړې. شادل ته مې وکتل وارخطا شوی و. تمانچه يې لاس کې وه، هغه چې ماته نيوله ماپه لته وواهه، وغورځېد، تمانچه هم ترې وغورځېده، او ښايسته لرې ترې وښويده، بدې ته يې لاس کړ بله تمانچه يې راوويسته، چې درزشو، گنډېرى پرې دپاسه وروغورځېده، بريالي ته مې فكر شو، خو هغه ښه په دمه لگياو،دتبرگي كشرى ځوى يې په سجده کړی و او په څنگل يې ورو،ورويو، يوگوزار وركاوه.دهغه خوله به له تيږو سره لگېده،اوچيغې يې وهلې، مادگنډېري دجگېدوانتظاركاوه.چې اتينا غږ کړ. "پروت، ولې دې"ماپروت وكړ،ځان مې ورغړاو، چې ډزشو، ومې کتل ډز راباندې تبرگي کړی و. خو اتينا ورته راورسېده، تر سينې پورې يې او چته شوه او په غبرگو لتويې وواهه، زه هم راپاڅېدم ،گنډېرى اوشادل هم راپاڅېدل،ددوه کيلو په اندازه په يوه کاڼي يې راباندې گوزاروكړماورته خپل بوټ ورمخامخ کړ.تيږه مې وتنبوله اوپسې ورغلم. دوه ضربه لتې مې ورکړې،ډېرښكته ورغړېد،او گنډېری مې راونيو، بريالى هماغسې سوكه،سوكه لگياو. اوملگري يې همغسې چيغې وهلې. گنډېرى مې ښه وواهه بيااتينا زولنه راوړه،لاسونه يې ورله شاته واړول اووروايې چوله. بيادبريالي خواته ورغله دسرکښ لاسونو ته يې هم زولنه واچوله، بيا ترې هغوی دواړه دشادل په لور روان شو، اوزه هغه ځای ته ورغلم له کومه چې لومړی ځل غږ راغلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



گورم چې یوه ښځه په ونه پورې کلکه تړل شوې ده. پوښتنه مې ترې وکړه"ته څوک یې؟

دګندېري ښځه یم!

ماویل نودلته څه بلاغواړې ؟

"ډاکترې راوستلم"

- نوولې ورسره راتلې؟

-په زوره یې راوستلم! یه وروره دخدای دپاره ماخلاصه کړه.

- چې ته یې په زوره راوستلې نو نور کورڅه کول....؟

- هغوی یې دماشو په دارو بې هوشه کړل.

- څنګه....؟

- زما ایندرورته یې دارو ورکړل ورته وې ویل ددې سره به ماشي مړه شي،هغې په کوټه دارو وشیندل زه یې بهر دځان سره ایساره کړم . هغوی ټول بې هوشه شول. دوه درانه بایکونه یې هم تردې ځای پورې راباندې راوړل. زه خو تورسرې یم زما څه ګناه ده.

-څه وخت چې ستامېړه، ستاورور لیور او خسر بې ګناه خلك وژل ته ترې خبره وې؟.

- خبره ووم خو ماڅه کولی شول؟

- څنګه دې نشو کولی. ته ددغه کور مېرمن وې تالږترلږه دخپل ماشوم بچي په خوله مېلمانه خبرولی شول چې وژني موځان ساتئ.

هغې لاځواب نه وراکړی چې اتینا غږکړ"داله هغوی لویه مجرمه ده ، دټولو مرګونو او شوکو، ډاکو مالومات ورسره دي"اووایي چې سوداګر یې یواځې دپیسو دپاره وژلي، وسلې ورسره نه وې، هوایې پرې خرڅه کړه،رایې وستل او بیا یې دشپې پدې بانه چې دلته نژدې په بل کورکې ستېنګرتوغندي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوتلل او په لاره يې ووژل. داترې ښه خبره وه خو همداوايي چې"تورسرې يم ماڅه کولی شول"
تورسرې ولې څه نشي کولی. اوس له دې پلان نه هم ښه خبر وه. اوکه کومه شخړه راتله زما دوژلو دنده يې دې ته سپارلې وه. ماچې داتينا له دې خبرو سره هغې ته مخ راواړوو، شاته يې ځلور واړه قاتلان ولاړوو، چې ومې کتل دېولو لاسونه شاته تړل شوي وو، بيا يو له بل څخه ديوه گز په واټن په پړي سره خپلو کې سم او بدل شوي وو، دهريو په تخرك کې پړي وراچول شوي وويواړخ يې له يوه سره او بل اړخ يې له بل سره تړل شوی و. اوس ښه په کرښه کې منظم ولاړو. نه له يوبل نه لرې تللی شو نه يې دخورېدو او ورکېدو وېره وه اتينا راغله ، ښځه يې له ونې نه پرانيسته ، غوښتل يې هغه هم له دوی سره وتړي ماورته وويل" دزړه سره! ستا ترڅنگه دوه پښتانه ولاړدي او پښتانه له ښځو بدل نه اخلي" پښتانه ښځې نه تړي او په ښځو ډز نه کوي ، غلې غوندې مسکۍ شوه وې ويل"ښا! تاسو خو بيا ښځو ته ډېر په درنه گورئ"
ماورته وويل "پدې کې خو شك مه کوه"
- "کاش زه هم پښتنه وای ماورته وخندل" که پښتنه نه يې دپښتون خوشه"
وې ويل"
په دواړو سترگو خو اوس دې له دې پښتنې خور سره څه کوې؟" ماويل "خوشې يې کړه چې خپل کورته لاړه شي" وې ويل"
چې لاړه شي او خلك خبرکړي او راپسې راوې لېږي" ماويل " خلك به يې نور کور هسې هم خبروي.دا چې کورته رسېږي سهار به وی،او سهار به هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ستا له خوبه را پا څېږي،اوبل، پښتو کې خو پُښتی ماتېږي" هغه بیا هم زړه، نازړه وه، وې ویل

"که په مونږ پسې چیغه هم راووځي،په غره کې به چرته گرځي "اوکه دامو پرېښوده،مانا خپل ځای مو ور وښود.

-"خو پوهېږې که یې پرې نږدې بیابه څه کیږي؟"

-" خلك به راپسې وگرځي خو ځای مالومول به ورته گران وي"

-نه ! هغسې به ورسره دوست،دښمن ټول یو ځای شي،ښځه دلته ناموس دی،ننگ پرې دټول ولس گډه اخلاقي دنده ده . دپښتنو دغیرت دراپارولو نه ډډه کوه."

فکر منده وه خو، ورو،ورویې  پرانیسته اوورته وې ویل" په لیدلې لاره ځه چې شاته ونه گورې".

گنډېري دوی ورته ټولو یونظر وکتل او هغه وروغوندې روانه شوه څوقدمه یې واخیستل بیا ودرېده وې ویل:" پدې خلکو تاسو څه کوئ؟"

اتینا ورته وویل" قاضي له یې بیایوو،خودشنوگټو او تورو لارو قاضي له نه، د تورو ټکواو سپینو لاروقاضي له " مړژواندې غوندې روانه وه،اوزما سره داغم و چې پدې توره شپه کې به پدې گڼ او گورځنگل کې څنگه لاره مالوموي،زمونږ ښي اړخ ته دغره یوه لوړه څوکه وه مونږدهغې په لور ورروان شوو، خو څوکې ته ونه ختو، په ډډه کې مو نږدې نیم ساعت مزل وکړ، یو څه اوارغوندې ځای راغی. اتینا وویل" خوب راځي او ډېره ستړې یم.کاش شپه مو همدلته کړې وای."

ماویل پدې کې دارمان څه خبره ده، همدلته به شپه وکړو، چې ودرېدو،مخامخ مو شړارغوندې واورېد،پوه شو چې اوبه له پورته نه ښکته رالوېږي ورغلو، ښه مست ابشار و، د څوگزو په اندازه سرور ډنډیې جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی و.په ډنډ کې مو مځ،لاس ووینځل،بیادیوخوندي ځای په لټه کې
شو.بریالی لږ غونډې وړاندې لاړ. چې بېرته راغی وې ویل دغلته دیو پاڼ بیخ
ته یوه سمڅه غونډې ده .ورغلو سمڅه مو په لاسي څراغ وکتله په لوگي
تورې گټې،سکاره،اوهډوکي پکې پراته وو.هغه مو ترې بهر راوغورځول،یو
څه مو پاکه کړه.سمڅه نه وه،سم غار و،پنځه شپږ گزه اوږد غار چې سړی
پکې په ټیټه ازاد تللی،راتللی شو. مجرمان مو ور ننویستل،اتینا وویل
-"زه به پرې دسپری یو پرش وکړم خو تاسو بهر ووځئ چې تاسو بې هوښه
نه کړي" بریالي ورته وویل
-" لکه چې ستاسره دوستي لري، تانه بې هوښه کوې".په خنداشوه
-"ماگولۍ خوړلي په ما اغېز نه کوي"
بایکونه چې تر اوسه مو په هغوی بارکړي وو،ترې راوامو خیستل،دسمڅې
سرله مو راوړل زه او بریالی دسمڅې په خوله کې ودرېدو بهر مو دغره
دښترو ننداره کوله،دځنگل شړار مو غوږونه نیولي وو چې اتینا رامنډه کړه،
مونږ زر مخونه ورواړول،وې ویل
-"څو شېبې بهر ته وگورئ،چې تاسو راته راپرې نه وزئ"
لږه شېبه هغه هم دځنگل هیبت ناك غږ ته غوږ وه، بیا یې وویل
-"راځئ چې ورځو"
چې ورغلو هغوی ریښتیا هم نور بې هوښه وو.له بایکونو نه مو دسیلانیانو
وړه خېمه موراووېسته،چې ټول وزن به یې ایله درې کیلوگرامه و،خوچې
وبه درېده،دوه کسان پکې ازاد ځاېدل.
خېمه مو دسمڅې په سر کې ودروله اواتینا ته مې وویل "ورننوزه!"
ورننوته،زه او بریالی دخېمې او تبرگي دوی په منځ کې کښېناستو.څه شېبه
غلي ناست وو،بیایې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"ولې يو ويده کېږو نه" ماويل

-"بس همدې گټې ته سر کېږده،ويده شه" هغه له هم لکه چې خوب ورغلی و،دگټې په ځای يې بايك ته سر کېښود اووې ويل

-"يوساعت وروسته به مې راپاڅوې"

هغه ويده شو،زه ناست وم،له ترکيې نه ترکونړه په ټولو پېښو مې يوځل بيا فکر وکړ.په پهره او څوکۍ کې بدبختي داده چې څوکيدار تر لرې،لرې پورې دفکر نيلی وزغلوي، ډېر اوږده او گران پلانونه جوړ کړي،جرگې راولي،مرکې وکړي،څوك وخندوي،څوك له لاسه ونيسي په گلونو کې چکرې ورکړي، اننگي ته يې وگوري بيا گل ته وگوري په دواړو کې هيڅ توپير ونه ويني او چې ساعت ته وگوري په پخواني او اوسني وخت کې توپير نه وي.لکه وخت چې ولاړ وي.ايله څلور،پنځه دقيقې تېرې وي.

بس همدغسې په فکرونو کې ډوب ناست وم. په شواخون مې نژدې دوه ساته تېرکړل. چې بريالی سپك راپاڅېد.لومړی يې لاس په کلاشينکوف کېښود چې له سرکښ نه يې اخيسی و. بيايې يو خوابل خوا وکتل،سترگې يې وسولولې،ماته يې وويل

-"اوس ته ويده شه".

ما همدغه وخت له خدايه غوښته،بايك ته مې سر کېښود،ستړيا او بې خوبي سره يو ځای شوې وه. دټکه ويده شوی وم نه پوهېږم خپله راپاڅېدم که بريالي راپاڅولم خو چې سترگې مې وغړولې وې ويل

"لمونځ قضا کېږي" دی خپله تازه و،پوه شوم چې لمونځ يې کړی دی.

قيديانو ته مې وکتل،يو په بل کې داسې پييلي پراته وو لکه داخون موسی بټي کوټي دمارانو کټ، خېمې ته مې وکتل، بريالی موسکی شو وې ويل

-"ورځه ورندار هم اوداسه ته تللې ده"


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ورغلم دې دچینې په غاړه یوزړوکی دوه بوټوته د یواوبل گوټ نه دپردې په شان تړلی دی. دبل زړوکي یو پلو یې هم په بوټي پورې غوټه کړی و، خو بل پلوته یې کوم بوټی نه و. حیرانه وه چې څه وکړي. زه ورغلم ماویل"څه کوې؟" "پرده کوم" په شیطانت مې ورته وویل "په پرده څه کوې.؟"

پوزه یې راکوت کړه،

-" ستادلاسه،آبله شپه دې ویل سر دې خیرن شوی. ته د کونړ په غره کې هم د استنبول مزي غواړې."

-"خیردی دزړه سره مه خپه کېږه دابه درته زه ونیسم" زریې پرېښود،

-"هه! ونیسه"

ورغله کمیس یې وویست،ښه و نری غوندې سپین بنین یې اغوستی و بیا یې فکر شوکمیس یې خپلې مخې ته په ځان پورې ونیو چې خبټه او سینه یې پټه شي اووې ویل

-" مخ ایسته واړه وه چې دېخوا ونه گورې"

ورته په خنداشوم

-"ښه! درته نه گورم"لپه یې په سر اوبه راچولې،خو چې لپه به یې سرته جگوله ټولې اوبه،به ترې توی شوې،څه شېبه په دغې بې پایلې لوبه کې نښتې وه خو ایله یې خپل وربل لوند کړ.مایې په خندا،نندارہ کوله،اخر مې ورغږ کړ.

-"خو ایسته ټوله ولامبه اوبه خو به درله بدې نه وي"

-" ټوله به څنگه ولامبم "

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"په ډنډ کې غوپه شه،هم به دې سر پاك شي هم ځان" هغه یې هم لکه چې قید کړې وه ناراسته یې ونه کړه،زړیې بنین هم پسې وویست،بیایې فکر شو

-"بې شرمه ایسته گوره!" بیایې بنین مخې ته ونیو، خو لمر په دوه گوتو چرته پټېږي،هغه هم پوهېده چې ناکامه هڅه ده،خو بنین یې ترهغه نیولی و چې ما ترې مخ واړاوه. ځنگل ته حیران وم. دنښترو دومره لویې ونې وې چې ددوه کسوغېږ ترې نه تاوېده او دومره لوړې چې پاس سریې نه لیدل کېده، مخامخ مې وکتل چې دځنگل سور او اوږده مالوم کړم. خو د شل دېرش مترو نه لرې څه نه مالومېدل. دخدای شکر مې وه ویست چې ځه دکونړنورځنگلونه که وهل شوي داخو لاپاتې دی. بیا مې پدې دلیلونو غور کاوه چې دغه ځنگل ته سړك نه دی تللی.ځکه لاروغ ولاړ دی. خو دا کره او پوره دلیل نه و. ځکه چې دځنگلونو دښمنانوته داډېره گرانه نه وه چې دومره لوی ځنگل ته سړك ووهي خو کېدای شي دنه وهلو دلیل به یې دشیگل دخلکو نښتر دوستي وه او یا به بې اتفاقي وه پرې نه به جوړېدل.ذهن ته داخبره هم راغله چې ځینې خلك وایي چې داځنگل یواځې دشیگل دخلکو نه دی اخواد(دېوز،کټار،گمبیر اوپه لویه کې دټول پېڅ ) خلك هم پکې ورگډدي.لاپه همدې فکرونو کې وم چې دسلگیوغږ مې واورېد.بې اختیاره مې مخ شاته ستون شو. گورم چې اتینا په اوبو کې نیمه پټه ناسته ده ،په لپه په ځان اوبه اچوي. چې د هرې لپې په اچولو به له خپله ځایه یو څه پورته شوه ، وبه رېږدېده اوپه سلگیو به شوه. چې ماته یې وکتل په خندا یې وویل

-"یخې دي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم په نا پامۍ کې د قدرت دغې پديدې ته کتل چې ددې خپل لوڅ تن ته فکر شو، وې ويل

-"بې شرمه تابيا راوکتل"او اوبه يې راوشيندلې ماويل

-"سلگۍ مه وهه چې نه درگورم" اومخ مې ترې واړاوه. چې وې لمبل هماغلته په لمانځه ودرېده اوزه ترې پورته لاړم. لږه شېبه مزل چې مې وکړ.هلته هم يو لوی ابشارو،دا ابشار ببېخ ته يو لوی ډنډ جوړ شوی وزه هم په ډنډ ور غوپه شوم، ومې لمبل،لمونځ مې وکړ. اوبېرته راروان شوم.چې لاندې مې وکتل اتيناخپلې طلايي زلفې ږمنځولې. دلمرزرينې وړانگې يې په زلفو لگېدي ځلا يې سترگې را برېښولې. چې زما دپښو ښکالويې واورېد. پورته يې راته وکتل خو څه يې ونه ويل زه ورغلم. زړوکي مې له بوټونه راخلاصول ورته ومې ويل دا خواوس لرې کړه،نور پرې څه کوې؟

-په تېزه يې وويل"بې شرمه! مه يې لرې کوه گورې نه چې هلته بريالی لالا ناست دی"

- په خندامې ورته وويل بريالی دې له کومه لالاشو؟

-ولې دهغه ښځه تاته لالانه وايي.

-ورته موسك شوم"نو ته خولا......

-موسکی شوه"غږ،دربانډې کوم،ښځو چل راښودلی دی"

- ځيرکتيا ته يې حيران شوم" ښه! دې ته دې هم فکردی چې دبريالي مېرمن ما ته لالا وايیس؟"

- ښځې دسږوغوندې په هوانه وي هرڅه ته فکرکوي.

- پدې خبره خو يوه خوله راکړه.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په خنداشوه،ښه ده چې تاوغوښته.بیایې وویل داراته ووایه چې خواښې ته به مې کله رسوې.
- چې کله دې خوښه وي.
- زماخو اوس خوښه ده.
- خوپه رڼاکې نشوتللی.
- نو کله به ځو.
- بیگاته، خو غم دادی چې تر بیگاپورې به خورو څه...؟
- وې ویل"چې زه ژوندۍ یم  برېت تاووه"داسې غوښې به دربانديې وخورم چې کله به دې خوړلې نه وي."
-" له کومه دې کړې؟"
- دغه څلورچې دې ترلي دي، ددوی عجیب دود و. دوی چې به ستاسو غوندې کوم ښکارپیداکړو.دوه سیرلي به یې حلالول او بیگا یې هم دوه حلال کړي وو.یویې ماسختن زمونږ سره په گډه وخوړ او بل یې هم ښه سور کړ. خو هیڅ یې ترې ونه خوړل. پټ یې کېښود. زه پوه شوم چې دوی به دادشپې خوري،کله چې ستاسو نه بېرته راستانه شي.
-" نوتادلته څنگه راووړ".
-" دهغه ښځې چې دیگی سنبال کېښود. زه پوه شوم او قسم مې وخوړ چې دابه مې په جانان خورم.چې کله مې دهغوی نورکور بې هوښه کړ.دگنډېرې ښځه مې څوسوکه ووهله بیامې ورله لاسونه وتړل. خوله مې ورله پلسترکړه بیامې غوښه په یولوی پلستیك کې واچوله په خپل بایك کې مې کېښوده. دښځې لاسونه مې پرانستل خپل بایك....."
- مایې خبره پرې کړه "یاپه بله ژبه دغوښوبایك"

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"هو!دغوښوبایك اودبریالي لا لا بایك مې پرې بارکړل. اوستابایك مې په خپله اوږه راواړاوه".

-" په خوښۍمی ورته وویل ماناوس غوښه لرو"

- "هو....ولې نه!" مسکی شوه افغانه مېرمن یم. وړی دې چرته پرېږدم" روان شو. دسمڅې نه موبایك راواخیست ،ښکته راکوزشو ،په شنه چمن ورته کښېناستو. بریالي ته مې وویل

-" په خدای وهلودې څه وکړه؟" وې ویل

-"داسې مې بې هوښه کړي چې ترلمر پرېوتو دراپاڅېدونه دي."

دېگی نه و.چې غوښه مو گرمه کړې وای،سړه،سړه موخوړله او له او له اتینا نه مو دتېرې شپې کیسه بیا،بیا اوربدله څه کاغذونه اوڅبوتونه چې لاس ته ورغلي وو، هغه مو وکتل او ترډېره مو خواله وکړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ڤوارلسم ڤپرکی:

دقـاضـي پـرېـکـړه

چې دشپې تياره ښه خوره شوه. له ځنګل نه راوخوځېدو.دوی ڤلورواړه په خپلو کې په يوه پړي تړل شوي وو. له دې امله يې سم مزل نشو کولی. چې يوبه لږ اوږد قدم واخيست بل به يې ځان پسې راښکه نو پرېکړه مووکړه چې دوه،دوه جلا،جلا خپلو کې وتړو.شادل او تبرګی مو يوه جوړه اوګنډېری او ورور يې بله جوړه شول چې ښه ټوټه مزل مو وکړ. دشنو ګټيوقاضي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسېدو. ڤلور واړه ګنډېرى، تبرګى او بلابتر مو دغار په ڤنډه ودرول.
ماورته ويل ښکته دې تور غارته وګورئ ڤه وينئ؟
- تبرګي وويل "مرګ "
- ماويل تاسو غواړئ چې دمرګ په وخت کې دروغ ووايئ؟
ګنډېري غبرګړ" نه! دروغ نه وايو"
- تاسو پوهېږئ چې مونږ ڤوك يوو؟
- نه، نه پوهېږو.
- ايامونږ ډاکټران يوو؟
- نه ډاکټران خو نه ياستئ.
نو بيا پوه شئ چې مونږ د ڤېړنو مسلکي خلك يوو. په دروغو ډېر ښه پوهېږو. نو که تاسو دځان سره ښه کوئ، دروغ به راته نه وايئ،مونږ ستاسو سره يوه ژمنه کوو، که تاسو دروغ ونه وايئ.نومونږمودشنوګټيو قاضي ته نه ورسپارو، او اوس تاسو ته دپنځه ملټودپاره په خپلو کې دمشورې وخت دركوو. مونږ درنه ځو. تاسو خپلو کې پرېکړه وکړئ چې دروغ به راته وايئ که ريښتيا؟
هغوى موپرېښودل خپلوکې يې خبرې وکړې. پنځه دقيقې وروسته ورله راغلو.ماترې پوښتنه وکړه .دوه سوداګر چې مړي يې ڤه وخت مخکې دبنګېرې دکمرلاندې په سمڤه کې وموندل شو، تاسو وژلي وو........؟
دوى غلي شول اتينا ورته وويل" دګنډېري مېرمنې ماته له وېرې ټول مالومات راکړي او ستاسو دغټې کوټې دصندق ټول کاغذونه اوڤبوتونه راسره دي هيله کوو ڤبرې مه پټوئ همدا ستاسو په ګټه دي ،دنورو خبرو نه وړاندې يو ځل ښکته قاضي ته وګورئ"ټولو ښکته کندې ته وکتل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توريٻ خولٻ يٻ لکه د بلا خوله دانسان حواس الوزول، ټول ورېږدېدل زر يې سرونه راپورته کړل

په يوه غږ يې وويل.هو!....مونږ وژلي.

-ولې مووژل؟

-دپيسودپاره.

-نورڅوك درسره وو؟

-هو...بل چارابانديٻ راړولي دي.

-تاسوپه هغوى څه خرڅ کړي و؟

-تښه هوا.

-اوسوداموورسره دڅه کړي وه؟

-دستينگرتوغندي.

-ستاسو سره ستينگرشته؟

-نه.زمونږ سره نشته.

دخپلې خبرې لپاره څه ثبوت لرئ چې تاسو ريښتياهم ستينگرنه لرئ؟

-که مونږ ستينگرلرلاى پخوابه نورو وژلي وو.

-دکومې سياسي ډلې سره تړاولرئ؟

-نه!

-دچاپه وينامو وژنه کړېده؟

دهيچاپه وينا مونه ده کړې.

-ستاسوسره به انصاف څه وي.

-يو تن وويل"مرگ"

-چامرگ يادکړ؟

-ماشادل.


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ولې....؟

-ځکه چې له تبرگي سره يو ځای کېدم. اوبې گناه خلك مې وژل.

-دوی چې مخکې کومې خبرې وکړې دارښتيا دي؟

-هو....دمرگ په خوله کی څوك دروغ نه وايي.

-دسوداگرو پيسې موپه څوکسو وويشلې.

-په پنځوو، خو پنځم به ترې شپږم له څه برخه ورکوي.

-سر لاری موڅوك دی؟

-تبرگی، خوډېرکار بل چاکړی.

-بل څوك چاته وايې؟

-ملخي ته .

-که زه تاپرانيزم څه به وکړې؟

-يوقتل به بل وکړم.

-مابه ووژنې که زما مېړمن؟

-تبرگی به ووژنم، همدې کندې ته به يې وغورځووم. ده دې کندې ته ډيرغورځولي.

-که زه تا پرانيزم بيابه راته رښتيا ووايې.

-که ماله دتبرگي دوژلو اجازه نه راکوې. زه ازادېدل نه غواړم.خومونږ درته رښتيا وويل.

-تاته څومره برخه ورسېده؟

-اويازره.

-تبرگي دوی څومره واخيستې ؟

- په درې کسو دوه لکه شل زره.

-لس زره يکې ولې ډېرې شوې.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دده دمشرتوب.

تبرګي پخواڅومره پيسې لرلې؟

لس زره يادې ته نژدې.

-ستاپيسې چرته پرتې دي؟

-دتبرګي دوی کور کې زما دخور سره .

-ديو مجرم په ننګور، ديو مجرم په مېرمن،ديومجرم په خور او په يوه مجرمه خور دې څنګه باوروکړ؟

- خور،خوروي که مجرمه وي او که دمجرم وي.

- تاټولې پيسې هلته ايښي دي؟

- نه شل زره مې ترې اخيستې دي.

- په هغې کې ولې دېرش زره کمې دي؟

- نورې به دوی لګولې وي. رښتيا دوی پرې بزې واخيستې.

- څه چې دې وويل ټول رښتيا دي؟

- هو...

- تبرګيه رښتيايې وويل....؟

- هو.

- اوس له دې ځای نه دوتو لپاره وړ لاره کومه ده. داسې لار چې په تاسو او يا مونږ پسې ګرځېدونکي خلك مو ونه ويني.

- تبرګي وويل" دشنګس لار"

- شادله! رښتياوايي؟

- زه هيڅ ويل نه غواړم!

- ولې........؟

-زه د هغه وخته پورې څه نه وايم څو پورې چې مې تبرګی نه وي وژلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



-تبرگي په ارامه وويل ما مه وژنه بيا به دې مور خپه شي.

-مور مې په تا پږ ځه کوي؟

-دا له هغې نه پوښتنه وکړه!

-ما ترې پوښتنه وکړه شادل دې څه دی؟

- زوم او دننگور ورور.

- دده دمورسره دې اړيکې شته؟

- هو....

- څه ډول اړيکې دي؟

- څنگه چې دښځې اومېړه وي.

-خپلوي دې ورسره پخوانۍده که ناروا اړيکي؟

- اړيکي مې ورسره پخواني دي. هلته په ورتلو راته خلکو گوته نيوله نو دده مور راته وويل چې خپلوي به وکړو چې پښې دې ازادې شي.بيا يې پلار مونږ د يو بل غېږ کې وليدو،ما او د ده مور په گډه هغه هم له مخې لرې کړ.

ددې سره پرې شادل ورودانگل . تبرگی او شادل دواړه په يوه رسۍ په خپلو کې تړل شوي وو. دواړه سره غاړه غړۍ شول. ما ورمنډه کړه چې دقاضي غېږ ته ونه غورځېږي. خو چې زه وررسېدلم تبرگی ښکته ورښوی شو.لاسونه يې ډېر په غاړه پسې وتپول خو څه په لاس ورنغلل. شادل هم پسې راوغورځېد خو لاښکته نه و تللی. دومره وخت نه و چې لاسونه ور واچووم. پښه مې ورسره نژدې وه. هيڅ په ځان پوه نشوم ددوی تر منځ چې کومه يوگز رسۍ وه له هغې نه مې پښه لاندې کړه او نيغه مې ونيوله.دايوه ناکامه او ډېره خطرناکه هڅه وه. زه راوغورځېدم.پړی مې له پښې خلاص شو.اوما ځان څه په گټو پورې او څه د قاضي په غاړه دولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډډم دزاړه بوټي په ځنو پسې کلك کړ. اتینا او بریالی رارسېدل.یولاس مې بوټي پورې کلك کړی و. بل مې اتینا په دواړو لاسو ونیو او مخامخ راته کښېناسته.پښې یې یوې تیږې ته ولګولې. بیایې بریالي ته وویل "رسۍ له ونې تاوکړه" بریالي چې رسۍ تاووله ماورو،وروځان دمېږي په پله پورته راخوځوو. او اتینا هم ورو،ورو راښکلم.بریالي د رسۍ سر راووړ. اتینا ورته وویل "له تخرګ نه یې ورله تاوکړه"هغه چې زما اوږې ته راټیټ شو. ګنډېري اوسرکښ چې لا تر اوسه غلي ولاړ وودواړو رامنډه کړه. ده رسۍ کلکه کړه خو هغوی په غبرګو لتو وواهه او ښکته وغورځېد. اتینا چیغه کړه.بریالي رسۍ په دواړو لاسونو نیولې وه هڅه یې کوله کومه راوتلې تیږه او یا بل څه پیدا کړي چې پښه ورته ونښلوي ځان یې په رسۍ پورې دوه،درې ګزه لاندې ټینګ کړ. غوټې یې په لاسونو ونیولې او پښې یې په راوتلې تیږه کېښودې .ګنډېری اوسرکښ وتښتېدل،

اتینا په خپل ټول زور زما لاس راښکه .زه پورته وروختلم . ښه خبره داوه چې بریالي اوږده رسۍ غبرګه له ونې تاو کړې وه. بل سر یې لابره و.هغه مې راواخیست،خونه پوهېدم څه وکړم،له کومې لارې بریالی وترم،که درسۍ سر مو هغه ته ور رسوو خو هغه نشو کولی راوه یې نیسي ځکه چې د یو ې رسۍ د نیولو دپاره مجبور وو چې له بلې هغې نه یو لاس راخلاص کړي. او که یو لاس یې راخلاصولای، په بل یوه لاس یې ځان نشو ټینګولی. اوبیا دغسې دبلې رسۍ ګټه څه وه.که هغه دومره مېړنی وای چې په رسۍ پورته راختلای شوای نو چیغې به یې ولې وهلې. هك،حیران وم چې څه وکړم.په ذهن کې مې یوه توره کنده وه، بریالي رسۍ نیولې وه،پښې یې خوځولې اوپدې هڅه کې و چې ځان وژغوري خو نه یې شو کولای. ناڅاپه وړوکی شوم.د ارچي د دښتې واورې رایادې شوې. چې انګارۍ ته به ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرم شوم،دپلارڅنگ ته به ورغلم ورته وبه مې ویل ماله مرغۍ ونیسه پلار به مې هڅه کوله چې له خبرې مې واړوی خو زه به اوښتونی نه ووم. مور به مې غبرګ کې راواخیستم دروازه به یې خلاصه کړه "وګوره!بهر داسې واورې پرتې دي،یخني ده،بیا به دې چاچۍ یخې شي،بیابه دې پاپۍ یخې شي" ورپسې به یې ښکل کړم خو مابه همدغه یوه سرینده غړوله چې زه مرغۍ نیسم، موربه مې و پوهېده چې له خپلې خبرې نه اوړم.نو پلارته به یې راله وویل "خیر دی ددې درمندځای پورې یې بوزه،راشپېل ورسره واخلئ یو ځای به تورکړئ،په یخنی کې دومره دتېینګې نه دی، ببرته به اوس راتښتي،خو او س یې څه یینګ راپارېدلی. پلار به مې نشم،نشم وکړو، خو زه به په ژړاکېدم.راپابه څېد. موربه مې راته موزې په پښو کړې.کوټ به یې راته واغوست،له سر او مرۍ نه به یې راله وړوکی څادرګی تاوکړ. پلاربه مې دام راواخیست.راشپېل په اوږه، دام په لاس به روان شو. زه به یې له ځانه مخکې کړم. خبرې به مې ورته کولې، درمند ته به ورسېدو.په راشپېل به یې لږ غوندې ځای له واورو پاك کړ.دبوسارې نه به یې بوس راواخیستل پکې وبه یې شیندل، دام به یې پکې خور کړ.، ددام لومې چې داس دلکۍ نه به یې ویستلې وې برابرې کړې.زه به نور د تېینګېدونه ووم،له یخنۍ نه به شتېدم. پلارته به مې ویل "مورله ځم"هغه به په غبرګ کې کورته راورسولم، موربه مې رانه زر،زرکنګل وڅانډه،انګارۍ ته به یې کښېنولم، لاس به یې راله انګارۍ ته نژدې نیولي وو چې تاوده شي. ورو،ورو به یې ښکلولم.خو زما په خیال کې به مې دپلار ګوتې اوښتې، را اوښتې چې لومې به یې برابرولې او بیا به مې فکر کوو چې اوس به ورته مرغۍ راغلې وې له پښونه به نښتې وي. ددې سره مې سر څنډواهه، په ارچې کې د انګارۍ په غاړه نه،دشنوګتیو دقاضي په غاړه ناست ووم.له ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مې وويل "راشه له همدې تجربې نه كارواخله"رسۍ ته داسې ول وركړه چې دبرياڵي سينې ته ورسي. مونږ يې پورته راگاږو او په راښكلو لكه د لومې غوندې سينې ته كلك پرېوزي. دقاضي په څنډه پړمخې پرېوتلم. ښكته مې دپړي سر له ول وركړ. او دلومې په ډول مې دومره پراخ پرېښود چې ښكته په ورپرېښودلو دبرياڵي له لاسو تېرېدلی شو.همدغسې مووكړل.پړی مې ورو،وروښكته پرېښود.اتينا راته دلاسي ځراغ رڼاكوله.پړی دبرياڵي له لاسونو تېرشو. سر يې پكې ورننوېست، چې سينې ته يې ورسېد. پړی مې پورته راښكه،ول يې دبرياڵي سينې ته پرېووت. كلك وتړل شو.اوورو،ورو موپورته راښكه.

څه دهغه خپل زور شو،څه زموږ، روغ رمټ مو راووېست.درې واړه دمرگ وېرې وهلي وو.ښه شېبه اوږده وغزېدو. چې ساوې مو سمې شوې.بيادتښتېدونكو په لټه كې شو.مونږ به لا شل،دېرش گامه نه وو تللي زگېروي مو واورېدل چې ومو كتل هغوی دواړه دلارې نه پنځه،شپږ گزه ښكته په بوټو پورې نښتي دي زگېروي كوي. پوه شو چې له وارخطايي نه رغښتي دي. پسې ورغلو،راجگ مو كړل. بېرته مو راخېژول چې اتينا ښكته شوه او وې ويل "دتبرگي،تبرگی دادی پروت دی،وی ،وی بې خاونده مال داسې وي،مونږ خپلې غورځېدلې تمانچې را واخيستې او دا پاتې شو"راوايې خيست،گنډېری دوی مو بېرته دقاضي څنگ ته راوستل چې وموكتل دگنډېري ښی وروزه له كوم كاڼي سره لگېدلې او خوږ شوې وه،وينې ترې بهېدلې،خوده پرې لاس ايښی و. وينه يې ورله درولې وه. اتينا ته مې وويل هله،پټۍ راواخله لومړی يې ورله زخم پاك كړ،او بيايې پرې پټۍ ولگوله.زه ورغلم بايكونه مې راخيستل چې اتينا او برياڵی دواړه مې خواته راغلل او پټ غوندې يې وويل "پدوی نورڅه كوو،ولې ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانونه،نه خلاصوو،بې ځايه ولې خپل مرګ پخپله د ځان سره ګرځوو، دوی په ترلو لاسونو مزل هم نشي کولای،اوس به يې لاسونه هم خلاصوې، توره شپه او نا اشنا غرونه دي،هره شېبه ،خطر،خطر دی، او اتينا خو لاراته په غوږ کې داهم وويل چې بريالی!لالا به څه فکر کوي، چاچې هغه دمرګ خولې ته وروغورځاوه،مونږ هغه له پټی لګوو.ورته ومې ويل نو څه وکړو بله لار نيشته

انسان چې روان وي. تګ په پښوکوي خو لاسونه ورسره خوځوي. ددې دپاره چې دخپل بدن تعادل برابروساتي. دچاچې لاسونه ترلي وي. او بياداسې ترلي چې دوه کسه يودبل سره هم ترل شوي وي. ډېره ګرانه ده چې ازاد مزل وکړي.او رښتيا هم ددوی دلاسونو خلاصول پخپله خپل مرګ ته اواز کول وو. زړه مې خيری،خيری کېده. يوځل مې ويل خو پخپله اقرار کوي چې قاتلان دي، وژنې يې کړي.او داتينا خبره هم سمه وه دغه لړه شېبه وړاندې مو پخپله وليدل چې بريالی يې ښکته وغورځاوه،داخوهسې دلوی خدای فضل وکنه له دې کندې نه څوك مړي نشي راويستلی نو دا خولا ژوندی راووت.په زړه کې راوګرځېدل چې بس يولته غواړي. ډېريې دې کندې ته ورغورځولي. بس ته يې هم وروغورځوه-

مالاپدې غورکاوه چې څنګه يې ور وغورځووم، اتينا راغله.په خندايې راته غوږ کې وويل "په څه فکر کوې؟" ته وايې چې ته به هم څوك دې کندې ته ور وغورځوې،دادتبرګي زړه غواړي،ته يې نشې کولی، تاهسې قانون ولوست،ادبيات به دې لوستي وای، شاعري، ليکوالي به دې کوله ستايې له قضااوپرېکړوسره څه.ځان ته مې وکتل" رښتيا هم همدغسې شی وم" دوی ته مې وويل " بس روانېږئ"چې روانېدلو اتينا وويل په تبرګي پسې خوبه داتبرګی وروغورځوم چې ډېر به ورپسې خپه وي ،تبرګی يې ښکته

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي ته وروغورځاوه کړنګا يې کوله او مور ترې روان شو،ګنډېرى او سرکښ راوان  وو خومزل يې نشو کولاى.

له يوه،يوه لاس نه مو ورله زولنې خلاصې کړې. او بیامو دیوه زولنه دبل له زولنې سره دیوګزپه فاصله وتړله. دغسې دهغوی لاسونه ازاد شول. خودواړه يو ځاى روان وو. او که يو په غره کې ښويېدلى واى ،بل هم ورسره رغښته. چې څه مزل مو وکړ. دوى کې د نورتګ شیمه نه وه. پوه شوم چې انرژي يې ختمه ده. له بایك نه مې د انرژي ګولۍ راواخیستې او دوه،دوه دانې مې ورکړې.

زمونږ مزل هره شېبه له خطراو وېرې سره مل و. زمونږ سره يواځې يو لاسي څراغ و. اوهغه هم دبريالي سره چې له ټولو نه مخکې روان و. بريالي هڅه کوله چې دڅراغ درڼاپه مټ لارمالومه کړي خوداموهم ورته ویلي وو چې څراغ دې تل ځمکې ته ونیسي، ځکه چې دغسې يې درڼا دښکارېدو شونتیا لږه ده. خوکه په هوا کې يې رڼا يو لور اوبل لورته درومي بیاله هر اړخه اوله ډېرلرې واټن څخه لیدل کېداى شي خويواځې دغه يوه ستونزه اويوه وېره راسره نه وه، بله وېره داوه چې دسرکښ اوګنډېري يو، يولاس خلاص و، اوزمونږ مزل په غره کې و، توره شپه وه، زمونږ لږ ډاډ کولاى شول مونږ ته ډېرزيان راواړوي. که هغوى يوه يوه تیږه رااخیستې واى او زمونږ سرونه يې پرې ويشتلي واى نو بس کیسه جوړه وه، هم به يې ځانونه خلاص کړي وو اوهم به يې غچ اخستى و. نو دهمدغو وېرو اوخطرونو له امله ډېر ويښ روان وو. يوه فکر چې زه يې دوېرې او کرکې نه ډکو فکرونو ته وړلم هغه دشنوګټودقاضي په نامه ددغه سرخلاصي ټولیزقبرفکرو. په همدې مې فکرونه کول چې دې ته به خداى خبر څومره انسانان ورغورځول شوي وي، اوپدې هم ویرېدم چې هسې نه په دغو غورځوونکو کې خداى مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه مونږ هم شمېرشو، دافسوس او درد خبره داوه چې دمحمدین گل په خبره دا پدې سیمه کې یواځینی ټولیز قبرنه دی، په کیراله کې دوه همدغسې اجتماعي قبرونه دي، چې دکمونیستي رژیم په وخت کې یوه شپه دولتي ځواکونه دکیرالې له کلي نه تاوشول اوچې سهار یې ځوك موندل راوستل یې اوپه بلډوزریې پرې په ژوندینې خاورې اړولې، دهغه په وینا دشنو گټوله قاضي نه لمر پرېواته ته، دلغمان دعلي شنگ دمیل درې په خوله کې هم په یوټولیز قبرکې په لس گونو خلك ښخ شوي دي. همدغه ډول دارگون دپله، دبرکي برك، دبامیانو او دلیلې ددښتې په ټولیزو قبرونو اوعام وژنو سترگې نشي پټېدای دمحمدین گل دغو خبرو مې په غوږونو کې ازانگې کولې چې درزشو، او ورسره په ناوکې کړنگا جوړه شوه، چې ومې کتل دگنډېري پښه دیوې گټې سره لگېدلې وه ده تیندك وخوړ اوگټه ښکته وغورځېده، په ناوکې یې شور جوړ کړ. ماهم ستوروته وکتل پوه شوم چې شپه پخه شوه، دوی به وږي شوي وي، ځکه پښې په ځان پسې راکاږي. اتینا ورله دسارانو چرگانودوه، دوه پتونونه ورکړل، دغه چرگان مو دورځې ښکار اوبیا په انگارپاخه کړه، هغوی ډېرپه مینه وخوړل مافکر کاوه چې یاوږي دي اویایې خپل برخلیك منلی و، پوهېدل چې وژنو یې نه او نور چې هرڅه کېږي شپه یې تر منځ ده. نو ښه ډاډه روان وو. دوی مخکې او مونږ ورپسې.یو،یوبایك مو هم ورکړی و. یواځې تمانچې او کارتوس له مونږ سره وو. چر با نگ و چې له سمه لام نه تېر شو، گنډ ېري اوسر کښ لومړی خپل کلي ته او بیا یو بل ته و کتل په تیاره کې یې سترگې نه ښکارېدې چې د غم او دردسمه اندازه راته لگېدلې وای خوددوی لومړی خپل کلي او بیا یوبل ته له مړ غوندې سر اړولوسړی پوهېده چې سترگو له به یې تړمې او ښکې را غلي وي . زه خپله هم خپه شوم ، فکر مې کاوه چې اوښکې که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ځوانیمرګ ځوی سر ته د ناستې مو ر له سترګو بهېږي ، که د جبري واده په ډولی کې د کښېناستو په وخت د کومې پېغلی درنجوله ډکو سترګونه تویېږي او که د خپل قاتل او مجرم پلار له مرګ نه وروسته د خپلی پلرنی مېنې د ليدو پر وخت د يو مجرم له سترګو بهېږي درې واړه د يو ډول بې وسی ښکارندويه دي . درې واړه ديو ډول اور نه ساه اخلي او درې واړه يو ډول تودې او تروې وي . خو بياهم د انسانانو د عامه خير غوښتنې له مخې مجرمانو ته سزا ګانې ټاکل شوي دي .او که سزا وې له منځه لاړې شي جرمونه ډېرېږي او ډېرى جرمونه پخپله دانسان لخو ا انسان ته يوډول سزاورکول دي نو که سړی په خلاصو مغزو فکر وکړي دې پايلې ته ر سېږي چې سزا انسان ته ورکول کېږي، که هغه يو روغ او شريف انسان ته د يو مجرم لخوا وي او که د قانون لخوا مجرم ته . خودا دويمه ترې کټوره ده ځکه چې لومړی خو پِه انصاف ولاړه ده ، او انصاف د انساني اخلاقو هغه ستره او لوړه پوړۍ ده چې څوك وروړسېدنو "ورسېد" او بله ښېګڼه يې داده چې د غسې د جرمونو کچه را ټيټېږي او د جرمونو د کچې را ټيټېدل د انسان لپاره دسزا را کمېدل دي . زه له دغو فکرونو سره روان ووم چې ومې کتل پوه شوم چې دمټينې خوا او شا سيمې ته رارسيدلي يوو، دا هغه ځای و چې ما او اتينا يکې دمه کړې وه . دسهار د لمانځه وروسته مو ډېر چټك مزل کړی و او يا به داوه چې په مخ ښکته به روان وو خو لا خړه نه وه خوره چې حلالزو ته رانژدې شوي وو. په اتينا،بريالي ، ګنډ بري او سرکښ ټولو مې نظر واچاوه ټول ښه ستړي مالومېدل چې کتل مو مخې ته وړه غوندې کنده راغله .دا سې کنده نه وه چې سړی دې يکې ورك شي خو بس يو ځوړ غوندې و په دغه ځوړ ورښکته شوو چې دشپيلي غږ شو دشپيلي داوربدو سره مونږ ځانونه دخطرسره مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وگڼل. یو خوا بل خوامو وکتل. څه مو ونه لیدل. چې ناڅاپه دکلاشینکوف ضربه ډزې شوې.په دغه ژوروالي کې ښکته وړه غوندې کنده وه ،مونږ ترې همدغې کندې ته ودانگل. زندانیان څه شیبه ولاړوو. بیا هغوی هم راکوزشول. مونږ سرونه ورو،ورو پورته کړل. بیا ډزې پیل شوې. دکندې له سرنه یې دوړې پورته کړې . مونږ ځایونه بدل کړل. بیاموسرونه ښکاره کړل. بیا راباندې ډزې پېل شوې

خوداځل مود ډزو ځایونه مالوم کړل. ستونزه داوه چې زمونږ سره تمانچې وې. دتمانچې او دکلاشنکوف په ډزو کې ډېر توپیر وي. دهغوی له ډزو داسې برېښېده چې لس یادې ته نژدې کسان دي. مونږ دهغوی په اندازه ډزې هم نشوې کولای ځکه چې دومره ډېر کارتوس مونه لرل. په کنده کې مو ځایونه بدلول رابدلول او یو، یو ډز مو کاوه. هغوی پرله پسې ډزې کولې او پوهېدو چې ورو،ورو رانژدې کېږي. مونږ یې دسخت اورلاندې نیولي وو. مرمۍ مو له غوږو سره تېرېدې. شپېلي یې وهل. ماسر جگ کړ. لکه چاته چې مالوم وي چې له همدې ځای نه به دچا سر رااوچتېږي او تیار ماشه په لاس ناست وي، همدغسې د سر داوچتولو سره سمې راباندې ډزې وشوې. ماځان شاته گوزارکړ.

اتینا چیغې کړې چې گنې ولگېدم اودچیغوسره یې رامنډه کړه. ماورته غږ کړ"بچ یم. هیڅ خبره نشته" بیایې چیغه کړه

-" بچ شه"

اود غږ سره سمه او چته شوه،گنډېري له یې په سینه کې یوه کلکه لته ورکړه. دهغه دلاسو نه یوه لویه تیږه پرېوته او ستوني ستغ پرځمکه وغورځېد،ددې سره بیا ډزې شوې. اتینا ځان راوغورځاوه.زما په ورنونوېې شا ولگېده. ماته یې په غوسه وویل"په لستوڼي کې ماران ساتې ،که په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ګټه یې ویشتلی وای. نو څنګه به و، په خوله مې درته وویل چې ځان
ترې خلاصوو،خو نه دې منله"ماهم ورته په غوسه وویل"څه پرې
وکړم،لاس تړلي بندیان راباندې وژنې....؟
په هماغې غوسه یې وویل "دوی اجرتي قاتلان دي،دوی مېلمانه
وژني،دوی تاته دلورینې وړ ښکاري؟"
-"نوکه زه نیول شوي اولاس تړلي خلك ووژنم، زه به دترحم وړیم؟"
غلې شوه. هماغسې مې په ورنونو پرته وه. لاس یې رااوږدکړ. په سینه کې
یې ورو ووهلم او اشاره یې وکړه چې مخامخ وګوره، چې ومې کتل سرکښ
اوګنډېری سره خپلو لاس او ګرېوان دي .یوبل په لغتو او سوکانو وهي"
زمونږ سره یې دننداري وخت نه و،تمانچه مې ورته ونیوله،هغوی هم کلار
شول .ډزې ډېرې شوې وې او شپېه، په شپېه رانژدې کېدې هم . مونږ
پوهېدو چې دوی غواړي ګېره رانه تاوکړي. محاصره موکړي. مونږته مخامخ
یوه وړه غوندې غونډۍ وه. او که دغه غونډۍ هغوی نیولې وای. نوزمونږ
ویشتل ورته اسانه وو. دغونډۍ نه زمونږ پټنځای (مورچل) بېخي لکه
دورغوي غوندې ښکاره ښکارېده. دوی مې پرېښودل او زه په ښویېدو،
ښویېدو په یو-رو کې ښکته روان شوم دېرش،څلوېښت ګامه چې لاړم نور
له مقابل لوري پټ ووم.په منډه،منډه دغونډۍ شاته لاړم او بېرته ورته
راوختلم. دیوې لوې ګټې شاته کښېناسم.په تمانچه مې لرلید (دوربین)
وتاړه اوهغوی ته مې مخامخ کړ. دیوې ونې شاته یو کلاشینکوف واله
ناست و.مخامخ یې ډزې کولې،لږه شپېه مې ورته وکتل،خندا راغله دده
ډزې لکه دړانده دلاس غرګی، بس ویشتل یې کول،نوریې نه کتل چې په
څه،په چااوڅنګه ډزې کوم. پوه شوم چې داله وېرې داسې کوي اوداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلك دوېږي اچولو او خورولو دپاره ډېر په كار راځي. ماهم په ښي مټ وویشت، فكر كوم لاس یې مات شو.ټوپك یې وغورځوو اوچیغې یې كړې. ځنګ ته دیوې ګټې شاته بل پټ ناست و، سر یې نه ښكاره كاوه. خو په لاس یې ده ته اشاره كوله چې دلته راځه. په هغه مې ډز وكړ. لاس یې خطاشو،خوایې ولګېده. اونوریې منډه كړه.یو بل خطا ډزمې هم پرې وكړ. بس نور مې پرېښود ماویل دایې بس دی. بېرته مې نظردزخمي خواته راواړو. دهغه خواته بل كس راغلی و. دایې راپاڅاوه. روان یې كړ. ماپرې ډز وكړدپښو منځ مې ورله وویشت.هغوی هم په منډه شول. ماویل ځه دوی هم دتېښتې لپاره دلیل لري. نور نه راګرځي. زه پوهېدم چې جنګونه په دوه ډوله دي. یو مقدس جنګونه دي. چې دسپېڅلو ارمانونو دپاره كېږي.پدغو جنګونو كې كارېدونكی ځواك له روح سره تړاولري، وجودونه پكې په خوړونه پوهېږي او دردونه یې خوندلري.
دشوروي سره په جهاد كې ډېروافغان ځوانانو لوی وېښته پرېښودل اوویل به یې په جهادكې چې سړی زخمي شي، سرې وینې یې په وېښتو ورو،وروبهېږي ډېر ښه خوند كوي. داځكه چې دغه مقدس جنګ و. دیو سپېڅلي ارمان دپاره و. او پورې تړلي دردونه هم خواږه و. بل ډول جنګ همدا وچې زما مقابل لوری پكې راښكېل و. دچاسره راغلي و. ددې دپاره چې یومجرم وژغوري .پدې كې ددوی تښتردل لازمي خبره وه ،ځكه چې ددوی جنګ ددوی له عقل اودماغوسره تړاولري نه له روح سره، زه په خپل ځای ناست وم.
یو،یو ډز مې كاوه. او له هر ډزسره یو، یوكس تښتېده.
خوچې وبه تښتېدل له یوه كندوه اوښتل، كندو د ځېړی غوړاځكي، ممانو او ګورګورو په ونو پوښل شوی ؤ. مابه چې ځومره هڅه وكړه، اخوا به مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك نه ليدل، نو فكر مې كاوه چې له دې ځايه څوك په منډه زغلي بيابه د راټينګېدونه وي خو فكر كوم چې هلته هم ورسره داسې څوك ؤ، چې دوی يې راګرځول او جګړې ته يې هڅول يو وخت ؤ چې دشالخوا راباندې ډزې پيل شوې، زه چې دكومې ګټې شاته ناست وم، دهغې بل اړخ ته راواووښتم، چې ومې كتل درې كسه مې شاته راتاو شوي دي. ما ځان غلی كړ، پدې فكر چې كېدای شي دوی د څه شېبې لپاره پرله پسې ډزې وكړي بيا پسې ساړه شي نو هله به پرې زه ډزې كوم، خو زما دغه فكر سم نه و ځكه چې هغوی ماله د ارام كښېناستو وخت رانه كړ د بل لوري نه هم راباندې ډزې پيل شوې، چې شاته مې وكتل په اتينا دوی هم ډزې دومره ډېرې وې چې دوی ته يې هيڅ دسر جګولو وخت نه وركاوه او حمله كوونكي پرله پسې د دوی په لور را وړاندې كېدل،چې ځانته مې فكر شو نورماته هم دكښېناستو او پټېدو كوم ځای نه و راپاتې، يوې وړې غوندې تيږې ته اوږد، اوږد پروت ووم نور كه دغه ځای كې پروت پاتې كېدم نو هم زما ژوند په خطر كې و او هم داتينا او بريالي،له دې ځای نه ډزې هم نشوې كېدای كه ډزې مې كولې پكار وه چې پاڅېدلی وای او پا څېدل دمرګ په مانا وو بله لار راسره نه وه، پرېكړه مې وكړه چې پاڅېږم، لومړی مې غلي، غلي دهغوی دپټېدو ځايونه مالوم كړل او بيا پاڅېدم. بېخي حيران شوم، ګورم چې پر هغوی دشا له لوري نور وسله وال خلك راغلل او ډزې يې پرې وكړې دوی مخونه هغوی ته وګرځول زه ترې خوندي شوم ما اتينا دوی ته وكتل، ګورم چې په هغوی چا مخكې ډزې كولې اوس ورته هغوی شا راړولې ده، او دنورو سره په ډزو لګيا دي مونږ هم ورسره ملګري شوو، نوې راغلې ډله مو اسماني مرسته وګڼله د لږې شېبې نه وروسته بريدكوونكي نور وتښتېدل ، دوه كسان چې ډېر مخكې راغلي وو پاتې شول يو يې بريالي پداسې حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ونیو چې له نورو سره په ډزو اخته و اخیر یې بل ملګري هم پښې
سپکې کړې.
نیول شوي کس ته چې مې لاسکړۍ(زولنې) ورواچولې، بریالي په شا یو ډب
ورکړ
- ورته وې ویل "مخکې شه! خدای سره یوځای کړئ"
دبریالي نه مې پوښتنه وکړه چې ته یې پېژنې؟
وې ویل" داسورمنګول ملخی دی کنه".
بریالي ته مې وویل
-"زمونږ سره داچامرسته وکړه،که دوی نه وای راغلي مونږ خو په تمانچو
دکلاشینکوفونو او راکېټونو مقابله نشوه کولای" وې ویل
-"هغه دی، له کنډوه څوك راواوښتو،وګوره څوك دی؟"چې ومو کتل اسلم
کاکا و.یو بل کس یې لاس ترلی راروان کړی و.پنځه،شپږ کسه ورپسې نور
هم راروان وو،بریالي وویل
-"کار وشو،دالاس ترلی میری دی"بریالي ته مې وویل "څو قدمه به مونږ
ورشوو" ورغلو اسلم کاکا ته مې وویل
- "ته څه خبرشوې چې مونږ په سخته کې ګېر یوو" لومړی خو مافکر کوو
چې ځواکمن او تبرګی سره اوس هم خپلو کې وران دي او دوی به دبل چا
بانډې ته تللي وي خو ما څه وخت وړاندې څه کاڼي ، ماڼي جرمني ته وړي
وو، کلي کې نه وم، په دغه وخت کې ددوی جوړه شوې ده، دې هم
اندېښنه راچولې وه غوښتل مې ستاسو له احواله ځان خبر کړم او بل،
ستاسو دنیولو لپاره لارې ویشل شوې وې،دابرخه زما رسېدلې وه، ما
تاسو تر یوه ځایه څارلئ،نوره راته داسیمه بې خطره ښکاره شوه. زه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنه لاړم لړه شېبه وړاندې مې ډزې واورېدې، بس ځان مې راورساوه.ماورته په خندا وويل

"نو تاته زمونږ دنيولودنده درسپارل شوې وه که زمونږ د ساتلو؟"

- ټکورجانه!دنيولو دنده دې وروسته راوسپارل شوه،لومړى دې دساتلو دنده راسپارل شوې وه،ځکه چې که تاسې مې نه واى ژغورلي دهغوشين سترګو راتلل دلته حتمي وو اوکه هغوى راغلي واى نو زمونږ دپښتنې سيمې ستر به مات شوى واى.

- "خوکاکا! يوبل څه هم وکړئ"

- "څه وکړو؟"

- "پدې پښتنه سيمه کې خو دابې پښتومرګونه مه کوئ،ولې پکې زه ويرېدم،پرېږدئ چې دنوروسيمو او نړۍ خلك ورله راشي،سيل يې وکړي،زمونږ دژوند او کلتور نه خبرشي"

- ملخي ته يې اشاره وکړه"دداسې بې غېرتو يوه،يوه ډله به ترې ختموو،که خداى کول زربه پاك شي،

- له ختمولو نه يې تېرشئ،ژوند ور وښيئ چې دخپل ژوند پايښت دبل په نابودۍ کې ونه ګوري.

- ددې دپاره يو ډاډپکار دى، يوداسې څه پکاردي چې د دوى سترګو ته وبرېښېږي او دوى پوه شي چې دچا په مرګ کې نه، په ګډژوند کې يې ګټه ده بيا يې وخندل خبره خو دچا غوږونو ته رسولى شې که دې سيمې ته سړك جوړشي او په ټول ګټو پروژو فکر وشي چې دابېر ځنې ورته دغرونو نه راکوزشي نو فکر کوم چې مونږ به ژوند زده کړو،مونږ په زده کړه کې له هيچانه کم نه يو،زه فکر کوم چې دا سيمه هم داسې کېداى شي چې نه پکې مېلمه ووېرېږي او نه کوربه،بيايې ملخي ته وويل "ځان دې دخير

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډۍ ته خېژولی و دمجرمانو دخلاصولو دپاره دوسله والې حملې شاهيدي
به در باندې زه کوم"،بيايې سرکښ ته چې لکه دبت غلی ولاړ و،وکتل او وې
ويل"او دنورو وژنو گواهي به درباندې سرکښ وايي"
- ماورته وويل"يو مجرم به په بل څه شاهدشي"
- ټکورجانه! پښتانه يو،دسرکښ پلار مړدی وروربه يې دولت ته وسپارو،
گرم يې پلار او ورور و،دی خولا تنکی الك دی او که تبرگی هرڅه وده
خوپلار و څه دعا،فاتحه به يې واخلي او زمونږ هم کليوال و دفاتحې دځای
متره کېدل يې نه غواړو.
- ورته ومې ويل"سمه ده ستا چې څنگه خوښه وي.
-په اوږه يې راته لاس کېښود،بيا نو تاسو داسې لنډ حلالزو ته ووځئ لس،
اته دقيقې مزل دی بيا هلته گاړي پيداکېږي،او زه به په دې خوړ،خوړکې
داشرمېدلي تر ولسوالۍ ورسووم.
- ماويل سمه ده!خودبېروجو دايو قلم به دڅو افغانيو وي؟
- په يولك لس يې رانه غوښتی و.
- بيانو دايو ورسره واخله او څارنوال ته يې ورکړه.
- په غوسه شو"ولې څارنوال ته بډې ورکوې؟"
- نه! ورته ووايه ديو پنځه پنځوس زري پرځای "ډبل" واخله خو چې داځل
مجرمان پرېنږدي.
-وې خندل ،کانې ته يې لاس را اوږد کړ او وې ويل"خير دی دځوی واده يې
و څه به يې کړي وي"بيا مې هغه ترون ليك هم ورکړ چې د دلاور او تبرگي
دوی ترمنځ په کې سودا شوې وه .ملخی په کې د سودا ضامن و د د لاور
لاسليك او د دوی گوتې پرې لگېدلې وې دا هم له همغه څيرې جاکټ نه تر
لاسه شوی و،چې مونږ فکر کاوه له دلاور نه په چاړه وهل شوی او ويستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی دهغه سره مې ورکړ او ورته ومې ویل دابه هم دشیگل څارنوال ته ورکړې چې روغ ثبوت دی اودلته څه پیسې هم دې چې د دلاور مېرمن ته یې ورسوي.

اتینا په خبره کې راودانگل .

"پیسي مه ورکوه"

"ولې! بیایې ورته څوك وړي."

"زه یې خپله وړم،غواړم یوځل بیاهغه خوږه مېرمن ووینم ،زمونږ یې ډېر قدر،مدار کړی"

مونږ لا په دې ورکړه راکړه کې وو چې بریالی وویل "هغه گوره په کنډو څوك راواوښتل" چې وموکتل دلا ورور ؤ ،شپږ کسه نور هم ورسره وو اسلم کاکا خپلو کسانو ته څه اشاره وکړه، هغوی گټو ته پریوتل. ماورته وویل نه ! دوی دوستان دي ، دښمنان نه دي - اتینا وویل ټکوره د ځان ساتل ښه دي ، اوددې سره هغه او بریالی له گټو شاته شول او ځان یې حملې ته تیار کړ دد لاور ورور سره راغلي کسانو هم مورچلې ونیولې او دی پخپله زمونږ خواته راغی زمااو اسالم خان کاکا سره یې روغبړ وکړ،بیا یې وویل "زما دښمنان ماته وسپارئ"ماورته وویل "داسې نشي کېدای ته که دهغوی سره کومه ستونزه لرې د قانون په وړاندې یې ورسره اواره کړه دوی مونږ دولت ته سپارو "

- دولت ته به یې نه سپارئ ماته به یې سپارئ

- تاته به یې ولې سپارو؟

- زما پرې پور دی!

- اسلم کاکا ورته وویل"خود ډاکټر خبره سمه ده مونږ یې دولت ته سپارو ،ته ورسره هلته خپلې شخړې اواروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه وویل که ماپه دولت شخړې اوارولی ،دوی دا دومره وخت په کورونو کې نه ووناست
- نوڅنگه یې ورسره اواروې ؟
- په خپل مټ یې ورسره اواروم زما ورور ددولت سړی نه و چې دولت به یې ترې غچ اخلي
- ماورته وویل ! دولت غچ نه اخلي ، دولت انصاف ورکوي.
- انصاف دادی چې یا یې ماته وسپارئ، اوکه ماته یې نه سپارئ بیا یې ببرته پریږدئ چې خپلو کورونوته لاړشي،زه نشم کولی چې دوی ته له زندانه تر راوتو پورې صبروکړم.
- اوکه مونږ ووایو چې پدې کې به مونږ یوه هم ونه منونوبیا؟
- نو بیا به په همدې میدان فیصله کوو، چې تاسویې بیا یئ که مونږ ....؟
- اسلم کا کا ورته وویل "په دوی یواځې سته پور نه دی باندې ،ستا دورور سره یې یوبل ملگری هم وژلی
- دهغه ورونه هم راسره دي، او ددې سره روان شو
- اسلم کاکا پسې غږ کړ - وروره مونږ ستاپه ستونزه پوهیږو خوته ورشه دملگرو سره دې هم خبرې وکړه ، داهم دود نه دی چې مونږ دې څوك تاته لاس تړلي دروسپارو
ماورپسې غږ کړ ، "اویا دې مجرمان ببرته پرېږدو"غږ یې ونه کړ غلی روان و.اسلم کاکا ما ته اشاره وکړه ،چې ځان پټوه اوبندیان یې له ځان سره کندې ته کړل.زه هم دیوه کمر شاته شوم،ډزې پیل شوې،نژدې پنځلس ملټه له دواړو اړخونو ډېرې تېزې ډزې وشوې ،بیا ورو،ورو زمونږ اړخ کمزوری کېده څه شېبه وروسته زمونږ له لوري دکلاشینکوف ډزې ببخي ورکې شوې،یوازې داتینا او بر یالي د تمانچو یو، یو ډز راته ،شکته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل د اسلم کاکا یو ټوپکوال په خوړ کې دشیګل په لور په زغاسته دی،په خویېدو،خویېدو داتینا خواته ورغلم چې زمانه لږ لرې دیوه کمر له شانه یې دېز غږ راته ،هغه مې په اندېښنه وپوهېده،زر یې وویل" اسلم کاکا مې له بندیانو سره رخصت که، مونږ به یو ځو شېبې نور هم دوی اخته وساتو چې هغوی لږ لرې وزي"ما ورته وویل"او سر کښ څه شو؟""هغه یې ازاد کړ ومې لیده چې پورته وتښتېد"لږه شېبه مو یو،یو ډز کوو چې دبر یالي ورور مې د غونډۍ په سر ولید چې ښکته کوزېده ،لکه چې دبندیانو دپټېدو کنده یې تشه لیدلې وه،ډزې یې بس کړې اوټولو دشیګل په لور په خوړ کې منډې کړې.مونږ را ولاړ شو ،اتینا وویل"ځه اوس یې نشي نیولی"

بریالي وویل"راځئ چې ځو وروربه مې انتظار کوي، په ټلېفون مې ورته ویلي چې موټر دسړک تر وروستي سر پورې راولي.

رښتیا هم مونږ په لس دولس دقیقو کې تر سړک پورې راورسېدو، ګاډی ولاړو.زه اواتیناوروسته او بریالی مخکې کښېناست ، اتینا ته وکتل تندی یې تریو وو ،پوښتنه مې ترې وکړه "ولې؟"وې ویل" په چا به باور وکړې،دایې خپل ورور و،نه یې غوښتل دورور قاتلان یې سزا ووینې"ما ویل "پوهېږې چې ولې ؟" خو دده نوم به پکې راته ځکه "ورته په خندا شوم "نه ساده ګلې!په پښتو کې دې دا متل اورېدلی چې وایي "سر له یې دتندر اوبه ورکړي"دا همغه دتندرد اوبو زور دی اودا اوبه یواځې ده نه دي ورکړي دا تبی(داغ)دهر پښتون مغزو ته شوی ،دتندر داوبو دې تبي ته زمونږ یو مشر شپون صیب چینجی وایي چې دهغه په وینا دپښتنو په مغزو کې دی ته چې یې هرڅه ګنې خو همدغه بلا ده چې پښتون له نورو قومونو نه جلا کوي،دپښتون ددې ټولو بد مرغیو،چې ته یې دسر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترگو وینې لامل هم همدا دتندر داو بو تبی دی،په خندا شوه" اوته چې زما دپاره او بریالی لالا سته دپاره ځان دمرگ کومي ته ورکوي هم تر شا به یې همدا بلاوي"ما ورته وویل"او اسلم کاکا هم زمونږ سره همدې بلا ملگری کړ، یوازې پدې چې ددرې ستر یې مات نشي"وې ویل "نودې بلا ددلاور په ورور ڠنگه دخپل ورور قاتلان ازادول؟""ددې دپاره چې دی یې پخپله مړه کړي،ددې بلا غوښتنه داده چې غچ به دبل په لاس نه اخلې"په خندا شوه،"ښه! ده چې زمونږ سره همکاري نه کوله ددې دپاره چې مونږ به یې دده له "ښې"نه وباسو"ماویل "هو! (غوږ کې مې ورته وویل )خو ماته همدغه بلا وایي چې ښه کلکه کله دې وچیچم"بهر ته یې اشاره وکړه چې ومې کتل دبریالي دوی کلي ته را رسېدلي وو،ست یې وکړ چې ورسره پاتې شو.خو مونږ ترې اجازه غوښته وې ویل

"نو چرته ځئ،خو سبابه له همدې ځایه باجوړته لاړشئ،ددلاور دوی کورته به پیسې نه وړئ ڠه" اتینا غلې شوه،دبریالي ورور وویل

"هغوی خو اوس هلته نشته " بریالي ترې پوښتنه وکړه

"چرته تللي؟"

"دپاکستان حکومت له باجوړ نه ټول افغانان پاڅول،هغوی خو دکندز دارچي وو هلته تللي دي"په زړه کې خوشحاله شوم،بریالی غلی شو"ښه سفر" لاس یې راکړ دی او وروریې دواړه دموټر نه کوز شول ،زه گاډي ته کښېناستم،اتینا مې ترڅنگ کښېناسته اوبېرته راستانه شو. چې دشیگل ولسوالۍ له راغلو ورته ومې ویل"رښتیا په لومړۍ ورځ چې دلته راغلي وو،تا برگوته وکتل اودلرگو په شمېرلودې پیل وکړ،لرگي دې ولې شمېرل"په خندا شوه.

- ستا دپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څنګه زما دپاره؟
- مخ مې پورته و،ماویل چې څوشپې خوند واخلې.
- یوه شپه خوند به اوس راکړې؟
- ولې نه !بیاپورته وګورم؟
- نه!یوه خوله راکړه.
- په پښتنو کې ستاغوندي بې شرمه نور شته،(په خنداشوه)که دا بې شرمه کړی هم هغې بلا یې؟
- دهغې بلا یو خوی دادی چې دسړي نه صبر اخلي.
- په خنداشوه "دروغ"
- "څه "
- هغه شان موسکۍ وه "دروغ"

زر مې ټلېفون ته لاس کړ دکور شمېره مې ووهله مورمې ټلېفون اوچت کړ، چې زما غږ یې واورېد په مینه یې وویل
-"شکر چې غږ دې اورم" ما ویل
-"مورې! جینکۍ دې راته ډېرې رېنۍ، بوڅۍ کولې، زما دتر کیې واله خدای راکړه"
-"وی ځویه! انګور خو داسې خوند کوي چې چجوش (چای جوش) له شنه چای نه را ډك کړي، څنګ ته دې کېنې، او ورو، ورو درسره مشغولېږي، زه به دې دترکۍ په ژبه څه پوه شم" ما ویل مورې
- "ستانه هم ښه په پښتو پوهېږي او زمانه هم، که نه یې منې داده خبرې ورسره وکړه " او ټلېفون مې ورکړ دمورغږ مې نه اورېده خو اتینا وویل - "مورې! سلام"

(c) ketabton.com: The Digital Library



-"ځان ډېره نیك مرغه ګڼم چې ستاسره خبرې کوم، ټکور چې درسره ژومره لېونی عشق لري همدغومره یې در باندې زه هم په نالیدلې مینه کړې یم"

-"رښتیا وایي ترکۍ یم"

-"دده نه"

-"تېر لس کاله مو سره یوځای تېر کړي"

-"په کونړ کې یو"

"هو،رضایم،بس مورې دا لېونی به مې په نصیب و"

"جوړه پېژنم، دناوې کورته چې یې وړئ، خو زما کور دلته نشته"

"مورې! تا چې راله څه واخیسته، هماغه زماخوښ دي"

"نن به کندز ته راشئ"

په خندا شوه "ښه! په سودا پسې"

بیایې ټلیفون راکړ دمور غږ له خوښۍ ډك و "واده کله غواړې"

-"(په خندا) دخیر کار دی که نن کېږي سباته یې ځله پرېږدې"

-"هغه هم په خندا شوه"حوشحالي اوږده ښه وي سباته به یې پرېږدو"

-"ستا چې څنګه خوښه وي"

-"خدای مو پخیر راوله"

او ټېلفون یې بند کړ ما هم ګاډي له پونده ورکړه دکونړ او جلال آباد په سړك دجوړولو کار روان و او مونږ ته یې ګټه داوه چې اوار شوی و له جلال آباد نه ترسروبي پورې خو په مزل هیڅ پوه نشو سیلۍ به له ګاډي دوړې نه وې وړې چې سروبي ته راورسیدو، له" لته بند، هر وخت بند" نه خومې زړه چاودلی و په ماهیپر مې راسیخ کړ. دسروبي له بازارنه راپورته د نښترود بڼ څنګ ته پولیس ولاړ وو د درېدو اشاره یې وکړه، خو اتینا ورته له وړاندې موسکۍ شوه، لاس یې ورته اوچت کړ، پولیس هم څنډې ته شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مخ راواړو ، وې ويل "رښتيا هم چې ښځو ته ډېر په درنه ګورئ" په زړه کې مې وخندل چې ورېې يوه،له تنګي چې راواوښتو ، لار بنده وه، يو نوی پلګی جوړشوی و او دواړه اړخونه يې لا له نور سړك نه جلا وو څنګ ته يې لويه کنده وه خوښه داوه چې اواره وه په هغې مې موټر راواچاوه مخکې ايسه مې ورله فعاله کړه په خوارو راووت. له کابل نه تر کندزه نوسړك ښېخي لکه شيشه اوارو، خو بياهم تره غونی ماښام کندز ته ورسېدو، شپه موپه رحمان الله وروړه، پخوامې څه وخت په کابل کې دنده لرله،زه او دی سره يوځای وو،په يوه خونه کې اوسېدو،اودواړه داکبر باچا لټان وو،چې مېلمه به نه و راپېښ شوی دشپې ډوډی مو نه خوړه،ځکه پخول يې راته يوه بلاوه او هوټل ته تلل بله، روژې به مو په نهره نيولي .دی کم خبری و خو ديو ښه دوست ځای پرې ډکېده خانه آباد بندر کې يې کوچه شکر کې چې مابه ورته" "دخوړو کوڅه" ويله کور و بس له پاخه سړك نه مې په همدغې چکړې کوڅې موټر ورتاو کړ ورمو و ډباوه دی خپله راووت، اتينا ته يې وويل

-"خورې! ته دننه لاړه شه" او مونږ حجرې ته لاړو کورته مې خبر ورکړ چې زمونږ شپه په کندز کې ده دشپې مې دوی ته هم ټوله کيسه وکړه دواده، زېری مې هم ورکړ. پلارېې دکندز په تاريخ راته غږېده ويل يې نايب الحکومه شېرخان ناشرد کندز نقشه د ډهلي له زاړه ښاره راوړې وه،دکندز په پسلونو او کرهڼيز ارزښت هم راته وغږېد، چې ولې کندز ته د غلو کندو وايي. دشپې تر ناوخته درحمانالله سره چې په حجره کې راسره پروت و، مشغولېدم، بياويده شوو ، دسهارچې اته بچې شوې نوره مونږ دتګ تا بيا نيوله چې بهر کوڅه له موټرو ډکه شوه چې ومې کتل ورورمې و لويه ورا (جنج) يې راوستی ؤ،کوربه مو ټول مېلمانه راوستل، ميوې يې ورته مخې


www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کېښودې ماته یې وویل "جامي دې واغونده" چې لمباځای ته ورغلم نوې جوړه ځوړنده وه وامې غوسته، دګلونو یو هارېې را په غاړکړ څه شېبه وروسته اتینا یو ځل بیا په څادر کې پوښل شوې اودرحمان الله مور له مته نیولې راښکاره شوه. اتینا چې ګاډي ته وختله ده خپلې مورته وویل "مونږ په خپل ګاډي کې لاړشو ماته یې وخندل" "غوږ کې یې راته وویل" بېګا هم سره بېل وئ، ددې وخت دا پټې خبرې ډېر خوند کوي" دواړه د ګاډي وروستي سیټ ته وختو، ورور مې ګاډی روان کړ دکندز له ښاره چې ووتو، په یوګوټ پېرورتاوشو، مخې ته دښته راغله، په دښته کې ښي لاسته راون شو څه شېبه وروسته غونډۍ مخې له راغلې، داسې غونډۍ چې خلاصېدن یې نه ؤ، او داسې اوارې لکه هګۍ چې په کومه موټر وربرابر شو، پرې خېژه، او بېرته دزړه دیوې یخې هوا سره لکه دسرکس زانګو اوار کوزېږه، ورور ته مې وویل "زه خو مخکې پدې لاره نه ووم راغلی، وې ویل "ته دامام صیب په لاره راغلی وې، ار چې خپله لار هم لري، خود بمونو وېره پکې ده " اتینا وویل "کاش دولت مودومره وس لرلی چې پدې کې یې څنګل جوړ کړی وای، ټوله خاوره ده" زه ورته موسکی شوم، چې زمونږ پټې له تندې وسوځېدل دا راله ځنګلې شنې کوي. نژدې یونیم سات مو په غونډیو کې اله ډینګ (اندرچو) وکړ چې دارچې شنو ځمکو ته ورسېدو اتینا وویل "لکه چې دارچې دښته داده" ماویل "څنګه دې وپېژنده" وې خندل "رښتیا هم ډیره شنه او اواره ده،" (بیا یې وخندل) خو تا ویلې وو چې په ترکیه کې داسې ځمکه نشته" په خندا مې ورته وویل "نه یې منې؟" "که دا اوبه پرې راډېرې کړئ درسره وبه یې منم" څه شېبه وروسته دارچې بازار ته ورسېدو اوبیاله هغه ځایه په لمر پرېواته،ته له څه شېبه مزل وروسته دکلا په دروازه ورننوتو وړوشور او ګډا شروع کړه او په موټر له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې خوانه دګلونو اومېوو باران جوړ شو کومې ښځې بل کړی لالټین اتینا ته لاس کې ورکړ، یوې یو هلك غېږکې ورکړ، بلې ورته یوه پیاله شیدې راوړې، یوې شیطانې پرې اوبه راشیندنې چې سمې نیمې یې زما په سر واړولې، مورمې چې ښکلولم دسترګو په دواړو کونجونو کې یې اوښکې غوټه شوې وې، ما دهغې په سترګو کې لکه دشبنم غوندې پاکو رڼو اوښکو ته کتل چې چا ورته غږ کړ "دځوی په ننداره یې راشه، وایې څه ورکوې" چې مخ مې واړووو، اتینابیادرحمان الله مور له مټه نیولې وه، دکوټې دروازې ته ولاړ وو، مورمې ورمنډه کړه،

-" څه چې ددې خوښ وي"

-"نه! مالوم یې کړه" په خندایې ورته وویل

-"ته یې ورکړه، څه چې ستاخوښ وي"

-"ماته خودنغري او دتناره دسر خیر، خیرات ښه ښکاري، د اخرت ګټه ده "

-"دهغې دربېمه مې هم ورکړې اوهاغه برګۍ غوا هم"

بیا ننوتل زه بهرراووتم، دېګونه باندې وو ، مېلمانه تلل راتلل، پلارته مې ورغاړه وتل، څه یې ورته ویل او هغه ماته ګوته نیوله خو زما تادي وه، په زړه کې مې ویل چې اوس زر، زر شپه شي، دا ورځ لکه د پهرې (څوکۍ) دشپې غوندې اوږده شوه، ماسختن نکاح وتړل شوه، بیا پسې دکلي هلکانو اتڼ پیل کړ، دشپې ترناوخته اتڼ روان ؤ بیاغلی غوندې دخپلې کوټې په لور وخوځېدم چې په وره ننوتم، اتینا راولاړه شوه، موسکۍ شوه، وې ویل "پخیر راغلې"

سره ددې چې څومره ورسره بلد ووم، بیامې هم زړه درېبده، ورته موسکۍ شوم، سرمې ورته وخوځاوه. دشیدو پیاله یې راوړاندې کړه خولې ته یې راله ونیوله، نیمه ما وڅښله، بیا مې دهغې سرو شونډوته وروړه، پاتې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې وڅښله. دخبرو دپيل په سريزه پسې گرځېدم، فکر مې کاوه، هيڅ
خبره مې له خولې نه راختله، هغه راباندې وپوهېده، وې ويل
"دا د الماسو هار مور، راکړ، او داټيکه، چارگل اووالۍ ستاد دوست مور
راکړې،بېگا چې مو ورسره شپه وه، څومره خواږه خلك وو، مېرمن يې راله
لاسونه په نکريزو سره کړه،ويښته يې راله جوړ کړه،خالونه يې راله
ووهل" مايواځې وويل
-" ښا، ډېر ښکلي دي"
نوره مې دزړه پخوانۍ درزا په يوې بلې درزا اوښتې وه،پوهېدم چې په
رگونو کې مې څه اورغوندې زغلي رازغلي،هغه بيا موسکۍ شوه،
وې ويل
"رښتيا دبريالي مېرمن دلته واده له راغلې وه، هغه پيسې مې ورکړې" بيا
موسکۍ شوه،
نور مې صبر ونه شو، ښی لاس مې ور اوږد کړ،له وربل نه مې راونيوله،رنگ
يې سور شو.
"څه کوې؟"
" پيل به يې په سنتو وکړو"


www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**